
مکمل او مدلل

د قدر او برات د شپې مسئلې

د قرآن او سنت په رڼا کښې



مؤلف:

مولانا محمد رفعت قاسمي

مدرس دار العلوم دیوبند

خپرونکي

مکتبه رشیدیه

سرکي روډ کوټه

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم: **دقدراوبرات دشپې مسئلې**
مؤلف: مولانارفعت (قاسمي)
پښتوژباړه: عبدالرحیم (غیاث)
دکمپوز اوترجمې چارې: دنورالقرآن اداري دترجمې اوکمپوزځانګه
کمپوزر: عبدالله(عزام)
تصحیح اوسمون: ابوخالد مولوی عبدالاحد(مجروح)
خپرونکي: رشیدیه کتاب خانه سرکی روډ کوټه
چاپځای: لاهور
چاپ شمیر: ۱۵۰۰ټوکه
چاپ کال: ۲۰۰۷ فبروری میاشت
چاپونکي: محمدساجد/دګرزنده ټیلفون شمیره/۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴

ضروري يادونه:

يواځې لوی خدای ﷻ هغه ذات دی چې .
ټول کارونه ئې په پوره معنی بشپړ او مکمل دي خو انسان هغه ناقص او بې توانه موجود دی چې هیڅ یو کار ئې هم بې نمګړتیا نه وي.

ګرانو لوستونکو! که تاسو ته دلیکنې، تصحیح، چاپ، جلد سازي او دارنګه په هره برخه کې کومه غلطي په نظر درغله د مهربانۍ او بشري تقاضا له مخې یې موږ ته زموږ په نمبر یا ادرس خبر راکړئ. تر څو په دوهم چاپ کښې ئې اصلاح کړو. او تاسو ته لوی خدای ﷻ اجر او ثواب درکړي.

د مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه لخوا
فون: 266223 -081
موبائیل: 7825484 -0333

عنوان	(ا)	مخ

دتسمي وجه ۸
دشعبان (حروف) توري ۸
دشعبان قدر او ارزښت ۹
برات او داصحاب کرامو کړه وړه ۱۰
غوره انتخاب ۱۰
دبرات دشپې فضیلتونه ۱۲
دبرات دشپې ځانګړتیاوی ۱۳
دامتحان نیته ۱۵
دبرات شپه څه ده؟ ۱۷
دجبرائیل علیه السلام راتګ ۱۸
دبرات شپې ولې مبارکې او سپیڅلې دي؟ ۲۰
دبرات په شپه کی دخدای جل جلاله نظام ۲۱
دملائکو اخترونه ۲۲
دمرګ او ژوند پریکړه ۲۲
په کال کي منظوري شپې ۲۴
دغوښتنې و راندي کولو وخت ۲۵
دغوښتنې مضمون ۲۶
دقدر دشپې دپټوالي حکمت ۲۸
دبرات دشپې دښکاره والي حکمت ۲۸

عنوان	(ب)	مخ

وېښنوالي څوارلس شپې ۲۹
هره شپه دقدر شپه ده ۳۰
دبرات په شپه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل ۳۲
دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها بزرګي ۳۴
دخدای جل جلاله دنظام سپکاوی ۳۵
دشپې په کومه برخه کې پورته کیږئ ۳۷
دشیطان دوکه ۳۸
په مبارکه شپه کې ګناه کول ۳۸
ددې شپې ګناه ۳۹
دالفیه لمانځه حقیقت ۴۰
دبخښنې په شپه کې هم بې برخې توب ۴۱
دبې برخې خلګو لست ۴۲
کینه څه ته وائي ؟ ۴۴
صله رحمي قطعه کول څه ته وائي ؟ ۴۶
تر پنډیو لاندې دپایڅو ځړول ۴۷
دسپې شرعي حکم ۴۹
دتصویر شرعي حکم ۵۱
دنجوم علم ۵۲
دشراب څښلو حکم ۵۳
دغیبت کونکي حکم ۵۳

عنوان — (ج) — مخ

دمورا و پلار دنافرمان حکم ۵۴
دشعبان دروژې ثبوت ۵۵
دبرات دشپې دروژې نیولو وجه ۵۷
دښخو دنفلي روژو حکم ۵۸
په عبادت کې ولې خوب راځي؟ ۵۹
په عبادت کې دخوب ندراتللو طریقه ۵۹
دپورته کیدلو طریقه ۶۰
دشریعت مقصود ۶۱
په مبارکو شپو کې په مساجدو کې اجتماع ۶۲
نفل لمونځ په کور کې افضل ده ۶۴
په مبارکو شپو کې مسجد ښائسته کول ۶۵
داتش بازی تاریخ ۶۸
داتش بازی حکم ۷۰
له یاجوج او ماجوج سره مشابهت ۷۱
داتش بازی نقصانات ۷۱
دبرات په شپه و هدیرې ته دتللو ثبوت ۷۳
ایا ښځې دمرو زیارت کولاشي؟ ۷۳
ایا دمړي روح کورته راځي؟ ۷۵
و هدیرې ته دتګ اداب او احکام ۷۵
و هدیرې ته دتللو مسنونه طریقه ۷۷

ايامړي زيارت کونکي پيژني ؟............ ۷۸
دثواب درسيدوضروري مسئلې............ ۷۹
دبرات دشپې رواجونه............ ۸۲
دبرات په شپه کي حلوى پخول اوخوړل............ ۸۴
دبرات په شپه کي نيک عمل............ ۸۵
دبرات دشپې خاصې دعاوي............ ۸۶
دقدر دشپې لويې............ ۸۸
ديوه سوال ځواب............ ۹۰
ايا په ټوله دنياکي دقدرشپه يوه وى ؟............ ۹۰
دقدردشپې معنى............ ۹۱
دقدرشپه څه ده ؟............ ۹۲
دګنې شپه............ ۹۳
دملائکوراتګ............ ۹۵
دقدردشپې دنامعلوم والي سبب............ ۹۶
دقدردشپې دپټوالي راز............ ۹۸
دقدردشپې علم نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته ورکړل شوى وو............ ۱۰۰
ايادقدرشپه اوس هم باقي ده ؟............ ۱۰۱
بدنصيبه څوک ده ؟............ ۱۰۲
څه معلومه ده چي دشپې داخيري برخه به شب قدر وي............ ۱۰۳
دخداى تعالى حکمت............ ۱۰۴

دقدر شپه کله راځي ؟ ۱۰۴
اووه عدداوقدرشپه ۱۰۶
په زره پوري نتیجه ۱۰۷
د۲۲ویشتم په شپه قرآن کریم ختمول څه کټه ده ؟ ۱۰۷
دقدردشپې علامې ۱۰۸
دقدردشپې اعمال ۱۱۰
صلوة تسبح ۱۱۱
په دې لمانځه کي یوه خاصه باریکی ۱۱۲
دصلوة تسبح خاص تاثیر ۱۱۲
دصلوة تسبح ثواب عام دی ۱۱۳
دصلوة تسبیح جماعت ۱۱۴
دتعلیم په غرض جماعت کول ۱۱۴
په دې لمانځه کي دلاس نیولو کیفیت ۱۱۴
دصلوة تسبیح طریقه ۱۱۴
دتسبیحاتو دحساب طریقه ۱۱۶
که ئي په لمانځه کي تسبیح هیرې شوي ۱۱۶

اللهم اعناعلی ذکرك وشکرك وحسن عبادتك

دکتاب پای

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ١ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ٢ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ٣ تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ٤ سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ٥

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ٣ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ

ترون

زه خپله دا پښته د ام المؤمنين حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها لور ته په منسوبولو سره سعادت [illegible] په سبب سره چې ډېر اسلامي تعليمات ازو دې مبارکې شپې اعمال ترمونږ را رسيدلي دي

(محمد رفعت قاسمي غفرله)

دمؤلف وړاندیز

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین

د الله جل جلاله ثناء ده چې اتم کتاب (مکمل ومدلل دقدراو برات دشپې مسئلې) وکتونکو ته وړاندې کیږي . چې فضائل ، مسائل بې حسابه جزئیات او سنت عملونه دقران او احادیثو په رڼا کې جمع شوي دي دلوی خدای جل جلاله په فضل او کرم سره دبې وزله د اپلټنه د دیوبند د دار العلوم دمفتیانو کرامو له نظره تیر شوه او وس عمومو مسلمانانو ته وړاندې کیږي . لو یه خدایه جل جلاله تر ډیرې مودې د دې محترمینو سایه زما له سره مه اخلې . امین

دلوی خدای جل جلاله په دربار کښې لاس په دعاء یم چې دلوی خدای جل جلاله په فضل او کرم سره دمخکښنیو کتابو په شان . لکه مکمل ومدلل دجمعې دلمانځه مسئلې . مکمل ومدلل مسائل داخترونو او قربانۍ مسئلې . د اداب او ملاقات مسئلې . داکتاب هم مقبول او نافع په دنیا او اخرت کې وګرزوی او داتوفیق نور هم راکړي . امین

ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم

محمد رفعت قسمي غفرله
ددیوبند د دار العلوم مدرس
۱۲۰ جمادی الثانی ۱۴۱۲ هـ . ق
مطابق ۲ دسمبر ۱۹۹۱

دلوی خدای جل جلاله په نامه

گران اومحترم مولانا محمد رفعت قاسمی ددارالعلوم دیوبند مدرس . دمخکنیو دینی تالیفنو په شان داکتاب چې دبرات او دقدر دشپې متعلق مسائل یې له ګڼ شمیر کتابونو فتاواوو څخه راټول کړی اوپرامت یې احسان کړی . امید لرم چې ددې تولګې په ذریعه سره به دبرات اوقدردشپې نور ناوړه رواجونه ختم شي .خدای جل جلاله دي قبول کړی دامت لپاره دي ګټوره وګرزوي. اومؤلف ته دي الله جل جلاله اوږد ژوند ورکړی ترڅو یې دخدمت سلسله جاري وي . امین .

العبد محمود غفرله

چهته مسجد دارالعلوم دیوبند ۱۴۱۲ ه . ق

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اصحابه واتباعه التابعين لهم الى يوم الدين . ستاسو په مخکی فتاوی چي دهر شخص لپارد بی شکه ډيره مفيده اوګټوره ده . څکه چي له ټولو معتبرو کتابو څخه یي انتخاب شوی دی .لاس په دعايم چي الله جل جلاله دقدرمن مؤلف داکتاب دنورو کتابو په شان مقبول اونافع وګرزوي . امين

فقط .کتبه العبد نظام الدين .

رجب:۱۴۱۲ اودن جنوري ۱۹۹۲ع

الحمدلله والمنة چې دمولان قاري محمد رفعت قاسمي ددارالعلوم دیوبند مدرس چې یوشمیر کتابونه یې خپره (چاپ) شوی اهل علم اوعوامو ته مقبول دي. اوس قدرمن مؤلف ستاسو په لاسو کی کتاب دبرات اودقدر دشپې مسئلې) چې له مختلفو کتابو څخه یې احکام. مسائل اوفضائل راجمع (تول) کړي. په خپل بشپړ کوشش سره یې داکتاب هم الحمدلله دتیرو کتابو په شان جمع کړی ما ددي کتاب مختلف مضامین مطالعه کړل خوښ شوم چې دمختلفو فتاواوو مضامین اومسائل په ډیره جالبه طریقه سره جمع شوی. هرځای چې به مې مطالعه کړ ډیر به خوشحاله شوم ډیري مسئلې چې پخوا مې په ذهن کی نه وی ومې لیدلی. په هر صورت ډیره ګټه مې ترینه واخیسته اوبې اختیاره مي دعاوی ورته وکړي. خدای جل جلاله دي مؤلف ته له صحت او سلامتیا سره په داسې علمي کار ژوند ورکړی. اوله دی څخه خواص اوعوام فائده اخیستلای شي.

الحمدلله قاري صاحب لاتراوسه ځوان دي پوره امید لرم چې دادخدمت لړۍ به یې ډیر پرمختګ وکړي څوک چې داکتاب بشپړ مطالعه کړي په خوشحالي سره به ددواړو شپو دبرات، اوقدر شپه دشپې لمانځنې لپاره بشپړه ورتیا ولري همداشان داڅوک به ډیري نیکۍ په خپله عمل نامه کښي جمع کړي. کوم چې ددنیا او اخرت دکامیابۍ سبب ګرزي

عامو خلکو چې په دې شپو کی کوم ناوړه بدعتي رواجونه رامینځته کړي. ددي کتاب په ویلو سره به هغه هم ورمعلوم شي اودخان ژغورینې لپاره به ورته ښه زمینه مساعده وي په هر صورت داکتاب

جامع اومکمل دي هرډول احکام اومسائل پکښې دي .له ځوانو علماؤ، معاصرو ،پوهانو اوعامو مسلمانانو څخه زما داغوښتنه ده چې داکتاب ضرور مطالعه کړی . انشاء الله ددوئ به پوره رهنمايې وکړي امید دي چې ددې شپو داسې اهتمام وشي څنګه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي په اخیر کی دادعا کوم چې الله جل جلاله دي دمؤلف داخدمت قبول کړی چې ددنیا اواخرت دکامیابی ذریعه شی .

واخر دعوان ان الحمد لله رب العلمین .

رضاء دعا محمد نظام الدین عفرله

مفتی دار العلوم دیوبند

مؤرخه یکم شعبان المعظم ۱۳۱۲ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

حم ١ وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ ٢ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ
٣ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ۴ أَمْرًا مِّنْ عِندِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ
سوره الدخان : پاره ۲۵

ژباره: حم (ددې په معنی فقط الله جل جلاله خبر دی) قسم دی په دې کتاب (قرآن) واضح . چې مونږ له لوح محفوظ څخه ددنیا آسمان ته په یوه مبارکه شپه کی رانازل کړی دی ځکه چې د شفقت په وجه دخپلو ارادي وبندګانو ته خبر ورکونکي وو . ځکه چې زمونږ دا خوښه وه چې له ضرر څخه دخلاصیدو لپاره پر خیر او شر خبر ورکړو . داد قرآن دنازیلیدو هدف وو . مخکي ددې شپې دبرکتو او ګټو بیان دی . په دې شپه کی دهرې معاملې حکم زمونږ په وړاندې صادرېږي او بیا پرهغه ترتیب عملي کیږي . یعنی دټول کال هر اړخېزې معاملې ضرور پر یوه حکمت بنا کیږي . پر کومه طریقه چې لوی خدای جل جلاله ته خوښه وي . پر هغه طریقه داټول معاملات ترتیب شي . بیا و مؤظفو ملائکو ته وړاندې شي . له ځنګه چې داشپه داسې دقدر وړ وه . او دقرآن کریم نزول هم دلوی حکمت کار وو . نو ددې لپاره یې ځکه داشپه تعین کړه . (معارف القرآن ۹۸مخ ۷ټوک)

په دې هکله دحضرت عکرمه (رح) او دمفسرینو دیوې ټولی دا رأیه ده چې له (لیلة مبارکة) څخه دبرأت شپه (دشعبان پنځلسمه) مراد ده . لکه څنګه چې له (فيها يُفرقُ كلُّ أمرٍ حكيم) څخه معلومیږي . له دې تفسیر څخه دبرأت (دشعبان دمیاشتې دپنځلسمي شپې دخصوصیت لوی فضیلت څرګندیږي .

دقرآن له نزول څخه حقیقتاً نزول ندی مراد . بلکه دنزول فیصله ورڅخه مراد ده . پدې معنی چې مونږ پدې مبارکه شپه دقرآن کریم دنزول فیصله کړېده او حقیقي نزول د(لیلة القدر) دقدر په شپه شوی دی.
دبرات په پنځلسمه شپه دټولو امورو فیصله کېږي . له دې څخه ښکاره شوه چې دقرآن کریم دنزول فیصله هم پدې شپه شوېده . ځکه چې دقرآن کریم دنزول څخه بغیر بل کوم لوی او محکم کار کیدای شي.
(فضائل الایام والشهور ۸۰ مخ)
دبرات په شپه فیصله وشوه چې دراتلونکي روژې دمیاشتې د قدر په شپه به قرآن کریم نازلیږي . بیا د(لیلة القدر) په شپه کې هغه نازل شو . ځکه چې عادة دهرې فیصلې دوې مرتبې وي . یوه دتجویز (ورانديز) اوبله دنفاذ (عملي کیدو) . دلته هم دوې مرتبې کېږي. دقرآن کریم دنزول تجویز دبرات په شپه وشو اونفاذ یې دقدر په شپه وشو . په هرحال دآیة غرض که له (لیلة مبارکة) څخه هر څه وي. خوله احادیثو څخه ددې شپې برکت او فضیلت معلومیږي. (لتبلیغ ۱۴ مخ ۸ توک)

دتسمیې وجه

شعبان له شعب او تشعب څخه مشتق (جوړ) دی . معنی یې جلاوالی او بیلوالی دی په حدیث شریف کې راځي چې پدې میاشت کې پر روژه نیونکو انسانانو دخدای جل جلاله داسې رحمتونه او برکتونه نازلیږي ، نو خوېې جنت ته داخل کړي . لکه څنګه چې دا میاشت درحمتونو دنازلیدو میاشت ده نو ځکه شعبان ورته ویل کېږي. (فضائل الایام والشهور ۹۹ مخ)

دشعبان (حروف) توري

دشعبان پنځه توري دي: ش-ع-ب-ا-ن. له دې څخه هریو پرعظمت او لوېې دلالت کوي .ش. (شرافت) .ع.(علو)لوړوالي .ب. بر (نیکې

الف، الفت .ن. نور . دا پنځه نعمتونه الله جل جلاله بندګانو ته پدې میاشت کې ورکوي. (غنية الطالبين ۳۵۲مخ)

دشعبان قدر او ارزښت

هر هوښیار (عقلمند) ته ضروري ده چې په شعبان کې غفلت (سستي) ونکړي او دروژې د استقبال لپاره تیاري په دې میاشت (شعبان) کې ونیسي. له خپلو ګناهونو څخه توبه وکړي. کوم عملونه چې کم شوي وي هغه باید پوره کړي دبرأت په میاشت کې باید لوی خدای جل جلاله ته عاجزي او زاري وکړي. په مطمئن زړه دالله جل جلاله طرف ته رجوع وکړي. دحضرت محمدصلی الله تعالی علیه واله وسلم په وسیله دلوی څښتن جل جلاله څخه رحمت وغواړي. تر څو دهغه زړه پاک شي. او دباطني (پټو) مرضو لپاره باید دوه کاره وکړي. باید دا کارونه ونه ځنډوي او پدې میاشت کې یې وکړي. ځکه چې په حقیقت کې درې ورځې دي: یوه پرون کومه چې تیره شوه دوهمه نن ورځ ده کومه چې دکر کولو ده، دریمه دسبا ورځ کومه چې دامید ورځ ده. او دراتلونکې ورځې هیڅ علم چاته نشته چې ژوندی به پاته شي کنه؟

کومه ورځ چې تیره شي باید نصیحت او عبرت ورڅخه واخیستل شي، ننی ورځ باید غنمیت وګڼل شي او راتلونکي ورځ دخطرې ورځ ده چې رابه شي او

کنه؟ همد راز دا درې میاشتې دي: رجب تیر شي او دروژې انتظار کیږي. داهیچاته نده معلومه چې ددې میاشتې (روژې) پورې به ژوندی وي کنه؟ شعبان ددې دوو میاشتو (رجب او روژې) مینځنۍ میاشت ده، پدې کې دلوی خدای جل جلاله عبادت او بندګي غنیمت وګڼه.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حضرت عمر (رض) ته نصیحت وکړ چې پنځه شیان تر پنځو مخکې غنیمت وګڼه تر سپین ږیریتوب مخکې ځواني، تر مرض مخکې روغتیا، تر غریبۍ (مسکینۍ) مخکې شتمني، تر مصروفیت مخکې فراغت او تر مړینې مخکې ژوند. (غنیة الطالبین ۳۵۷ مخ)

برأت او داصحابو کرام کړه وړه (افعال):

له حضرت انس بن مالک رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې: دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم قدرمنو ملګرو (اصحابو کرامو) رضی الله عهنم. به چې کله دبرأت میاشت ولیده دقرآن کریم تلاوت به یې ډیر کاوو. مسلمانانو به دخپل مال زکوة هم اداء کاوو ترڅوچې مسکینان ور څخه ګټه واخلي او درمضان المبارک دروژې دنیولو لپاره ورته کومه وسیله جوړه شي. حاکم صحابه وو به بندیان راوغوښتل کوم چې به دحد(سزا) مستحق ؤو پر هغوی به یې حد جاري کړ. او نور به یې خلاص (ازاد) کړل. تجارانو به هم پدې میاشت کې پور (قرض) اداء کاوو. پر نورو به یې چې قرض باندې وو هغه به یې هم په دې میاشت کې ور څخه وصول کاوو. درمضان دمیاشتې په لیدلو سره به خلکو غسل کاوو او په اعتکاف کې به کښېنستل. (غنیة الطالبین ۲۵۲ مخ)

غوره انتخاب:

لوی خدای جل جلاله فرمایي: وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَايَشَاءُ * (۲۰پاره، ۱۰رکوع) کوم څه چې الله جل جلاله غواړي هغه پیداکوي. او کوم شی چې وغواړي هغه غوره کوي. الله جل جلاله په خپلو مخلوقاتو کې څلور شیان غوره کړو او یو یې منتخب کړ. په ټولو ملائکو کې یې څلور غوره کړي: جبرائیل، اسرافیل، میکائیل او عزرائیل علیهم السلام بیا یې پدې څلورو کې جبرائیل علیه السلام منتخب کړ. او په انبیاؤ علیهم السلام کې یې

حضرت ابراهیم . حضرت موسی . حضرت عیسی علیهم السلام او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم غوره کړل او بیايې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم منتخب کړ. په صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم کې يې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه . حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه . حضرت عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه او حضرت علي رضی الله تعالی عنه غوره کړل بیايې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه منتخب کړ. په مسجدونو کې يې مسجد حرام . مسجد اقصی . مسجد مدینه (مسجد نبوي) او مسجد طورسینا غوره کړل بیا يې مسجد حرام منتخب کړ. په ورځو کې يې عید الفطر (کوچنی اختر)، عید الضحی (لوی اختر) . عرفه او عاشوری يې غوره کړې. بیايې په ورځو کې عرفه (دذالحجې لسمه) بهتره کړه. په شپو کې يې دبرأت شپه ، دقدر شپه دجمعې شپه او داختر شپه غوره کړې بیايې دقدر شپه تر ټولو بهتره کړه. مکه . مدینه . بیت المقدس او مساجد العشار يې غوره کړل او مکه يې بهتره کړه. په غرو کې يې أحد . سینا . ولکام اولبنان غوره کړل او دسینا غربې منتخب کړ. په دریابو کې يې جیحون . سیحون ، فرات او نیل غوره کړل او فرات يې منتخب کړ.

په میاشتو کې يې رجب . شعبان . رمضان او محرم غوره کړې بیايې شعبان تر نورو بهتره کړه. شعبان ته دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم میاشت ویل شوي ده. لکه څنګه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر نورو پیغمبرانو فضیلت لري . همدارنګ دامیاشت (شعبان) تر نورو میاشتو افضله ده. (غنية الطالبين ۳۵۵ مخ)

له حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: شعبان زما (محمد ﷺ) میاشت

ده ، رجب دخدای جل جلاله میاشت ده او رمضان المبارک زما د اُمت میاشت ده. شعبان دګناهو دليري کولو میاشت ده او درمضان میاشت مسلمانان پاکوي (له ګناهو څخه).
دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمان دی چې شعبان درجب او رمضان ترمینځ داسې میاشت ده چې دهغې دبزرګي (برکت) خلګوته علم نشته . پدې میاشت کې دخلګو اعمال خدای جل جلاله ته وړاندې کیږي ، نوځکه زه خوښوم چې کله زما اعمال خدای جل جلاله ته وړاندې کیږي او زه روژه لرونکی یم.
له حضرت انس بن مالک رضی الله تعالی عنه رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چې درجب میاشت پر نورو میاشتو دومره فضیلت لري ، لکه دقرآن کریم فضیلت پر نورو کتابو همدارازدشعبان فضیلت پر نورو میاشتو دومره دی. لکه زما(محمد ﷺ) فضیلت پر نورو انبیاء کرامو علیهم السلام او د رمضان فضیلت پر نورمیاشتو دومره ده لکه دالله جل جلاله فضیلت پر ټولو بندګانو. (غنیة الطالبین ۳۵۵ مخ)

دبرأت دشپې فضیلتونه :

له ام المؤمنین حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها روایت دی: چې وایي ماله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې څلور شپې داسې دي چې په ټولو کې دخدای جل جلاله درحمت دروازې خلاصې وي ؛ دلوی اختر شپه ، دکوچني اختر شپه ، دشعبان مینځنۍ شپه او دعرفې شپه پدې شپه د الله جل جلاله له لورې دخلګو دعمرونو ، درزق او دهغوی دحج په هکله احکام لیکل کیږي. (غنیة الطالبین ۳۷۲ مخ)
دبرأت شپې ته هم مبارکه شپه وایې چې پربندګانو رحمت ، برکت او دخدای جل جلاله نعمتونه نازلیږي. له حضرت علي رضی الله تعالی عنه

څخه روايت دی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چې دشعبان په مينځنۍ شپه کی ددنيا او آسمانو خلګوته دالله جل جلاله حکم کيږي، هرمسلمان ته بخښنه کوي، بغيرله مشرک، کينه کونکي صله رحمي قطع کونکي او زانيې ښځې څخه. (غنية الطالبين ۳۵۹ مخ)

له حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې په روژوکی کومې روژې ښې (بهترې) دي؟ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چې دشعبان روژې چې درمضان المبارک دروژو د درناوي لپاره وي حضرت عائشة رضی الله تعالی عنها وايي چې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم په نزد دشعبان ډيره خوښه ده ځکه چې دا رمضان المبارک ته نژدي ده.

له حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه څخه وروايت دی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمايل: کوم شخص چې دشعبان دآخيري دوشنبې روژه ونيسي؛ الله جل جلاله دهغه ګناه وربخښي، يائي د دې مياشتې اخيري دوشنبه. داسې نه چې ددې مياشتې اخيري ورځ ځکه چې دعامو خلګو لپاره د رمضان المبارک څخه يوه يادوي ورځې مخکې روژه نيول منع دی.

له حضرت انس بن مالک رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی: چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چې ددې مياشتې نوم يې ځکه شعبان کيښود چې پدې کی ډيرې نيکۍ تقسيمږي، او درمضان المبارک نوم يې ځکه کيښود چې پدې کی ټول ګناهونه سوځل کيږي. (غنية الطالبين. ۳۵۴ مخ)

دبرأت دشپې ځانګړتياوې:

دبرأت دشپې ځانګړتیا داده چې پدې شپه کې له ماښام وروسته دالله جل جلاله تجلیات او توجهات ددنیا آسمان ته راځي (رالوزیږي).
او عام اعلان کیږي چې ایا کوم دبخښني غوښتونکی شته چې زه بخښنه ورته وکړم. ایاکوم دروزۍ (رزق) غوښتونکی شته چې زه رزق ورکړم ایاکوم مصیبت ځپلی شته چې زه ساتنه ورکړم. ایا داسې څوک شته ؟
غرض داچې ټوله شپه دلوی خدای جل جلاله درحمت دربارخلاص اود عامي بخښني باران اوري ترڅو چې سپیدې راچوی (صبح صادق) او وروسته دا دربارتړل کیږي. که څه هم دا دربار ټول کال هره شپه خلاص وي هغه یوازې دشپې تر وروستۍ برخې پورې خاص دی. ددې شپې فضیلت دادی چې دلوی خدای جل جلاله درحمتونو دربار له لمر لویدو څخه شروع او تر سپیده داغه دوام لري. داهغه شپه ده چې پکې رحمتونه نه تقسیمیږي ، بلکه پوره پوره ونډه ورکول کیږي. لکن افسوس څومره نبکبخت دی هغه څوک چې له دې ونډې څخه برخه من شي ..... شاید چې په سلو(۱۰۰٪)کې به یو یادوه هم ویښ نه وي ؟
ددې میاشتې له نورو ځانګړتیاوو سره سره یوه ځانګړتیا دا هم ده چې څوک په آینده (راتلونکي) کال کې مړکیږي. پدې شپه کې یې دمرګ نیټه معلومیږي. نو پکار ده چې ددې میاشتې له ځانګړتیا سره سره په ښه عبادت مشغول شي ترڅو یې دژوند پریکړه (فیصله) په داسې وخت کې وشي چې په عبادت کې بوخت(مشغول) وي.
حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ته په شعبان کې ډیرې روژې نیسې. ددې وجه څه ده ؟
حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وویل چې: پدې میاشت کې لوی خدای جل جلاله دهغه چا نومونه لیکي چې په راتلونکي

کال کې مړ کيږي ، زه غواړم چې زما دمرګ ليکنه په داسې حالت کې وشي چې زه روژه لرونکې يم. له دې څخه اشارهٔ معلوميږي چې دچادمرګ فيصله پداسې وخت کې وشي چې هغه په عبادت کې بوخت(مشغول) وي. له الله جل جلاله څخه ډير اميد ده چې ددې مرګ به هم دعبادت په حالت کې وي او انشاء الله خاتمه به يې هم په خير او برکت وي. (فضائل الايام والشهور ۱۰۴مخ)

دامتحان (از موينې) نيته :

عن اسامه بن زيد رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم شَعْبَانُ شَهْرِيْ وَ رَمَضَان شَهْرُالله.

ژباړه : له حضرت اسامه بن زيد څخه روايت دی: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: شعبان زما او رمضان المبارک دالله جل جلاله مياشت ده.

تشريح : شعبان ته محمد صلی الله عليه وسلم خپله مياشت ويلې ، او خپل لوري ته دي منسوبه کړی له دې څخه وروسته دشعبان دمياشتې دنورو فضائلو بيان ته اړتيانشته ځکه چې کومه مياشت دمحمد صلی الله عليه وسلم وي دهغې برترې او بهترې څرګنده ده . ددې مياشتې يوه ځانګړتيا داده چې پکی دبندګانو دټول کال عملونه (کړنې) دخدای جل جلاله حضورته وړاندې کيږي . لکه څنګه چې دمحمد صلی الله عليه وسلم قول دی چې دشعبان مياشت کومه چې درمضان او رجب مېنځنې مياشت ده ورڅخه غافل دي خوپه هغې کې دټولو بندګانو اعمال دخدای جل جلاله حضورته وړاندې کيږي . ځکه زه دا خوښوم چې پداسې حالت کې چې اعمال خدای جل جلاله ته وړاندې شي چې زه روژه لرونکې يم.

(رواه البيهقی فی شعب الايمان)

مونږ په عامو مدرسو، پوهنځيو او ټولو تعليمي ادارو کې وينوچې زده کونکي په ټول کال کې چې زړه يې غواړي هغسې ګرزي. خوچې کله دکال په اخيره کې دټول کال دتعليمي امتحان (ازموينې) وخت رانژدې شي ،له ټولو څخه بې استعداده ، بې شوقه او بې محنته (کوښښه) طالب العلم هم دټولو کتابونو په تکرار او زده کړه بوخت وي. غرض داچې دانسانې فطرت تقاضاً ده چې کله دکوم کار دنتيجې (پايلې) وخت راشي ټوله توجه يې همدې لور ته وي. همدا راز اعمال دي ، دادنيا دانسانونو دهميشنې ژوند ځای ندی انسانان به يکې دتل لپاره نه وي ، دالکه يو هوټل ياسرای ديوې ،دوو ياڅو ورځو دمسافرانه ژوند لپاره ده.

د « الدنيا مزرعة الاخرة » مشهوره مقوله خوبه تاسو هم اوريدلې وي ، ددې مطلب همدادی چې الله جل جلاله انسان دڅو ورځو دامتحان لپاره دې دنياته رااليږلی دی . چې وګوري چې څنګه عملونه کوي . خپل عاقبت سموي . که يې خرابوي. داسې هم نه ده چې الله جل جلاله انسان دې دنياته هسې رااليږلی دی . بلکه هرکال دتېر وخت عملونه کتل کېږي. او دراتلونکي کال لپاره نوی ترتيب نيول کېږي. دبرأت مياشت دامتحان مياشت ده ، پدې کې دټول کال عملونه خدای جل جلاله ته وړاندې کېږي او دراتلونکي کال حکمونه صادرېږي. په تېرشوي حديث کې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم خپل أمت ته ددې نکتې (باريکې) لارښوونه وکړه چې دا مياشت دتېرو اعمالو دنتيجې مياشت ده ، نوپه ځانګړي ډول بايد نيک (ښه) اعمال وشي ، لکه څنګه چې دنورو ازمينو (امتحانو) لپاره هلې ځلې کېږي بايد پدې امتحان کې هم بشپړ کوښښ وشي ترڅومخکي غلطۍ پوره شي او دکاميابۍ لورته دې مخ شي ، داسې نه چې يوازې محمد صلی الله عليه وسلم قول کړی . بلکه خپله يې عبادت هم

کړي او يو عملي تصوير يې زمونږ مخ ته ايښئ. له ګڼ شمير احاديثو څخه معلوميږي چې محمد صلی الله عليه وسلم په کومه اندازه په شعبان کی ډيرې روژې نيولې دي له رمضان څخه سوا داخصوصيت بلې مياشتې ته نه ؤ حاصل. له ځينو روايتو څخه معلوميږي چې محمد صلی الله عليه وسلم به ټوله شعبان روژې نيولي کله به چې روژه راغله هغه به يې هم پيل کړه.

ددې لپاره چې امت يې کمزوری اوله رمضان المبارک څخه بې برخې نشي ددې اجازه ورکړل شوه چې دشعبان په لومړۍ نيمايي کی روژې ونيسي او به نصف اخرکی استراحت وکړي چې دروژې (رمضان المبارک) لپاره تکړه (زورور) شي. دبشپړ شعبان دروژې دممانعت وجه ضعف ده چې درمضان په روژو کی کوتاهي ونکړي، ځکه که څوک زورور او تندرست وي ددې وس (طاقت) ولـــري چې دوې مياشتې پيوست روژې پرې کوم اثرنکوي اوصحت ته يې کوم زيان نه رسيږي. نو ورته رواه (جائز) ده چې دشعبان او رمضان مياشتې مسلسلې روژې ونيسي. دمحمد صلی الله عليه وسلم دقول او فعل ترمينځ تعارض نشته قول يې دامت لپاره او عمل يې دځان لپاره. (فضائل ايام والشهور ۱۰۳مخ)

دبرأت شپه څه ده ؟

داسلام دمقدسې عقيدې (توحيد) له مخې دزمانې هره لحظه ،ساعت، دقيقه شپه او ورځ هره شيبه مبارکه او غوره ده په کومه لحظه کی دبې کاره او شر تصور داسلام خلاف کار دی، حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دحديث قدسي په واسطه ددې حقيقت انکشاف (څرګندونه) کړی ده چې دزمانې هرې لحظې ته ناخوښ اوبدويل منع دی. ځکه چې زمانه په حقيت کی دالله جل جلالـه دشان نوم، او الله جل جلالـه دبرکت نيکبختی، سعادت فضيلت او بهترۍ په وجه دکومې مياشتې پر بلې مياشتې دځينو

ورځو پر نورو ورځو . یا شپو پر نورو شپو ، آن دځینو ساعتونو پر نورو فوقیت او بهتري حاصله ده. او ددې قسم فوقیت او فضیلت د قرآن او حدیث په ذریعه ثابت دی. دکوم چې فضیلت بهتري او خواصي په قرآن کریم کی بیان شوی او په نبوي احادیثو کی هم بیان شوی دی داسې دي:
دمعراج شپه ، دبرأت شپه ، دقدرشپه او داخترونو شپې قرآن کریم دبرأت شپې ته (لیلة المبارکه) ویلي کومې ته چې حدیث شریف لیلة البرأت ویلې ده. او زمونږ په اصطلاح کی دبرأت په شپه مشهوره ده. دبرأت معنی په عربي ژبه کی دخلاصون او نجات ده. او دا داسې شپه ده چې الله جل جلاله دزیات شمیر انسانانو گناهونه بخښي او دجهنم (دوزخ) له عذاب څخه یې خلاصوي. ځکه یې ددې شپې نوم لیلة البرأت (دبرأت شپه) کیښود .
بله دا چې پدې شپه کی دانسان دژوند او دهغه دارتیاؤ دیوه کال لپاره فیصله کېږي. او دامبارکه شپه دشعبان دمیاشتي پنځلسمه شپه ده کومه چې دڅوارلسم تاریخ له ماښامه شروع کېږي بیاتر صبح صادقه پوري.
ددې شپې شرعي حیثیت دومره دی چې دبرأت شپه یوه سپېڅلي (مقدسه) شپه ده. پدې شپه کی به نبی کریم صلی الله علیه و سلم له عادت څخه زیات عبادت کاؤ . اودمړیو دمغفرت ددعاؤ لپاره به هدیرو ته تلي ، په دوهمه ورځ به یې روژې نیولي. دادبرأت دشپې دلمانځني اصل طریقه ده چې پدې شپه کی تر ټولو زیات عبادت وکړي دخپلو گناهونو دبخښني دعاوي وکړي اوهدیرې تـه ولاړشي دسنت طریقې مطابق دخپلو پلرونو ، نیکونو ،دوستانو ، قریبانو او عامو مسلمانانو دپاره لپاره دبخښني دعاوې وکړي او په راتلونکې ورځ روژه ونیسي. (محمدرفعت " قسمي ")

دجبرائیل علیه السلام راتګ :

له حضرت ابو هريرة رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې د شعبان په مينځنۍ شپه كې حضرت جبرائيل عليه السلام ماته راغلی او ويې ويل: ای محمد صلى الله عليه وسلم !خپل سر د آسمان لورته پورته كړه . ماهم سر پورته كړ آسمان ته مې وكتل . دجنت ټولې دروازې خلاصې وې په لمړنۍ دروازه كې يوه ملكه ولاړه وه ناري يې وهلې چې كوم شخص پدې شپه كې ركوع (لمونځ) كوي هغه ته دې زيری (خوشخبري) وي په دوهمه دروازه كې يوې ملكې نارې وهلې چې څوک پدې شپه كې سجده كوي هغه ته دې زيری وي.
په دريمه دروازه كې يوې ملكې ناري وهلې چې كوم شخص پدې شپه كې دعا كوي هغه ته دې زيری وي په څلورمه دروازه كې يوې ملكې ويل چې پدې شپه كې څوک ذكر كوي هغه ته دې زيری وي. په پنځمه دروازه كې يوې ملكې ويل چې څوک پدې شپه كې دخدای جل جلاله له ويرې ژاړي هغه ته دې زيری وي. په شپږمه دروازه كې ملكې ويل چې پدې شپه كې ټولو مسلمانانو ته زيری دی. په اومه دروازه كې ملكې ويل چې كه څوک څه غواړي (غوښتنه به يې پوره شي) په اتمه دروازه كې ملكې ويل كه څوک دمغفرت (بخښني) سوال كوي ، سوال به يې قبول شي.
حضرت محمد صلى الله عليه وسلم فرمايي :له جبرائيل عليه السلام څخه مې پوښتنه وكړه چې دا دروازې به تر كومه خلاصې وي ؟ځواب يې راكړ چې دشپې له لمړنۍ بيا ترسپيده داغ (صبح صادق) پورې . بيايې وفرمايل: ای محمد صلى الله عليه وسلم ! پدې (دبرأت پنځلسمه) شپه كې الله جل جلاله د دوزخ له اوره دومره خلک خلاصوي څومره چې دبني كلب دبوزو ويښتان دي. (غنية الطالبين ۳۷۲ مخ)
په عربو كې دهرې قبيلې ډيرې بوزې وې خو د كلب قبيلې ډيرې زياتې وې.

ددې ټولو بوزو پرصورت (بدن) باندې چې څومره ویښتان دي له دې څخه زیات شمیر مسلمانان د دوزخ له اوره څخه خلاصیږي. (له دې مثال څخه هدف ډیروالی دی چې دیوې بوزې څومره ویښتان وي او د داسې بې حسابه بوزو به څومره ویښتان وي چې له دې څخه هم زیاتو کسانو ته لوی خدای جل جلاله مغفرت کوي. (محمد رفعت ـ قاسمي ـ غفرله الباري)

دبرأت شپه ولې مبارکه (سپېڅلې) ده ؟

کومه شپه چې راتلونکي ده (دشعبان پنځلسمه) ددې په هکله ډیر فضیلتونه راغلي دي. نوځکه ورته مبارکه شپه ویل صحیح ده، که څه هم په احادیثو کی دمبارک لفظ ندی راغلی لکن په قرآن کریم کی راغلی دی. که څه هم داتفسیر متحمل دی خو ددې شپې ته دمبارکې لقب ورکول کوم تاوان نه لري ځکه چې برکت په حقیقت کی کثرت نفع (ډیري فائدي) ته وايي. نو چې دکوم شي ډیره فائده ثابته وي نو مبارک ورته ویل صحیح دي: کوم فضیلتونه چې په احادیثو کی ددې شپې راغلي دي زیاته نفع (فائده) ور څخه ضرور ثابته ده نو مبارکه ورته ویل صحیح ده. ګواکه دمبارک لفظ ندی راغلی ،لکن په قرآن کریم کی آیة دی:

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۳ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ

ژباړه :- مونږ داقرآن په یوه برکتناکه شپه کی نازل کړی ، بیشکه چې مونږ بیروونکي یو. پدې شپه کی دهر امرحکیم (د حکمت کار) فیصله کیږي.

یعني داهم یو برکت دی چې پکی دټولو کارونو فیصله کیږي. په ټولو امورو کی ټول شیان داخل دي یوازي لمونځ او روژه نده. بلکه ددنیاکارونه هم پکی شامل دي. دمثال په توګه دیوه کښت به دومره حاصلات کیږي ،جنګ به کیږي ،بریٔ (فتح) یا ماتې به کیږي. دونه او به به وار وي ،دمرګ ،ژوند ،کوزدې ،واده (نکاح) او دنورو شیانو فیصله او انتظام به

کېږي. دا ټول شيان په برکت کې داخل دي ځکه دا يو ډول برکت دی او دوهم ډول برکت ديني دی چې په احاديثو کې ذکر ده.
کله چې دشعبان دمياشتي پنځلسمه شپه شي او مابنام الله جل جلاله ددنيا آسمان راکښته شي ،داد دي شپې دخصوصيت وجه ده. ځکه چې هره شپه له نيمې شپې وروسته لوی خدای جل جلاله ددنيا آسمان ته تشريف راوړي او پر بندګانو درحمت نظر کوي. يعني په نوروشپوکی له نيمائې وروسته او په دې شپه کې له مابنامه څخه دخداي جل جلاله درحمت نزول کېږي ، دا هم يوه د برکت وجه ده ددې شپې قدر به هغه څوک کوي ، چې له الله جل جلا له سره ئي بې پايه مينه وي ځکه چې ددې شپې هره لمحه غنيمت ده او هر حبيب دخپل محبوب توجه ډېره قدرمنه ګڼي ، خو دبرات او قدر په شپه دا ديدار (توجه) ټوله شپه وي. (التبليغ ۲۲مخ ۸ټوک حضرت مولانا تهانوی صاحب

دبرات په شپه کې دخداي جل جلاله نظام

حضرت عکرمه رضی الله عنه له ابن عباس رضی الله عنه څخه ددې ايت تفسير داسې نقلوي: چې په دې ايت کې چې دکومې شپې ذکرشوی هغه دشعبان مينځنۍ شپه ده په دې شپه کې هر مهم کار (امرحکيم) جلاکېږي . په دې شپه کې الله جل جلاله دکارونوتدبير کوي ، مړه کيدونکي خلک له ژوندو څخه جلاکوي . کوم خلک چې په راتلونکي کال کی مري په دې شپه کې دهغوي نومونه جلاکيږي . ګواکې دهغوي فهرست په دې شپه برابريږي ، دکومو خلکو چې دبيت الله شريفې سفر(حج) په نصيب وي دهغوي نومونه جلاليکل کيږي ، او کوم زيادت او کمبود پکې نوي ، دحکيم ابن کيسان رحمة الله عليه وينا ده چې دشعبان په مينځنۍ شپه کی الله تعالٰی پر مخلوق باندې نظرکوي . او څنګه چې لوی خدای جل جلا له داخلک پاک کړي تر راتلونکي کاله به داسې پاک (معصوم) وي . له عطاء

بن يسار رحمة الله عليه څخه روايت دي چې د شعبان په مينځنۍ شپه کې دخلګو دټول کال اعمال الله جل جلاله ته وړاندې کيږي . چې يو څوک په سفر ځي يانکاح کوي . خو الله جلاجلاله دهغوي نومونه دژوندو له فهرست څخه راباسي ، يعني دبنده چې څنګه اراده وي خو الله جل جلاله ورته مرګ ليکلی وي . (غنية الطالبين ۱/۳۷۱مخ

دملائکواخترونه

لکه څنګه چې په ځمکه کښې پرمسلمانانو دوه اختره دي همدا رنګه په اسمان کښې پرملائکو هم دوه اختره دي دمسلمانانو اخترونو کچنی اختر (دشوال اول تاريخ) او لوی اختر (دذي الحجي لسم) ورځې دي . اودملائکو اخترونه دبرات اوقدر شپې دي.

دملايکو اخترونو ځکه دشپې دي چې هغوی ويدېږي نه اودمسلمانانو اخترونه ځکه دوځې شول چې هغوی ويديږي. (غنية الطالبين) ص ۳۲۳ ۳۲

دمرګ اوژوند پريکړه

له حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها څخه روايت دي: چې حضرت محمدصلی الله عليه وسلم له ماڅخه پوښتنه وکړه: ايا ته خبره يې چې په دې شپه (دشعبان پنځلسمه) کښې څه کيږي؟ ما ورته وويل يا دالله تعالی رسوله ! زه نه يم خبره ، ته راته ووايه چې څه کيږي؟ حضرت محمدصلی الله عليه وسلم وويل: چې دانسانانو هرهغه څوک چې په راتلونکی کال کښې پيداکيږي دهغه دپيدا ښت نيته معلوميږي ، اوکوم څوک چې په اينده کال کښې مري په دې شپه کښې يې دمرګ نيته ليکل کيږي اوپه دې شپه کښې دخلګو عملونه پورته (خدای جل جلاله ته) خيژي اودبندګانو روزې (رزق) کښته راځي (معلوميږي) حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وايي: چې ماپوښتنه وکړه ای دخدای جل جلاله رسوله ! آيا کوم

شخص بغیر دخدای تعالی له رحمت نه جنت ته نشی داخلیدلای هغه صلی الله علیه وسلم راته وویل: هو هیڅوک هم بې د خدای له رحمت څخه جنت ته نشي تللای نبی کریم صلی الله علیه وسلم داالفاظ دري واره مکرر کړل مابیا وویل چې ته هم بیله اجازې دخدای تعالی نشی جنت تلای ؟ ده په خپل تندی مبارک لاس کښېښود وي ویل: هو زه هم دخدای جل جلاله له رحمت څخه بغیر جنت ته نشم تللای داالفاظ هم هغه دري واره تکرار کړل .

تشریح : په دنیـ کښې چې څومره انسانان پیدا کیږي یا مړه کیږي ډېر مخکې لا دهغوئ دپیدائښت او مرګ په اړه فیصلې په لوح محفوظ کښې درج (ثبت) دي لیکن هرکال دبرات دمیاشتې په پنځلسمه شپه کښې دوخت تعین کیږي چې څوک په دې کال کښې مري اوڅوک پیداکیږي (دعملونو دختلو) مطلب دادی چې په دې کال کښې چې بنده کوم اعمال کوی نیک یا بد په دې شپه کښې لیکل کیږي لکه څنګه چې په حدیث شریف کښې راغلی دي چې په دې شپه کښې مرګ اوژوند لیکل کیږي اودکوم چاچې دحج نصیب وي هغه هم لیکل کیږي .لکه چې حضرت عائشې رضی الله عنها واوریدل چې کوم عملونه چې په راتلونکی کال کښې یې بندګان کوئ نیکل کیږي دا پوه شوه چې جنت ته دخول هم محض (خاص) دالله جل جلاله تر مهربانی تعلق لري .لکه څنګه چې غواړي په خپل فضل اوکرم سره یې جنت ته داخله وي ، اوکه یې خوښه شوه نه یې داخلوی .دنبی کریم صلی الله علیه وسلم قیمتی وینا ددې ایت کریم سره خلاف نه ده (وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ) یعنی داجنت هغه ده چې تاسو ته دهغه څه(ددنیا داعمالو) په بدل کې درکړل شوی دي چې تاسو به هغه کارسرته رساوو. (پاره ۸رکوع۱۲)

ځکه چې نه (نیک) اعمال دجنت دداخلیدو ظاهري سبب دي ،لکن حقیقي سبب دالله جل جلاله فضل . کرم او مهرباني ده . نه نیک اعمال) . بیا هم نیک اعمال دلوی خدای جل جلاله فضل اوکرم دي که له چ سره دلوی خدای جل جلاله مرسته نه وي نوهغه به څنګه نیک اعمال وکړي ؟نیک اوصالح اعمال بنده هغه وخت کوي چې دالله تعالی فضل اوکرم دهغه رهنمائي وکړي له دې نولو شواهدو سره سره بیا هم ویلی شو چې جنت ته تګ یوازې دالله تعالی پر مهرباني باندې موقوف دي بعض علما وايي چې جنت ته دخول محض دالله تعالی درحمت نتیجه (پایله) ده او په جنت کښې مختلفي درجې داعمالو پر ډیروالي اوکم والي پورې تعلق لري .یعنې وجنت ته داخلیدل خو دالله تعالی رحمت موقوف دي . او اختلاف د مرتبو بیا تر اعمالو تعلق لري (داعمالو مطابق درجې دي)
(مظاهر حق جدید ص۲۰۰ ج ۲)

په کال کې دمنظورې شپه

نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې هر بنی آدم (انسان) چې په آینده کال کښې پیداکیږي . پدې میاشت کښې دهغه نوم نیته لیکل کیږي او دبنی آدم هر شخص چې په آینده کال کښې مړ کیږي په دې شپه کښې یې نوم اونیته لیکل کیږي . دانسانانو اعمال پورته خیژي (خدای تعالی ته وړاندې کیږي) اودهغو یې چې څومره روزي په نصیب وي هغه راکښته کیږي (لیکل کیږي) .

تشریح ددنیا دټولو حکومتونو دستور دي چې دخپلو وسائلو اوپالیسو مطابق یو کال مخکې داخراجاتو اوصادراتو لست جوړوي په دې کښې دپارلیمان (ولسي جرګه) او وزیرانو په میاشتو ناستي اومجلسونه

(شورى) وي. دالست پې دحكومتي كارونو لپاره رهنما هم وي له دينه داهم معلوميږي چې په راتلونكي كال كښې څونه انداره ترقي كيږي.
همدا راز دشعبان دځلورلسم اوپنځلسم تاريخ په مينځ كښې لوى خداى جل جلاله هر كال دخپل لوى اوپراخ حكومت لست برابر وي چې دالست دانسانانو دژوند پر هر اړخ محيط وي. په دي شپه كښې ددې فيصله هم كيږي چې څونه خلګ به دنيا ته راځي اوڅونه به له راتګ نه وروسته له خپل عمل سره ځي ، اوڅومره خرڅ به كيږي اوله څانه به څومره بيرته اخيستل كيږي. دشعبان په پنځلسمه شپه دلوى خداي جل جلاله له حكم سره برابر له هغه څه نه چې په اوله ورځ پې فيصله شوى . ديوه كال داعمالو (لست) به دخداى تعالى امين مخلوق اومقربو ملائيكو جبرئيل. ميكائيل . اسرائيل اوعزرائيل عليهم السلام ته حواله كيږي په دې دنيا كې به هغه څه كيږي څنګه چې ملائكو ته سپارل شوى دي.

دغوښتنې دوړاندې كولو وخت

تاسو به لېدلي يا اوريدلي وي كله چې ديوه مملكت كلني حساب دورځې دټول ملك په اړوند دمختلفو شعبو دمطالبو عارضي حكومت ته وړاندې كيږي ، اودخپلو ضزورياتو دپوره كولو لپاره حاضريږي. همدا شان كله چې لوى خداى تعالى دخپلو بندګانو دژوند په اړه يوه لائحه ترتيبوي نوټول بندګان بايد دلوى خداى جل جلاله په حضور كښې حاضر شي ترڅو هريو ورته دخپل حاجت وړانديز وكړي لكه څنګه چې حكومتونه دخپلو عامو مطالبو ملحوظ وي اوبيا دهغو ى دضرورت مطابق لست جوړوي ترڅو پې مشكلات په بشپړه توګه ختم شي . همدا شان لوى خداى تعالى دخپلو بندګانو دوعاوې اوري اوبيا دهغو ى ددعاوو مطابق خپل رحمت وربندى كوي څكه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دي.

وعن علي رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذاكانت ليلة النصف من شعبان فقوموا ليلها وصوموا يومها فان الله تعالى ينزل فيها بغروب الشمس الى السماء الدنيا فيقول الا من مستغفر فاغفر له الا مسترزق فارزقه الا مبتلى فاعافيه الا كذا حتى يطلع الفجر

(الترغيب ۳۲۰ صفحه ۲ ټوک . تفسیر روح المعاني ۱۰۲ صفحه ټوک)

ترجمه : له حضرت علي رضي الله تعالى عنه څخه روايت دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ويلي دي: كله چې د شعبان پنځلسمه شپه شي تاسو بايد عبادت وكړئ او په راتلونكې ورځې يې روژه ونيسئ ځكه چې لوی خدای جل جلاله له لمرليدو وروسته د دنيا آسمان ته راكوزيږي او الله تعالى وايي چې آيا كوم د بخښنې غوښتونكى شته چې زه بخښنه ورته وكړم آيا كوم د رزق غوښتونكي شته چې زه رزق وركړم . او آيا كوم د مصيبت زده شته چې زه يې مشكلات ورته حل كړم . او داسې نور .... او دا او از ونه ترصبح صادق پورې وي.

دغوښتنې مضمون

له دوعا څخه علاوه د شعبان په پنځلسمه شپه كښې د عبادت او په راتلونكي ورځ كښې د روژې نيولو هدايت شوی دي موږ چې كله حكومت ته عارضه وړاندې كوو نو په الفاظو . جملو او مضمون كښې د عاجزۍ اظهار كوو. نو بيا كله چې موږ د خدای تعالى دربار ته د دعا وړاندېز كوو چې الله تعالى د ټولې دنيا د پاچاهانو پاچا او مالک حقيقي دی نو لازمه چې ورته په هرحالت كښې عجز او زاري اختيار كړو او د خپلې كمترۍ او د لوی خدای جل جلاله د لويې اظهار وكړو او په عاجزۍ سره عرضه ورته وړاندې كړو زموږ د اعجز او زارۍ د ټولې شپې پر عبادت دلالت كوي .او له احاديثو څخه ثابته ده كله چې بنده په عجز او زاريو د لوی خدای تعالى په

حضور کښې لاس په دوعا شي دلوی خدای جل جلاله رحمت په جوش راځي اودبنده دادوعا انشاء الله قبليږی.ای مسلمانانو ! اوس لاهم وخت شته چې څه خطاګانې درنه شوی باید داسې نیک اعمال وکړو چې دهغې کفاره شي ، اوچې کوم وخت راتلونکې وي دلوی خدای جل جلاله د رحمتونو لمن وغوړوي دشعبان مبارکې شپې چې تیر شوی اوپه هغې کښې چې موکوم ناوړه رسمونه کړي وي لکه اورلګول یا داسې نور دهغې په وجه مه مايوسه کيږی(راشی دلوی خدای جل جلاله دربارته ! په دې شپه کښې دلوی خدای جل جلاله دربار ته رجوع وکړئ. غمجن کيږی مه . له پښيمانۍ سره راشئ دلوی خدای جل جلاله په دربار کې اوښکې وبهوئ ، تاسو وګورئ چې خدای جل جلاله له تاسونه راضي دي . نورهم دهغه درحمت انتظار وکړئ نن یوازې او یوازې دخدای تعالی درحمت ضرورت دي دلوی خدای تعالی لورته رجوع وکړئ که چېرې یوقدم دخدای تعالی په لار کښې واخلئ ، دخدای تعالی له لورې به لس واره پرتاسو دخدای تعالی رحمت وشی .همدا شان پدې مبارکه شپه کښې چې چېرې دخدای تعالی په حضور کښې دوعا کوی نوباید وتولو دوستانو ، قریبانو ،ملګرو ، اولیاء کرام اودعامو مسلمانانو لپاره هم دمغفرت دوعاوې وکړئ دخپلو اولادو لپاره هم دوعا وې وکړئ . که چېرې ممکنه وي هدیرې (مرستون) ته لاړشئ دقبرونو زیارت برسنت طریقه وکړئ اودپنځلس تاریخ روژه هم ونیسئ .اوکه چېرې داممکن نه وي لږ ترلږه خپل ځان او اولاد له ګناهونو ، خرافاتونه وژغورئ لکه څنګه چې الله تعالی وايي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَاراً (التحريم،پاره ۲۸)

ای دايمان خاوندانو !خپل ځانونه اواولاد له اوره څخه وساتئ

(ترجمه: شيخ الهند ص ۷۴۳ مولانا محمد رفعت قاسمی).

دقدر دشپې دپتوالي حکمت

دبرات دشپې په ښکاره والى اودقدر دشپې په پټوالى کښې دالله تعالى حکمت دادې چې دقدر شپه دلوی خدای تعالى درحمت دنازليدو . دګناهونو دبخښنې 'وله دوزخ څخه دخلاصيدو شپه ده لوی خدای جل جلاله خکه داشپه پټه کړې ده ترڅو چې خلک يوازې ددې شپې پرعبادت بسنه (اکتفا) ونکړي . اونور عبدت پرې نږدي.

دبرات دشپې دښکاره والی حکمت

دبرات شپه (دشعبان دمې شتې پنځلسمه شپه) لوي خدای جل جلاله داشپه ښکاره کړې ده څکه چې داشپه دقضاوت اوحکم . دغضب اورضامندی .دقبليدو اوريدو ، دنن ديوالی اولېريوالی . دنيکمرغی اوبدبختی . دکرامت اوپرهيزګاري شپه ده په دې شپه کښې ځينې نيکمرغه اوځينې بيا ړټل کيږی ځوک دښو کارونو په وسيله سو بمن(کامياب) کيږی ځينې بيا دبدوکارو په بدله سره خوار او ذليل کيږی. ځوک دبرکت اوکرامت خاوند کيږی . ځينې نور بيا له دينه بې برخې کيږی چاته دنيکو عملونو ثواب ورکول کيږی اوځينو ته بيا زجر ورکول کيږی ډيرخلک په ښارونو کښې په کار اووظيفه مشغول وي خودخدای تعالى په نزد بې دکفن تياری کيږی . دځينو بيا دقبر تياری کيږی . خوهغوی ددنيا په خوښيو بوخت وي ځينی بيا په تکبر . خندا اوساتيری بوخت وي . لکن دهلاکت وخت بې نږدې وي په ډيرو دنګومانيو ښکلا ختمه وي ، خوځږ ده چې مالک بې پناه اوخورو ته لار شی ځينی بيا دثواب په تمه وي . ليکن پر دوئ عذاب نازليږی.ځينی بيا دښه زيری (بشارت) په اميد وي لکن دوئ ته تاوان رسيږی.ډير بيا دجنت په تمه وي خو دوئ ته دوږخ ورنصيب کيږی.ځوک بيا د يوځای والی په تمه وي . لکن دهغوی بيلتون په برخه

کیږي څینې نور بیا دپادچاهۍ دورکیدلو پهٔ امید وي ، خودهغوی تباهي پهٔ برخهٔ وي (غنیهٔ الطالبین ص ۳۲۳)

دوینوالې څوارلس شپې

دټولو علماؤ کرامو پدي اتفاق دي چې دکال په دغو څوارلسو شپو کښې وینښتوب اوعبادت پکار ده

(۱) دمحرم دمیاشتې لمړۍ شپه
(۲) دعا شورۍ شپه
(۳) درجب دمیاشتې لمړۍ شپه
(۴) درجب مینځنۍ شپه
(۵) درجب اوویشتمه شپه
(۶) دشعبان (برات) مینځنۍ شپه
(۷) دعرفې شپه
(۸) دکوچنې اخترشپه
(۹) دلوی اختر شپه
(۱۰) دروژې دمیاشتې لمړۍ
(۱۱) یوولسمه
(۱۲) دولسمه
(۱۳) دیارلسمه
(۱۴) اودروژې داخیرۍ لسوتاق شپې یوویشتمه ، درویشتمه ، پنځهٔ ویشتمه ، اوویشتمه ، اونهٔ ویشتمه شپه.

همدا راز دعلماء کرامو پر دې هم اتفاق دي چې په دغو اوولسو ورځو کښې عبادت کول هم باعث ددېر ثواب دي . دعرفې ورځ . عاشورۍ

(دمحرم دمیاشتې لسمه) ورځ . دبرات دمیاشتې مینځنی ورځ . دجمعې ورځ . ددوارو اخترو ورځې . دذالحجې لس معلومې ورځې اودتشریق ورځې (دذالحجې یوولسم . دوولسم اودیارلسم تاریخ)
په دې ټولو ورځو کښې دجمعې ورځ او دروژې دمیاشتې دټولو ورځو په هکله ډېر ټینګار شوی دی.

نوټ : درجب دمیاشتې په لمړۍ ورځ پورته شی عبادت وکړئ اوپه ورځ بې روژه ونیسئ ددوارو اخترونو په شپو عبادت و کړئ . لکن په ورځوکښې بې روژه مه نیسئ دبرات (شعبان) په مینځنی اودعاشوری په شپو کښې عبادت وکړئ اوپه ورځو کښې بې روژه ونیسئ.(غنیة الطالبین ص ۳۴)
حضرت ذوالنون مصری رحمة الله علیه وایي چې درجب میاشت دبدیو دختمیدو لپاره اودبرات (شعبان) میاشت دعبادت کولو لپاره ده لکه څنګه چې دروژې میاشت دکرامتونو دلیدلو لپاره ده په رشتیا چې کوم شخص بد اعمال نه پریږدي . دلوی خدای تعالی بندګي او اطاعت ته غاړه نه ږدي اودلوی څښتن کرامتونه ته منتظر نه وي همدا شخص له دعبث کارونوله کوونکو څخه ده همداراز دذوالنون مصری رحمه الله وینا ده چې درجب میاشت دکښت کرلو میاشت ده یعنی په رجب کښې کښت کرل کیږی په شعبان کښې اوبیږی اوپه روژه کښې بې حاصلات اخیستل کیږی ،ظاهره ده چې حاصل اخیستونکی هغه څه رېبي کوم چې بې کرلې وي همداراز څوک چې څه کوي دهغه بدله به ورکول کیږی کوم څوک چې خپل کښت ضائع کوی دریبلو په وخت کښې به له پښیمانتیا سره مخامخ کیږی . ددې پایله (نتیجه) ضرور بده وي. (غنیة الطالبین ص ۳۳۹)

هره شپه دلیلة القدر (دقدر شپه) ده

که چېرې لیلة القدر دلغوی معنی په لحاظ مراد شی : نو هره شپه لیلة القدر اوقدر وړده . ځکه چی هره ورځ نعمت اوهره شپه دولت (شتمنی) ده .په حدیث شریف کښې راغلی دي چی هره ورځ دنیمې شپې نه وروسته الله جل جلاله ددنیا (اول) اسمان ته تشریف راوړي اودبندګانو ولور ته متوجه کیږی اودنیاازمونږ کور دي اوځمکه موفرش ده ګواکه لمړی اسمان ددنیا بام دي اودخونې بام دخونې جز وي لکه چی الله تعالی زمونږ کور ته تشریف راوړي اودانیکمرغی مو په برخه کیږی چی دپاچاهانو (شهنشاه) هره ورځ زمونږ کور (ددنیا اسمان) ته تشریف راوړي .مونږ ته متوجه کیږی اودنیکیوژمنه (وعده) راسره کوي .دخدای تعالی یوې بلې مهربانۍ ته ځیر شئ : که چېرې مونږ دکوم ملګری دروازې ته ورشو خصوصاً دیومرید (شاګرد) کورته ورشو . خودهمدې کور خلګ له مونږ سره خبري ونکړی نکاره خبره ده چی مونږ به مایوسه کیږو که مایوسه هم نه شو دومره ګیله خوبه ضرور وکړو چی مونږ کورته درغلو خوتاسو راسره خبرې و نه کړي.

که چېرې دکور خلګ ویده وي ، نو وبه وایو چی د اځنګه خوب دي چی زمونږ دورتګ یې کوم تصور ونکړ (مطلب داچی څومره تعلق زیاتیږی هغومره ګیله زیاتیږی) اوکه چېرې دخطه په واسطه سره لمړی خبر ورکړل شی چی په نیمه شپه کښې زه درځم پدي صورت کښې خو دي مریدانو ته دخوب اجازه هم نشته.او اوس دلوی خدای جل جلاله معامله وګورئ له دې سره سره چی دهغه الله جل جلاله حقوق واقعې اویقینې دي لیکن دخپل راتګ له خبر نه وروسته راځي اومونږ ویده وینی خوبیا هم نه ناراضه کیږی اووایې چی دي بنده یو مستحب کار پري ایښی دي او الله تعالی مونږ ته دبې همتی لقب نه راکوی سبحان الله څومره دمهربانۍ خاوند دي.

دحضرت مولانا اشرف علی تهانوی دبیان خلاصه داده: که چیرې موږ دکوم ملګری یامرید کورته ورشو او هغه له موږ سره خبری ونه کړی موږ به څومره خوابدي اوپه غصه شو ،خوالله تعالی زموږ کور (ددنیا اسمان) ته تشریف راوړي اوموږ په خوب ویده وینی بیاهم هغه الله تعالی له موږ څخه نه ناراضه کیږي ددي مهربانی تقاضا خو داده چی موږ هرڅه کولاي ددي لپاره چی الله رب العزة هیڅکله ناراضه نه شي دلوی خدای تعالی په حضور کښی هروخت عاجزی کول پکار دي .لنډه داچی هره شپه دقدر شپه (لیلة القدر) ده په دي معنی چی الله تعالی هره ورځ زموږ ولور ته په رحمت سره توجه کوی. (التبلیغ ص۳۰ ج۸ حضرت تهانوی(رح)) .

دبرات په شپه کښی درسول الله صلی الله علیه وسلم عمل

دځینو علماؤ په نزد ددي شپی یوه ځانګړتیا داهم چی هدیرې (مرستون) ته تلل هلته دټولو مسلمانو روح ته دمغفرت دعاکول اوڅه حصه دالله تعالی دکلام (قران) لوستل ثواب یې مرو ته وربخښل سنت دي حضرت عائشة رضی الله عنها وایي چې یوه شپه (پنځلسمه دشعبان) وه زما وار وو چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم زماخونې ته راغي کالي یې کښل چی لایې پوره کښلي نه وو بیرته یې واغوستل او ولاړشو ماورباندي بدګماني وکړه هسې نه چې دکومې بلې بې بې کوټې ته لاړشي ، زه هم دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په وروسته پټه پټه وروسې ولاړم ، چې کتل مي نبی کریم صلی الله علیه وسلم جنت البقیع (دمسلمانانو هدیرې) ته ولاړی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دمسلمانو ښځینه نارینه اوشهیدانو ته دوعا کوله .اومایه خپل زړه کښی وویل چی زما مور اوپلار دي ترتاقربان وي ماڅه مکر کوئ اوته څه کوې بیا بیرته رارهي شو اوزما کوټی ته راننوت اوویې ویل : ای عائشې ! ولی دي دومره ساه وکښه ؟ماورته

وويل :اى دخداى تعالى رسوله ! زمامور اوپلار دي تاقربان وي . ستا په تګ سره ما ته دابدګماني راپيدا شوه هسې نه چې دکومې بلې بي بي کوټې ته لاړ شې نوزه هم درپسې لاړم ترڅومې ته په جنت البقيع کښې په دوعا وليدلى .حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په جواب کښې راته وويل ! اى عائشې ايا ستا داخيال وو چې الله تعالى اودهغه رسول به ما سره ظلم وکړي؟ ، ماته حضرت جبرائيل راغى اوويې ويل چې نن دشعبان پنځلسمه شپه ده نن الله تعالى دبنوکلب دقبيلې دوزو دروزغنو (وېښتانو) په اندازه (دبنوکلب ترټولو ډېرې وزې وې) مخلوق له جهنم (دوزخ) څخه ازادوي.

البته :په مشرک ، حاسد (کينه کونکى) صله رحمى قطع کونکى ، ترپښو لاندى دپايڅو ځړونکي . دمور اوپلار نافرماني کونکى اودهميشه شراب څښونکى باندى درحمت نظر نه کوى .لدې وروسته نبى کريم صلى الله عليه وسلم کالى وکښل اوويې ويل چې اى عائشې آيا نن شپه دعبادت کولو اجازه راکوى ؟ (اجازه يې څکه غښنې وغوښته چې د محمد صلى الله عليه وسلم عادت داوو چې دشپې په څه حصه کښې به يې عبادت کاوو اوپاتې برخه به يې داستراحت او دخپلو بيبيانو دطبعيت سمولو لپاره امعلومه وله چې په دې شپه کښې يې امکان نه وو) حضرت عائشة رضى الله تعالى عنهاوايي ما ورته وويل هو زما مور اوپلار دې ترتاقربان وي هغه وو چې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم پر لمانځه ودريدى اويوه داسې اوږده سجده يې وکړه چې زما خيال شو هسې نه چې دمحمدصلى الله عليه وسلم ساه ختلې وي او روح يې قبض شوى وي زه ورولاړه شوم اودحضرت محمدصلى الله عليه وسلم پر تلو مې لاس ورکښېښود دمحمدصلى الله تعالى عليه واله وسلم په پښو کښې يوقسم حرکت وو

زما زړه پري مطمئن شو (دزوند مي يقين شو) اوحضرت محمد صلی الله عليه وسلم په سجده کښې داالفاظ ويل

اعوذ بعفوك من عقابك واعوذ برضاك من سخطك واعوذبك منك جل وجهك لااحصي ثناً عليك انت كما اثنيت على نفسك

ژباړه :زه ستا له غضبه ستا په عفوسره پناه غواړم (وستادناراضيتوب څخه پنا غواړم ستا په رضامندي سره اوزه له تاڅخه (ستا دعذاب څخه پناه) غواړم ستا په مهربانۍ سره ،ستا ذات لوی اوعالي دي ، زه ستا تعريف اوثناء نه شم ويلای لکه څنګه چې ته ثنا وايې پرځان خپل .حضرت عائشة رضی الله عنها وايي چې له حضرت محمدصلی الله تعالی عليه واله وسلم څخه پوښتنه وکړه چې دادوعا څه فضيلت لري ؟حضرت محمدصلی الله تعالی عليه واله وسلم په خوب کښې راته وويل : ای عائشي ! دادوعا زده کړه اونوروته يې هم ورزده کړه . ماته جبرائيل عليه السلام دادوعا رواښوولې . اوزه دادوعا په سجده کښې بيا بيا وايم (رواه البيهقي).

لدې تفصيل څخه به تاسوته ددې مبارکې شپې دستور (کړنلاره) معلومه شوې وي اودابه هم درته معلومه شوې وي چې په دې شپه کې بايد څه وکړو ؟څنګه عبادت وکړو څنګه هدېرې ته لاړشو اوهلته څه وکړو اوچې وروسته کورته راشو په عبادت مشغول شو دهغې طريقه ددې ټولو اعمالو کولو سنت طريقې به درته معلوم شوې وي. (فضائل الايام والشهور ص ۱۱۳).

دحضرت عائشة (رضی الله تعالی عنها) بزرګي

دحضرت عائشي رضی الله تعالی عنه دخواب حاصل دادي ای دخدای جل جلاله رسوله نعوذبالله چې الله جل جلاله اودهغه رسول به لماسره دظلم معامله کوي.خوزما فکر داوو چې الله تعالی به درته حکم کړي وي ، يابه تاسو دخپل اجتهاد له مخې دکومې بلې بي بي کوټې ته ځئ علامه ابن

حجر رحمه الله دحضرت عائشې (رضی الله تعالی عنها) ددې جواب په باره کې وايې چې خدای ناکرده (خدای مه کړه) که چېرې حضرت عائشة رضی الله تعالی عنها دمحمدصلی الله تعالی علیه واله وسلم په خواب کښې نعم (هو) ويلې واې نوخبره به ډېره باريکه شوې واې . آن داچې داخواب به کفر حساب شوی وای لکن حضرت عائشې (رضی الله تعالی عنها) له ذهانت څخه کارواخيست څکه يې خپله عاجزي اوعذر ښکار . کړ . بيا حضرت محمدصلی الله تعالی علیه واله وسلم دولاړيدو وجه بيان کړه چې د شعبان په پنځلسمه شپه ددنيا اسمان ته تشريف راوړي ، اويوبې پايه رحمت پرخپلو بندګانو کوي چې دبنوکلب دوزو دوزغنو (وړيو) په برابر خپل بندګان ددوزخ له اوره څخه ازاد وي ، نوځکه چې داوخت دلوی خدای جل جلاله دمهربانې اواحسان وخت دي څکه ماوغوښتل چې په دې مقدس اومبارک وخت کښې د خپل امت لپاره دمغفرت دوعاوې وکړم هغه وو چې جنت البقيع (دمسلمانانو هديرې) ته ولاړم هلته له لوی خدای جل جلاله څخه په مغفرت مشغول شوم . (مظاهر حق جديد ص۱۹۵ج۲)

دخدای جل جلاله دنظام سپکاوی

لوی خدای جل جلاله زموږ پر بدعملې اوبدکارې ښه عالم (پوه) دې په کومو ورځو کښې چې دبنده لپاره دډېر عمل کول ضرورت وي په هغو ورځو اوشپو موږ لا په ډېرو ګناهونو کښې بوخت يو موږ دانيمه زده کوو چې دبرات په پنځلسمه شپه کې پورته کيدل ضروري دي ليکن داځای موهير کړی چې ولې ؟ اوڅنګه پورته کيدل ضروري دي ؟ دخدای جل جلاله درضا اوخوشحالولو لپاره نه ، دخپلو ګناهونو څخه دتوبې کولو لپاره نه ، خدای جل جلاله درحمتونو څخه دبرخې اخستلو ، دخپلې عمل نامې څخه دګناهونو دپاکولو لپاره نه بلکه دخدای تعالی دقهر اوغضب دحاصلولو

لپاره دخپلو گناهونو دډېرولو لپاره . دخدای جل جلاله دنعمتوڅخه دځان لبرې کولو . دخپلې عمل نامې دتورولو اودنیکیو ختم کولو لپاره (الا ماشاء الله) ای مسلمانانو ! غور اوفکر وکړئ ! غورونه خلاص کړئ او واورئ ! لکه څنگه چې لوی خدای جل جلاله رحیم (رحمت کونکی) او غفار (بخښونکی) دی همداشان جبار اوقهار هم دي داسې عمل کول خودخدای تعالی په رحمتونو دملنډو وهلو سره برابر دي اولکه څنگه چې په ښو وختو کې داعمال صالحه (نیکو عملو) اجر زیاتیږي . همداشان دبدوکارو گناهونه هم زیاتیږي. تاسو فکر وکړئ که چېرې یوپاچا خپل فوځ ته امر اواعلان وکړي . چې سبا د(یوه معلومه ورځ) فلانکې گروند ته دفوځی ازمویښې لپاره راشي . خپلې فوځې تجربې ښکاره کړئ . دپاچاه له لورې به انعامونه درکړل شي اوفوځیانوداخبره واوریدله میدان (گروند) ته حاضر شول خودفوځی ازمویښې لپاره نه دفوځی شجاعت کمالات . دهرکلې اودفوځې قربانی دښکارولو لپاره نه بلکه دبناتیری لپاره آیا پردې به پاچاه غصه نشی ایا ددې پرځای چې فوځیانو ته انعامونه ورکړی لعنت اوسرزش به ورنکړي ؟ خامخا به یې ورکوی . غور اوفکر وکړئ په کومه طریقه چې موږ دبرات شپه دخدای تعالی په حضور کوم عملونه کړی .آیا دخدای تعالی قهر اوغضب به له هرلوري پر موږ نشی نازل . آیا داموږ دخدای تعالی پررحمتو پسخند نه دي وهلی بیا نو ولې مسلمان پر خپلو تکلیفونو اومصیبتونو ژاړي تراوسه موږاوتاسوڅه کړې دي خدای تعالی موږی اینبی دي خدای تعالی موهیر کړی دي دخدای تعالی دعبادت پر ځای په شیطانې اعمالو فخر کوو . خدای تعالی هم موږ پری اینبی یو . ای مسلمانو ! خپل عملونه بشپړ کړئ له نافرمانیو څخه راوگرځئ له عبث اوبې هوده کاروڅخه ځان وساتئ دیوه خدای تعالی بشپړ

تابع او مخلص بندګان شئ لکه څوارلس سوه کاله مخکې چې تاسو دهغه تابع واست . تاسو دخدای تعالی شئ خدای تعالی اوټول کائنات به ستاسو شي. (فضائل الایام و لشهور ص ۱۱۵)

دشپې په کومه برخه کې پورته کیږئ ؟

اوس دغور اوفکر ځای دادی چې دشپې په کومه برخه کې پورته کیدل افضل دي؟ ددې تعین له قران کریم څخه هم کیږی اوله حدیث مبارک څخه هم ځکه چې له قران څخه معلومیږی چی دشپې په اخیره برخه کښې پورته کیدل ضروري ده . لکه څنګه چې الله تعالی وایي:

(إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْأً وَأَقْوَمُ قِيلاً ۷) (المزمل پاره ۲۹)

البته دشپې پورته کیدل سخت تکلیف دي لکن خبرې یې صحیح برابرې دي اوله ناشئة اللیل څخه له خوبه وروسته ثابتیږی ځکه ددې په اختیار سره پر نفس ډیر تکلیف راځی نو ځکه داافضل دي اودسورة له اخیری برخې څخه هم معلومیږی دابهتری له قران کریم اوله حدیث شریف څخه هم معلومیږی (۲ الله تعالی وایي) دشپې دآخیرې حصې فضیلت له ډیر مختلفو احادیثو څخه معلومیږی اوله عقل څخه هم دامعلومیږی ځکه چې داوخت دخوب وي اوخوب پری نبودل مشکل ،ګران وي په یوه حدیث کښی راغلی دي چې کوم شخص دشپې پورته شي عاجزي او زاری کوي زه الله تعالی له هغه څخه ډیر خوشحالیږم . ځکه چې زما درضا لپاره یې خپله محبوبه اوتودده (ګرمه) بستره پری ایښی وي لدي نه هم معلومیږی چې دشپې اخیرې حصه ډیر فضیلت لري لکن که چا ته داکار مشکل وو بیا دي دشپې په اوله حصه کښی څه برخه مختاره کړي ځکه چې په نورو شپو کې لوی خدای تعالی دشپې په اخیرې برخه کښی ددنیا اسمان ته راځی اوپه دې شپه (دشعبان پنځلسمه) کې له لمرلویدو وروسته راکوزیږي ځکه چې

کومو خلگو ته دشپې په اخیره کښې عبادت کول مشکل وي هغه دی دافضیلت دشپې په لومړۍ برخه کښې حاصل کړی ، کمه درجه یې داده چې دماخستن ترلمانځه پورې دې په عبادت کښې مشغول شي.
(التبلیغ ص ۳۲ ج ۸).

دشیطان دهوکه (چل):

دادنفس عادت دې چې کله یوانسان دثواب حاصلولو اراده وکړي ، نفس ورته خپلې بانې جوړ وې ځویې له دې کاره وګرځوی همداشان ، دبرات دشپې اوشب قدر دعبادت په وخت نفس انسان ته دهوکه ورکوی چې دشپې په اخیره کښې عمل فضیلت لرې دشپې په اوله برخه کښې څه فائده لری ؟ وګورئ څومره دافسوس ځای ده دشپې په اوله حصه کښې په دامې شان لدې عظیم عبادت څخه بې برخې کیږی ، بعض انسانان دنفس په ډیر خفی (پټ) چل سره غولیږی ددې لپاره عبادت کوی چې زه په خلګو کښې مشهور شم په دې سره نفس خوشحالیږی خو داعبادت هیڅ ګټه نه لری خینی خلګ په دې نیت دشپې په اخیرہ حصه کښې راپورته کیږی چې په خلګو کښې ممتاز عابد ونوموول شی لکن افسوس داتکبر اوغرور دي چاته چې تکبر او غرور خوښ وي الله تعالی ته ډیر مبغوض دي (التبلیغ ص ۲۷ ج ۸)

په مبارکه شپه کښې ګناه کول

ددې مبارکې شپې ډیر فضیلت دې اوپه دې شپه کښې ګناه کول هم ډیره ګناه لرې په نسبت دنورو وختو ، لکه څنګه چې دځای حکم دې همداشان دزمان (وخت) حکم دي دمثال په توګه : په یوه عام ځای کښې ګناه کول ، اوپه مسجد کښې ګناه کول ډیر فرق سره لری بیا په مسجدو کښې مسجد

نبوی اومسجد حرام په کوم کښې چې لمونځ کول ترنورو زیات (ډیر) ثواب لری . په داسې پ ک ځی کښې گناه کول اوپه مسجد کښې گناه کول ډیر عذاب لری لکه څنګه چې په یوه عام وخت کښې گناه کول اوبل په یوه مبارک وخت کښې ډیر لوی عذاب لری مثلاً : په روژه کښې گناه کول ډیر بدکار دي ترديې چې بيله روژې وي داهم مبارکې ورځې دي په دې کښې گناه کول ډیر لوی عذاب لری . (التبلیغ ص۷۵ ج۸)

ددې شپې ګناه :

کومه گناه چې په دې شپه کښې کیږی دوه ډوله ده : یوډول هغه گناه چې دعبادت په رنګ نه وي ددې بدوالی ډیر ظاهر اوښکاره ده . لکه پډې شپه اورونه لګول . له دې څخه ډیر زیاته نقصانات راپیدا کیږی مالی تاوان هم دي ، اوکله دچا لاس ، یا کور یابل څه اندام پری سوي وي له گناه څخه علاوه نور نقصانات هم ورسره ترلی دي دوهم ډول هغه گناه ده چې په رنګ دعبادت سره وي . دابدعت ده لکه څنګه چې په اکثره خلکو کښې دارواج دي چې په دې شپه (حلوی) پخوي څنګه چې په بدعت کښې خوند یامزه ډیره ده څکه ډیر انسانان پرې مبتلا دي . اودخپلو په جوړولو سره یې روابولې یوتأویل (حیله) داده چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم غاښ مبارک شهید شوی وو اومحمد صلی الله علیه وسلم حلوی خوړله . داخبره غلطه ده دا عقیده لرل گناه ده څکه چې داواقعه په شوال کښې وه بعض خلک وایې دادحضرت امیر حمزه رضی الله تعالی عنه دشهادت ورځې دي دادهغه فاتحه ده . داهم بې بنیاده ده څکه چې دحضرت حمزه رضی الله تعالی عنه شهادت هم په شوال کښې وو . اصلاح الرسوم ص۱۳۲

اکثره خلګ په داسې ګناه اخته دي چې دامنع کيږي هم نه څکه چې بدعت کښې ډير خوند دي . بدعت هم يوه عظيمه ګناه ده لازمه ده چې په دې مبارکه شپه کښې ځان ترينه وژغورئ .(التبليغ ص ۲۴ ج ۸)

دالفيه (زرګوني) لمانځه حقيقت:

داخبره هم دياد ولو وړ ده چې په ځينو کتابونو کښې ليکلې دي چې دشعبان په پنځلسمه شپه د خاص نفل (چې سل رکعته او په هر رکعت کښې لس . لس ځله قل هو الله ويل کيږي) چې کول يې په کار ده څکه داپه کوم قوئ حديث ، يا ديو صحابي او تابعي له قول څخه نه ده ثابته ، دعبادت په تعين کښې کوم قيد نشته . په احاديثو کښې دمبارکو شپو په عبادت کښې کوم قيد نشته . کوم چې چاته اسانه وي بايد هغه وکړي . که څوک نوافل کوي او که تسبيحات ورته عام اختيار شته کوم چې دمخکې علماؤو له لورې دنوافلو کوم خاص هيئت ذکر شوی دي . ددې سبب دادی چې کوم پير وخپل مريد ته په يو خاص حالت کښې داطريقه ويلې وي ، خودهغه لپاره ضرور يو مصلحت ده . لکن داطريقه عامول بدعت دي ، همداشان نورو بزرګانو ته بدويل رواندي په حديث شريف کښې کوم معلوم عمل نه دي راغلی که غواړی چې تلاوت وکړي . يا دلوی خدای تعالی ذکر وکړي . يانوافل وکړی اويا نصيحت بل چاته کوي يا يې پخپله واوري لکه څنګه چې حضرت اشرف علی تهانوی صاحب فرمايلې دي په کانپور کښې موږ په دې شپه باندې نصيحت (تبليغ) کاووځکه چې په نصيحت کښې سړی ته خوب نه ورځي ،خوبيا هم ځينې ملګري ويده وو (التبليغ صحه ۴۱ ج ۸)

ښه فکر وکړئ چې په دې شپه کښې دعبادت کومه خاصه طريقه نه ده ثابته . خو ښه موکه دچانصيحت اورئ . نوکه نفل کوي او که تلاوت قران کريم کوئ دهرڅه اختيار دي داکوم حديث چې دي: (صوموا نهارها) داامر هم

لپاره داستحباب دي یادپنځلسمې ورځې روژه نیول مستحب ده فرض اوواجب نه ده . غرض (قوموا الیلها) له دي څخه ددې شپې فضیلت ثابتیږی اوپه حدیث کښې راغلی چې لوی خدای تعالی په دې شپه کښې ددنیاااسمان ته راکوزیږی (هل من داع فاستجیب له هل من مستغفرفاغفرله) یعني کوم دمغفرت غوښتونکی شته چې بخښنه ورته وکړو ؟آیا کوم دوعاکونکی شته چې دوعا یې قبوله کړو ؟ ترسهاره پورې به درحمت لمن ویږه وي . (التبلیغ ص۸۴ ج ۸ الترغیب ص۱۰۴ ج۲) .

دبخښنې په شپه کښې هم یې برخیتوب

وعن ابی موسی الاشعری رضی الله تعالی عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الله تعالی لیطلع فی لیلة النصف من شعبان فیغفرلجمیع خلقه الالمشرک اومشاحن –رواه ابن ماجة ورواه احمد عن عبدالله بن عمر وبن العاص رضی الله تعالی عنهم

ژباړه : له حضرت ابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وویل: لوی خدای جل جلاله دشعبان (برات) په پنځلسمه شپه خپل مخلوق ته متوجه کیږی له مشرک اوحاسد څخه علاوه نورو ټولو ته بخښنه کوی په یوبل روایت کښې راغلی دي چې له کینه گر اوله ناحقه وژونکی څخه علاوه نورو ته بخښنه کوی.

تشریح : دحدیث شریف حاصل دادی چې لوی خدای جل جلاله په دې مبارکه اومقدسه شپه کښې له خپل رحمته سره مخلوق ته متوجه کیږی ، رحمت یې دومره په جوش راځی چې خپل حقوق هم ورمعافوی (بخښی) اوانسان ته دومره مهلت ورکوی چې دخدای تعالی په بندگۍ عبادت

او طاعت کښې نیمګړتیا ولرې باید بشپړ یې کړي او د تیر وخت له اعمالو توبه وکاږي نو به یې توبه قبوله کړي . او که چېری توبه ونه کاږي او خپلو بدو عملو او بد اعتقاد ته دوام ورکړي الله تعالی به یې پخپل عذاب مبتلا کړي . له حاسد (کینه) څخه هغه شخص مراد دي او په خپله سینه بغیر له کومې شرعي وجې بلکه دخپلې نفسي تقاضا له وجې له چا سره حسد او کینه کوی او په خپله سینه کښې دحسد اور بلوي داسې بدبخت انسان ددې مبارکې شپې له برکته څخه هم بې برخې دي داسې څوک به دخدای تعالی له رحمته او بخښنې څخه بې برخې وي : ددې تفصیل په مختلفو احادیثو کښې راغلی دي .چې ددې شپې له برکته ، مشرک ، ناحقه قاتل او کینه ګر بې برخې دي په ځینو روایتو کښې داهم راغلی دي چې صله رحمي قطع کونکی (له ورورو ، قریبه او دوست سره تعلق نه ساتی) هم الله تعالی نه بخښي .او په ځینو روایتونو کښې داهم راغلی دي چې پایڅې (پرتوګ ترپنډیو) کښته کونکی ، دمور او پلار نافرمانې کونکی ، همیشه شراب څښونکی ، زاني ، او په ظلم محصول اخستونکی ، جاذوګر ، کاهن (دغیب خبرې کونکی) اوسازنده اوباجه غږونکی پر دې ټولو دخدای تعالی درحمت نظر په دې مبارکه شپه کښې نه کیږی (انوذبالله خدای تعالی ته پخپل فضل کرم موږ ته هدایت وکړی او له داسې خلکو څخه مو مه حسابوی. (مظاهر حق جدید ص۲۰۲ ج۲).

دبې برخې خلکو لست

له مختلفو روایاتو څخه دبرات دپنځلسمې شپې فضیلت په روښانه توګه معلوم دي چې داشپه دالله تعالی په وړاندی مبارکه اوقیمتې شپه ده ، او الله تعالی پرخپلو بندګانو عام رحمت کوی او خاصه توجه لکن دارحمت پرهغو کسانو کوی چی هغوی هم ددې رحمت په انتظار ناست وي خپل

دنيوې اواخروې حاجات دلوى خداى تعالى په وړاندى عرضوى اولوى خداى جل جلاله يې ورپوره كوى لكن ځينى داسى سخت ګناهونه دي چې ترڅو ورځخه توبه ونكړى سوال يې نه قبليږى :
اول: مشرک دوهم: كينه ګر دريم: دمور اوپلار نافرمان څلورم: زانى پنځم: شراب خور شپږم : كاهن اووم : صله رحمى قطع كونكى اتم: پرتوګ تر پنډيو لاندى كونكى .دلته دهر يوه په اړه څه تفصيل ته ضرورت دي:

شرک : دخداى تعالى په ذات اوصفاتو كښى بل څوک شريک كول ، اوله هغه سره دمعبود په شان معامله كول اودهغه عبادت كول او نور .... دالله تعالى ارشاد دي(**إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا**) (پاره ۵ سورة النساء)

ژباړه : بيشكه الله تعالى بخښنه نه كوى هغه چاته چې له الله تعالى سره شريک نيسى ، اوله دي لاندى نورو ته بخښنه كوى چې خوښه يې شى ،
دوهم ايت: (**وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لاَ تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ١٣**) (سورة لقمان . پاره ۲۱)

ژباړه :اوكله چې لقمان وويل خپل زوى ته كله چې يې هغه ته نصيحت كوى اى زويه له الله تعالى سره شرک مه نيسه ځكه چې شريک نيول لوى ظلم دي له خداى جل جلاله سره شريک نيول داډير لوى جرم اونافرمانې ده . اودبخښنې قابل هم نه ده پرخپل ځان باندى تر دي بل لوى ظلم نشته چې هميشه په هلاكت اوبربادې كښى وي الله تعالى چې دځمکې او اسمانونو خالق دي ، دټولومخلوقاتو مالک ، يوازې اوبې احتياجه دي ، دهغه هيڅ

شریک نشته ((قل هو الله احد) لوی خدای جل جلاله چی کریم اورحیم ذات دي داسې چاته مغفرت نه کوی . لکه څنګه چې دخدای تعالی له ذات سره شریک نیول ظلم عظیم دي ، همدارنګه دهغه له صفاتو کمالیه وو سره شریک نیول هم لویه ګناه ده. (حقیقت شب برات ص ۱۹)

کینه څه ته وایې ؟

دیو مسلمان له بل مسلمان سره کینه کول بالکل ناروا ده او دخدای تعالی له رحمت څخه دلرې کیدو سبب دي الله تعالی فرمایي:

(خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ ۱۹۹) پاره ۹ سورة الاعراف .

عفوه او درګذر خوښه کړه ، په نیکې امر کوه اوله جاهلانو څخه ځان وژغوره . له انسان څخه حتما خطایې کیږی که چیرې داسې وشول . بیا معافې دالله تعالی ډیره خوښه ده ، ځکه یې وفرمایل چی معافی (بخښنه) اختیار کړه او که له بې عقلانو څخه چیرته کومه خبره درته وشی ، ځان ترینه وژغوره ، جنګ او جدال مه ورسره کوه حدیث شریف کښی راغلی دي قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتباغضوا: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: چې یوله بله سره بغض مه کوی.

کینه : کومې ته چې په عربی کښی حسد وایې تعریف یې داسې شوی دي کله چې له یوه دښمن څخه انتقام (بدله) اخیستل ممکن نوی . دخپل قهر په راکنترولولو سره پر زړه تکلیف راځی .بس ددې علاج دادی چی دخپل

مقابل شخص بدی ورمعاف کړه او راشه دواړه ورسر شروع کړه په یوځو ورځو کښې به ټول مشکل حل شي. (تعلیم الدین مولانا تهانوی رحمه الله ص ۵۸).

په حدیث شریف کښې راغلی دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ویلی دي چې تعلق ختم کونکی جنت ته نه شی داخیلیدلای (بخاری . مسلم)

له حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې په هره دوشنبه اوپنج شنبه دجنت دروازې خلاصیږی اوهر هغه بنده ته مغفرت (بخښنه) کیږی چې له خدای تعالی سره شریک ونه نیسی لکن هغه څوک لدې مغفرت څخه بې برخې دي چې دده اودمسلمان ورور په مینځ کښی کینه وي. (مشکوة ص ۴۲۷).

له حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي: چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې په هره هفته کښی په دوشنبه اوپنج شنبه دټولو انسانانو اعمال خدای تعالی ته وړاندی کیږی ، اوهر مؤمن ته بخښنه کیږی . مگر نه هغه خلگو ته چې یوله بل سره کینه ولری ، او ددې خبرې ډیر تائید کوو . چې داخلګ دي کینه پریږدي اویوله بل سره دي ملاقات وکړی. (مشکوة شریف ص ۴۲۸)

په دې روایاتو کښی دکینه دبدعمل بیان شوی دي کوم چې په دنیا اواخرت کښی دهلاکت سبب دي خپل مینځې اړیکې خدای تعالی ته ډیرې خوښې دي ، که چېرې دڅه مشکل له وجې کوم خفگان پیښ شی ، باید ژر صلح وشې او چې اوږ دنشې . ددې لپاره بنه لاره سلام اچول دي چې دتعلق اومحبت یوازنی لاره ده .تر درو شپو او ورځو زیات باید تعلق پرې نشې څکه چې په حدیث شریف کښی راغلی دي چې له خپل ورور (مسلمان) سره تر درو شپو او ورځو زیات خفگان کول حرام دي چې یو له بله په تریو تندی سره گوری. *(مولانامحمد رفعت قاسمی)*

صله رحمي قطع كول څه ته وايي؟

څرنګه چې دقريبانو اوخپلوانو حقوق پرموږ واجب دي . دهغو نه اداكول . له هغوی سره بده رويه (سلوک) كول اوتعلقات ختم كول دصله رحمی قطع كول دي .په احاديثو كښې دكينې ډير بدوالی ، راغلی دي ، اوكينه ګر ته يې ډير بدويلی ، دنبی كريم صلی الله عليه وسلم وينا ده چې دوې ګنا وې ډيرې سختې دي چې كونكی ته يې په دنيا او هم اخرت كښې عذاب وركول كيږی(۱) بغاوت(ظلم) (۲) صله رحمی قطع كونكی(مشكوة شريف).

په ډيرو احاديثو كښې راغلی دي چې الله تعالی فرمايلي دي: د(رحم) لفظ دالله تعالی له پاک صفت رحمن څخه مشتق دي څوک چې . له چاسره رحم كوی رحمن پرهغه باندی رحم كوی ، اوڅوک چې له چاسره ، قطع كوی رحمن به له هغه قطع كوی (فضائل صدقات ص ۲۱۹ ج ۱) فقيه ابو الليث رحمة الله عليه ويلی دي: چې صله رحمی قطع كول دومره بده ګناه ده چې دډيرې او مرتبې خاوندان هم دخدای تعالی له رحمته بې برخې كوی ، نوځكه دهر مسلمان لپاره لازمه ده چې ډير ژر له دې بده كاره توبه وكاړی اوكه يې چېرې عادت وي نو ضرور دې پرېږدي اوتعلق دې زيات كړی.

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه يوه وروځ دسهار له لمانځه وروسته يوه مجلس ته تشريف يووړ او ورته يې وويل: كه په تاسو كښې څوک دصله رحمی قطع كونكی وي لاړ دي شی ځكه چې موږ خدای تعالی ته سوال اودوعاوې كوو اوپر صله قطع كونكی دخدای تعالی درحمت دروازې بندې وي .وګورئ څومره دناراضئ ځای دي ، شايد چې دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه جنره دې دقران اواحاديثو په رڼا كی وي ددوعا په كولو كښې له صله رحمی نه توبه ضروري ده .كه چېرې دوعا په اجتماع سره كيږی ، ددوعاء په ادابو كښې داهم ده چې له داسې

ګناهونو څخه به پاک وي چې دخدای تعالی رحمت وربا ندی نه کیږی ، کله چې دکینی دومره ګناه ده چې په سبب سره یې بل څوک دخدای تعالی له رحمته لېرې کیږی نوپخلپه به دکینه ګر څه حال وي ، همدا راز ددې شخص توبه نه قبلیږی ترڅو چې یې ځان ترې ساتلی نه وي. (حقیقت شب برات ص۲۴)
په خپلو مینځو کښې دښمنی کول . ډیروخت دحق اوناحق په فرق کښې غفلت وي ، دبل حق چې دکوم چا پرذمه وي هغه له نظره غورځوی .
دشریعت پاک تعلیم دادی که چیرې ددوو ورونو په خپل مینځ کښې کوم تعصب پیدا شي باید په ایمانداری سره هر شخص خپلې ګناه ته ځیر شي اوخپله ګناه تسلیم کړی اوتوبه ترینه وکاږی اوصلح وکړی .اوخپله ایمانې جذبه باید رامخ ته کړی اوترټولو مخکې صلحې ته غاړه کښیږدي .خدای تعالی چې انسان ته کوم جسم اوصورت ورکړی دایو امانت دي . انسان ددې په سبب سره په نیک کار کښې پوره کوشش کولای شی ، بایدضائع یې نکړی او کوم شخص چې داخیانت کوي بدیانتې کوی دخدای تعالی په نزد داشخص لوی مجرم اوباغی دي ، کوم څوک چې دشپې له برکتنه څخه بې برخې شي دنورو ډیرو سزاګانو مستحق ګرځي. (الترغیب ص۳۶۰ ج۳).

تر پنډیو لاندې دپایڅو ځړول

تر پنډیو لاندې پرتوګ یا لنګ کول یا لوی لستونې جوړول یا لوشمله پریښوول ، دبخاری اومسلم شریف په حدیث کښې راغلې دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل: چې دخدای تعالی درحمت نظر پرهغو خلکو نه کیږی چې پایڅې یا لنګ تر پنډیو لاندی کوی.

دوهم :په دوهم حدیث کښې ددې اندازه معلومه شوی ده . چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: دکوم چا پرتوګ چې ترپنډیو لاندې وي داشخص به په دوږخ کښې وي . (بخاری شریف).

دريم: په دريم حديث کښې دنورو جامو ځړول هم حرام بلل شوی دي نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي: چې اسبال) يعنی اوږدول له ځيلې اندازې څخه که پرتوګ وي که کرتي ، او لنګوټه نوداکه د تکبر له وجې اوږده وي الله تعالی ورته درحمت په نظر نه ګوري.ددې حديث روايت (ابو داؤد ، نسائي اوابن ماجه کړی دي) .او ددې په تائيد کښې يوبل حديث داسې دي چې کوم شخص خپلې جامې ځړولې وي خدای تعالی ورته درحمت په نظر نه ګوري(ددې حديث روايت امام بخاری شريف کړی دي) .په دې حديث کښې مطلق کالې ذکر شوی دي ، مګر دپای په څو حديثو کښې ذکر شوی دي.اودنورو جامو په هکله علماؤو محقيقنو ويلې چې لستوڼې ترګوتو تيريدل اوشمله ترنيمي ملاتيريدل داټول په اسبال کښې داخل دي او ممنوع دي.بعض کم فهم خلګ وايې چې داممنوع هغه وخت ده چې دتکبر له وجې وي که څيرشو لمرې خو داويل غلط دي چې وايې موږ خوتکبر نه کوو، بيانو ولی داسې کوی ، سنت طريقه ولې نه اختيار وي ددې په اختيارولو کښې مو زړه ولی تنګيږي ، لنډې پايڅې مو ولی نه خوښيږي آيا داتکبر نه ده نوڅه ده ؟ بل په حديث شريف کښې چې کوم دتکبر لفظ راغلی دي داقيد اتفاقی ده احترازی نه ده څنګه چې يې اکثره خلګ دتکبر له وجې کوی نوځکه (نبی کريم صلی الله عليه وسلم) داقيد ذکر کړ لکن دامطلق حرام دي په بل حديث کښې چې دپنډيو حد معلوم شوی هلته پکښې دتکبر لفظ نشته مطلق ناروا ده که دتکبر له وجې وي اوکه بغير دتکبر ، مګر که دتکبر له وجې وي بيا دوې ګنا وې شوی اوبيله تکبره يوه ګناه ده ، هسې دروا والی لپاره بانې مه لټوئ ، که څوک وايې چې دامطلق (بغير له قيده دتکبر) موږ په مقيد (سره له قيده

د تکبره) حمل کوو ، ددې خواب په اصول فقه حنفي کښې شوی چې مطلق پرخپل اطلاق پاته دي ، غرض داچې دروا والی لپاره هیڅ صورت نشته .
څینی خلګ په لمانځه کښې پایڅې یانور کالي برابر وي لکن له لمانځه نه بغیر هم له ګناه څخه ځان ساتل پکار ده بعض خلګ پایڅې غټې (اوږدې) جوړ وې خو بیا یې په لمانځه کښې بیرته راټولوي مګر اصلا په وخت ضائع کولو کی ګناه ده که پنډۍ پټې وي که ښکاره ، او خیاط ته هم داسې کالي جوړول جائز نه دي ځکه چې په ګناه کښې کومک کول هم ګناه ده ، باید ټول خیاطان داسې ناروا کالي جوړ نکړي له خدای تعالی څخه دې حلاله روزۍ (رزق) طلب کړي . (اصلاح الرسوم ص ۲۸).

دسپې شرعی حکم

دناروا رواجو څخه تصویر (عکس) اوسپی بلا ضرورته ساتل هم شامل دي دبخاری اومسلم شریف په حدیث کښې راغلی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې هغه کورته درحمت ملائکې نه داخلیږی چې پکښې سپی یاعکس وي .نبیٔ کریم صلی الله علیه وسلم ویلي چې ترټولو غټه ګناه تصویر جوړول دي یوه حدیث کښې راځی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ویلي چې ترټولو غټه ګناه تصویر جوړول دي ، یوه حدیث شریف کښې راځی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ویلې: څوک له دریو غرضو بغیر سپی ساتی.

اول: دمال(پیسو) دحفاظت لپاره

دوهم: دښکار لپاره دریم:

دکور یا کښت دحفاظت لپاره دهغه له ثوابه هره ورځ یو قیراط کمیږی (دقیراط اندازه په حدیث کښې داحد دغره په مثال ده) داحدیث په بخاری شریف اومسلم کښې راغلی په دې احادیثو کښې تصویر جوړول ، تصویر

ښوول بغير له ضرورته سپي دزول حرام ثابت شوی دي دجديد تهذيب په لوازمو کي ښلل شوی وي لږ حقيقت ته خير شئ . له دي دواړو شيانو څخه پوره ځان وساتئ . دبعض خلګو عقلونه دې حال ته رارسيدلي دي چې دسپيو صفات حميده (ښه صفات) بيانوي اودممانعت لاره بند وي خو په پټه کې حکم شرعي لغو کوی خوکه دچا داخيال وي نو دايمان دنوی کولو ضرورت ورته شته . له مسلمانيدو وروسته دشرعي احکامو دعلت پوښتنه (طلب) کول مناسب نه دي ډير مجازي (دنيوی) احکام په علت سره نه معلوميږی . بې له علته يې منل لازم دي دحاکم حقيقي لوی خدای تعالی په حکم کښې ولی څه څوک ويل وکړي ؟که څوک ووايي چې زموږ ددين احکام له عقل سره برابر دي ، مگر ددې ځواب دادي چې له عقل سره برابر دي مگر بعض احکام ته عقل نه شي رسيدلای .مثلا ډير شيان په سترګو ليدل کيږی مگر په صحيح توګه يې سترګی ادراک شي کولای . دادعقل کار دي چې داحکامو علت وپيژني . داعقل دانبياء عليهم السلام دکامل اولياء اودعلماء راسخينو عقل وو چې دلوی خدای تعالی خاص رحمت وو . دعامو خلګو په عقل کښې دومره قوت نشته . اوددي زماني متعلمين دعامو له صفه نه وزي .داچې له دې څخه ددين اصول مراد دي چې دا عقلي دي يعنی: څوک چې قران کريم اوحديث نه مني ، پرتوحيد (دالله تعالی پريوازی ذات) اورسالت ايمان يې علم په دليل عقلی سره هم ثابتيږی اوفروعی شيان يعنی فلانکی شی ولی حرام دي فلانکی ولی حلال دي داسې شيان په عقل سره ثابتول ضروري نه دہ بلکه ددې منل په دليل شرعی سره پکار دہ . اودعقل موافقه هم داخبره دہ چې حاکم ، حاکم منل په دلائل مختلفه ؤسره کله چې حاکم په حاکم ومنل شی . بيا دهغه دهرحکم دلائل پوښتل يوقسم بغاوت (نافرماني) دہ يعنی چې کله خدای تعالی

ومنی ایمان ورباندی راوړي بیا باید دهغه هرحکم ومنل شي . اوعلت یې ونه پوښتل شي ځکه چې دنیایې قوانین په وجه اوعلت سره زموږ په ذهن کښی نه راځی مطلب غرض داچې شرعې حکم بې له کومې نزاع څخه منل واجب دي هو . وروسته له منلو څخه دکوم حکمت لپاره که تحقیق وشی داجائز دي بعض خلګ حیله جوړ وي چې موږ سپی دحفاظت لپاره ساتو ، لکن پوه شئ چې الله تعالی په هرنیت عالم اوپوه دي که چېرې فقط یوازې دطبعیت برابرولو لپاره ساتل کیږی دابالکل حرام دي سپی خوهغه څوک ساتی چې پیره دار یې نوی خپل مال . کور اوپسونه ورباندی ساتې نن سبا خو الحمدالله دهرچا پیره دارشته نودسپی څه ضروت دي ؟

همداشان دښکار تمام اسباب شته ، لکه: کلاشینکوف . توپک اوتوپنچه ، نوولی سپی څوک وساتی ؟ (اصلاح الرسوم ص ۳۰ از حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه)

دتصویر شرعي حکم

ځینی خلګ وایې چې ناجائز خو پوره (مکمل) تصویر دي موږ خونصف تصویر جوړ وو او ساتوبې نوځکه داجائز دي کله چې په تصویر کښی داسې عضو(اندام) نه وي چې بغیر له هغه ژوند ممکن نوی داجائز دي حقیقت دادي چې عکس (تصویر) ترهغوپوری ناجائز دي چې ترڅو دهغه حیوان شکل ته بند معلومیږی . مثلا که دانسان نمایې تصویر واخیستل شی چې مخ اونوری اعضاوې یې معلومیږی دابالکل حرام وي ، اوداسی نورحیوانات .ځینی خلګ اعتراضات کوي چې دروپو (پیسو) عکسو نه هم باید ناجائز شي ځکه له هغه څخه هم انسان معلومیږی ؟

ځواب دادي چې دلته اشد (سخت) ضرورت دي اودضرورت په وخت کښی مکلفیت کمیږي او نور خلګ یوازې دشوق لپاره سپی ساتې چې داقطعا حرام دي. (اصلاح الرسوم ص۳۱)

مسئله : په کوم کور کښې چې سپې سور (خنزير) . شراب ، زانې يا زانيه او تصوير (عکس) وي داسې کور ته د رحمت ملائکه نه داخليږي.
(غنية الطالبين ص ۳۸۰).

دنجوم علم

حضرت عبدالله ابن عباس له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي: چې چا د علم نجوم يو څه برخه چې د شريعت مخالفه وي حاصل کړي گواکې دې شخص جادو حاصل کړ او نجومي کاهن دي کاهن جادوگر دي او جادوگر کافر دي. (مشکوة ص ۳۹۴).

له حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وويل: (ومن سحر فقداشرك .

ژباړه . چاچې جادو وکړ هغه مشرک شو. (نسائي شريف ص ۱۷۱ ج ۲)

جادو او داسې نور تمام (ټول) د شرک او کفر بناخونه دي کوم چې بالکل حرام دي همداشان جادو کول هم حرام دي او بل چاته جادو ورکول هم حرام دي نن سبا دعامو خلگو باوجود خواص هم په دې مهلک مرض کښې مبتلا دي. چيرې چې له چاسره يې دښمني وي يا کومه بله خبره وي ، ضرور جادو ورباندې کوي او د خپل زړه براس ورباندې کاږي ښځينه مخلوق هم په دې کښې مبتلا (اخته) دي کله چې معلومې خبرې مخ ته راشي ضرورمندې وهي او دا جادو کوي که چيرې يوه مسلمان ته کوم ضرر ورسيده مخکې وعيد ونه ورته راجمع کيږي او دا کار قطعا ناجائز او حرام دي .لدې ټولو شيانو څخه ځان ساتل پکار ده ، څوک چې دا کار کوي هغه هم سخت گنهگار دي او پر دې باندې اجرت (مزدورې) اخيستل او ورکول دواړه حرام دي . (حقيقت شب برات ص ۱۵).

دشراب څښلو حکم

اسلام شراب اوهره نشه کونکی شی حرام کړی دي . په قران کريم اواحاديثو کښې ددې حرمت مفصل بيان شوی دي.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الخَمْرُ وَالمَيْسِرُ وَالأَنْصَابُ وَالأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۹۰) (پاره۷ رکوع۲)

ژباړه اي هغوکسانوچې ايمان موراوړي بې شکه شراب ، خمار . اوبت پرستې ټول بدله کارونودشيطان څخه دي نوپرهيز ترينه وکړئ ښايې چې خلاصون وموموئ. په مشکوة شريف ص (۳۸۲) کښې حضرت ابن عباس له نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوی چې:(**كل مسكر حرام**) هرنشه کونکی شی حرام دي.

له حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روايت دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وويل: احسان اچونکی ، دمور او پلار نافرمانې کونکې اوشراب څښونکی به جنت ته نه داخليږی (مشکوة شريف ص ۴۲۰) په يوه بل حديث کښې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه ارشاد دي: چې پر دريو خلکو جنت حرام دي له هغو څخه يو شراب خوردي (مشکوة شريف ص ۳۱۸)

دغيب ويونکی حکم

په حقيقت کښې علم غيب د خدای تعالی ذاتي صفت دي له الله تعالی څخه بغير علم غيب په خپله اصطلاحي معنی دبل چا لپاره نشته نوځکه دغيب خبرې ويل اوپلټل يې په هره طريقه چې وي صحيح نه دي شريعت بالکل حرام بللی دي . په قران کريم او احاديثو کښې ددې تفصيل راغلی دي چې

علم غیب یوازې خدای تعالی لره ثابت دي د لوی خدای تعالی فرمان دي
چی ((إِنَّ اللّٰهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ)) (پاره ۲۱ سورۂ لقمن).
په احادیثو کښی پرداسې شخص چې دعلم غیب خبرې پوښتې اوبل چاته
بې وایې سخت عذاب راغلی دي له حضرت حفصې رضی الله عنها څخه
روایت دي: چې څوک دهغه چا څنگ ته راشې چې هغه دعلم غیب خبرې
کوی اوله هغه څخه کومه خبره وپوښتې ددې شخص لمونځ (۴۰) ورځې نه
قبلیږي (مشکوة ص ۳۹۳).

دمور اوپلار نافرمانې کونکی حکم

دانسان په تربیه کښی دمور اوپلار درجه له ټولو انسانانو څخه لوړه ده.
نوځکه هر راز نیکې او ښه رویه له مور اوپلار سره پکار ده. په خاصه توگه
چې کله یوله دوی څخه بوډا شی. په داسې حالت کښی لازمه ده چې هر راز
خدمت او په نرمې سره خبرې وشی. په ژبه لاس او پښو ددوی په وړاندی
هیڅ دبد تمیزی اظهار باید و شی. بلکه ددوی مخکې حقوق یادکړی او
دمغفرت دوعا ورته وکړي. مور اوپلار دخپلو بچیانو په ډیر شفقت سره
حفاظت کوی نو پکار ده چې نن دهغوی هر اړخیز خدمت او شفقت وړاندی
وشی او په هر حالت دهغوی خدمت وشی یوازې خدمت نه بلکه له لوی
خدای جل جلاله څخه دمغفرت دوعاوې هم ورته شې دمور اوپلار سره
دښه سلوک په باره کښی بی شمیره صحیح احایث راغلی دی چې موږ ور
څخه څو رااخلو:امام احمداومسلم دابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه
نقل کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:ذلیل دی وې هغه
څوک چې ورسره مور اوپلار یا یو له دوی څخه ژوندی وی بیا هم جنت ته
داخل نشې (یعنی ددوی خدمت او فرمانبرداری ونکړي)یو صحابی دنبی
کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضر شو او ویې ویل ای

دخدای جل جلاله رسوله ! ما دجهاد اراده کړې ده او ستا سره مشوره کوم ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل چی ستا مور شته؟
صحابی ورته وویل هو (شته) بیانبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل دمور خدمت پرتالازم ده هغه وکړه جنت دهغې ترپښو لاندې ده په مختلفو مجالسو کښی نبی کریم صلی الله علیه وسلم داحدیث دوه واره ویلي دي (رواه النسائی وابن ماجه).
نبی کریم صلی الله علیه وسلم ویلی دي چې دخدای تعالی رضاء دمور اوپلار په رضا مندي کښی ده ، دالله تعالی نارضائی دمور اوپلارپه نارضائی کې ده . (ترمذی تفسیر بیان السبحان ص ۳۹۵ ج ۲).

دشعبان (برات) دروژې ثبوت

وعن علی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی اللله علیه وسلم اذاکانت لیلة النصف من شعبان فقوموا لیلها وصوموا یومها فان الله تعالی ینزل فیها بغروب الشمس الی السماء الدنیا فیقول الا من مستغفر فاغفر له الا مسترزق فارزقه الا مبتلی فاعافیه الا کذا وکذا حتی یطلع الفجر (رواه ابن ماجة)
ژباړه :له حضرت علی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل : کله چی دنصف شعبان شپه راشی (دبرات پنځلسمه شپه) په شپه یې لمونځ وکړئ اوپه ورځ یې روژه نیسی ځکه چې لوی خدای تعالی په دې شپه ترلمر ولیدو وروسته ددنیا اسمان ته تشریف راوړی (یعنی له خپله خاص رحمته سره توجه کوي) او ددنیا خلګو ته وایې چې خبر اوسئ ! کوم دمغفرت غوښتونکی شته چې زه بخښنه ورته وکړم ؟ خبر اوسئ ! کوم درزق غوښتونکی شته چې ورته رزق ورکړم ؟ خبر اوسئ ! کوم مصیبت زده شته چې ورنه خلاص یې کړم ؟ خبر اوسئ ! داسې اوداسې (یعنی الله تعالی دهر شې نوم اخلی اوبنده ته اواز کوی مثلا)

وايي آيا شته کوم غوښتونکی چې څه ورکړم ؟ آيا شته کوم غمجن چې خوشحاله يې کړم ؟ او داسې نور دادرحمت اوازونه به جاري وي ترصبح صادق پورې (ابن ماجه).

تشريح : دبرات دشپې دنعمتونو اوفضيلتونو څومره لوړ مقام دي ؟

داهغه مقدسه شپه ده چې لوی خدای تعالی دخپل خاص رحمت سره ددنيا اسمان ته تشريف راوړي خپل بندګان وخپل رحمت عامه ته رابولی ، بشارت دي هغه نيکبخته انسانانوته کوم چې په دې مبارکه شپه کښې دلوی خدای تعالی درحمت سيوري ته ناست وي . عبادت اوبندګي کوی ، دخدای تعالی په وړاندی خپل ضرورتونه اوحاجتونه وړاندی کوی اوخدای تعالی په خپل رحمت سره دهغوی سوالونه قبلوی .افسوس دی پرهغو انسانانو چې ددې مبارکې شپې استقبال په عبث کارو کوی په آتش بازی (په اوْرو) کوم بد فعل دي خپله نيکبختې او سعادت له لاسه ورکوی خدای تعالی دې موږ اوتاسې ته توفيق راکړی چې دبرات دشپې دفضيلت احساس وکړو ددې شپې دتقديس اوپاکوالی احترام وکړو . ټوله شپه په اخلاص سره دخدای تعالی په عبادت اوبندګي کښې مشغول شو ترڅو دلوی خدای تعالی درحمت عامه جوګه شو . (مظاهر حق جديد ص۲۰۱ ج۲).

دبرات دشپې دروژې نيولو وجه

عن اسامة بن زيدرضی الله عنهما قال قلت يارسول الله لم ارک تصوم من شهر من الشهور ماتصوم من شعبان قال ذاک شهر يغفل الناس عنه بين رجب ورمضان وهوشهر تر فع فيه الاعمال الی رب العالمين واحب ان يرفع عملي وانا صائم (رواه النسائی)

ژباړه : له حضرت اسامه بن زید رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې ماله نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه ! چې ای دخدای تعالی رسوله ! ته چې دشعبان په میاشت کښې کومې روژې نیسې په بله کې میاشت ماستا دومره روژې نه دي لیدلې ؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل ! دادرجب اورمضان ترمینځ میاشت ده اکثره خلګ ترینه غافل دی په دې میاشت کښې دخدای تعالی حضورته دبندګانو اعمال وړاندی کیږی . زه داخوښوم چې کله زما اعمال خدای تعالی ته وړاندی کیږی او زه روژه داریم . په یوه بل روایت کښې داالفاظ راغلی دې چې په دې میاشت کښې دټولو مړه کیدونکو خلکو دمرګ فیصله کیږی زه داخوښوم چې کله زما دمرګ فیصله کیږی او زه روژه داریم.

تشریح درمضان المبارک میاشت خوټرټولو میاشتو افضله میاشت ده درجب میاشت هم یوه له اشهر حرم څخه ده ذی القعده ذی الحجة محرم اورجب داسلاه نه مخکې هم ددې میاشتې زیات قدر کیدی اوشعبان ددوو مبارکو میاشتو په مینځ کښې دې پخپله دشعبان هم زیات فضائل دې تردې چې ترمذی اوبیهقی دحدیثو مشهور کتابونه دي) له انس رضی الله تعالی عنه څخه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم داقول نقل دي : چې له رمضان المبارک څخه وروسته ترټولو دقدرو روژې دشعبان دي چې دروژې لپاره تیاری ده . څکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم غوښتل چې خلګ دامیاشت په غفلت کښې تیره نکړی لکه څنګه چې سنت دفرض لمانځه دنقصاناتو پوره کونکی دي . همداراز دشعبان روژه درمضان المبارک دروژو لپاره پوره کیدونکي ده . په شعبان کښې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دپرله پسې روژو یوه وجه داهم وه چې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم عادت وو چې په هره میاشت کښې یې (۳) درې

روژې نيولې اوکله به يې پرېښودلې هم . خوبيا به يې يوځاى په شعبان کښې نيولې. دشعبان په مياشت کښې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دروژو په باره کې روايات مختلف دي داهم ثابته ده چې اکثره شعبان نبي کريم صلى الله عليه وسلم روژې نيولې اويه يوه روايت کې داهم راغلي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم له رمضان المبارک څخه علاوه نورې مياشتې هم بشپړه مياشت روژې ندي نيولي. ځکه چې د علماؤوپه دي روايت کښې له ټولې مياشتې څخه اکثره مراد دي ، داهم ممکنه ده چې په کوم کال يې ټول شعبان روژې نيولې وي . اويه کوم کال يې يوه برخه نيولې وي (الترغيب والترهيب ص ۳۵۲ ج ۲)

دښځو دنفلي روژو حکم

عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال

لايحل لامرأة ان تصوم وزوجها شاهدالا باذنه

ژباړه :له حضرت ابو هريرة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دي: چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې دښځو لپاره روانده چې دخپل ميړه په موجودګي کښې دهغه له اجازې بغير روژې ونيسي .ا وپه يوه روايت کښې راغلي دي چې د رمضان المبارک له روژو بغير نورې روژې دي پريږدي .

تشريح : دنفلي روژې لپاره که په ژبه سره اجازه واخلي داأولى ده اوکه چېرى دښځې دايقين وې چې که زه چېرې روژه ونيسم خاوند مې نه خفه کيږي اويا داچې ځکه يې ترې اجازه اخيستي وي او اوس دنوې اجازې ضرورت نه وينې .اودنفلي روژې دممانعت وجه داده چې نه ده معلومه چې

کوم وخت يې خاوند مانع شي . البته درمضان المبارک روژې فرض دي دهغه لپاره داجازې ضرورت نشته . (الترغيب والترهيب ص ۳۸۳ ج ۲)

په عبادت کښې ولې خوب راځي ؟

خوب په يوازيوالى کښې سړي ته راځي . په ساتيرى او سيل کښې يوازيوالي نه وي په هرجز کښې يې جلاجلا خو ند وي ځکه په هغه کښې توجه بدليږي اوتوجه تقسيميږي ځکه خوب نه راځي ، له لمانځه ځخه بغير ، کله چې په لمانځه شروع وشي . موږ په دې پوهيږو چې دفکر اوسوچ ضرورت نشته خودچا په اختيار کښې نه راځي ،لکه دساعت کيلي چې پخپله چليږي ځکه نو په لمانځه کښې يورنگه يوازيوالي راځي ځکه خوب هم ورسره راځي . همداشان کله چې وعظ (نصيحت) شروع شي اوځوک وزته غوږ شي داهم يوقسم يوازيوالى دي چې خوب انسان ته ورولي اوپه ساتيرې او سيل کښې توجه بدليږي ځکه خوب انسان ته نه ورځي مطلب داچې په يوازيوالي کښې خوب انسان ته پيښيږي . (التبليغ ص ۱۲۵ ج ۸ ، ۲۱)

په عبادت کښې دخوب نه راتللو طريقه

په عبادت کښې دخوب نه راتللو تدبير دادي چې متفرق اعمال کول پکار دي ترڅو چې توجه بدله شي يوڅه برخه نوافل ادا کړى . تلاوت وکړى ، ذکر وکړى ، بيا وعظ (نصيحت) شروع کړى اويا يې له بل چا ځخه واوريږ نه طريقه داده چې دخپل کور خلگ راټول کړل شي اوعبادت په مشترک ډول وشي که ټوله شپه نشي کنبينستلاى خوب مو غالب وي اواکثره برخه کنبينستلاى شئ بيا هم دشب قدر فضيلت موندلاى شئ بايد له سستى ځخه ځان وژغورئ او دخوب نه راتللو تدبير هم وکړئ مثلا داچې دشپې په دوړى کښې کموالى راولئ . بيا هم که ضرورت پيداشو (تورمرچ) وژوياست له دې ځخه هم خوب تښتي که هرتدبير دخوب دختمولو وي بايد

و شي بيا هم له دې تولو سره سره که خوب ډير وو په دې وخت کښې داخوب معتبر دي (يعنې بيا ويده شئ) داسې نه چې معمولي غوندي خوب درته پيښ شي او تاسو ويده شئ .دخوب غلبه داسې ده چې د يوچا په قصه هغه ددې پر ځاى :کريما ببخشا يې برحال ما) دخوب په حالت کښې ويل (اري مان) (التبليغ ص ۱۲۷ ج ۸).

مطلب داچه که چېرې معمولي غوندې ارزمې راشي ديته هيڅ اعتبار نشته بلکه دخوب د ډيروالي په وجه په ويلو کښې فرق راځي آن داچې دبعض الفاظو معني هم بدله شي که چېرې داسې حالت ؤ بايد ويده شي . ځکه چې داعمالو دارو مدار په نيت موقوف دي په داسې حالت کښې هيڅ مکلفيت نشته او اميد دي چې پوره ثواب به الله تعالى ورکړي . دعبادت شروع (پيل) دشپې په لمړۍ برخه کښې وکړی ځکه چې دشپې په اخېره کښې دهغه چا عبادت افضل چې پوره کيدل ورته اسانه وي ، يا اميد لرى چې پورته به شم . (مولانا محمد رفعت قاسمي)

دپورته کيدلو طريقه

دخوب نه راتللو لپاره په متفرق عبادتونو کښې مشغول شئ له چاسره مختصره (کوتاه) خبره هم کولاى شئ (کوم چې غيبت او داسې نورڅه نه وي) لکه داچې ووائي له ډوډۍ سره کله کله (مربا) اچار او سرکه هم خوند کوی ، په داسې اندازه خبر وکښې کوم ممانعت هم نشته .داسې نه چې ټول وخت په خبرو تير کړی .ځکه چې يوازې پورته کيدل مقصود نه دي عبادت مقصود دي ځکه چې ماېوځوک وليدی چې يوازې دويښتوب لپاره يې (افيون) خوړل چې له شريعت څخه مخالف کار دي په داسې کښېنستلو کښې څه فايده ده ، داهيڅکله نه ده پکار . کښېنستل خودعبادت لپاره دي لکن دطبعيت دسمولو لپاره لږ لږ خبرې هم جائز دي . لکه څنګه چې نبي

کريم صلى الله عليه وسلم له حضرت عائشې رضى الله عنها سره خبرې کولې ، دهغه هم خبرې مقصود نه وې . لکه دطبعيت دسمولو لپاره يې داسې کول همداشان نفس نبه په قبضه کښې راولئ او پورته شئ (مسلم ج ۱ ص ۸۳)
بعض خلک وايې چې ټوله شپه پورته کيدل مشکل دي او يو څه برخه پورته کيدلو کښې څه فائده ده ؟ داخيال غلط دي ځکه چې که اکثره شپه عبادت و شې بياهم دافضيلت حاصليږي او ټوله شپه پورته کيدل هم کوم مشکل کار ندي ځکه چې په حکومتي مسئوليت . په تجارت اوپه نورو دنيوى کاروکښې ډيرې شپې متصلې ويښې وي . اودافخر کوى چې زه دومره شپې ويښ پاتې شوى يم لږ فکر پکار ده چې دنير کال په دې مبارکه شپه . کوم خلک وو چې نن په دنيا کښې نشته . اوهغه مبارکه شپه دهغوى لپاره اخبرى شپه وه اوله موږ څخه به چاته اجل راشى اوله دې مبارکې شپې څخه به محروم شو هرهوښيار انسان پوهيږي چې په راتلونکې کښې دضرورت اوس انتظام پکار دي ديخ لپاره تاوده (گرم) کالې پخوا لاپيدا کول پکار دي دواده اوداسې نورو مراسمو لامخکې تيارى پکار ده نو آيا دمرگ لپاره به تر مرگ وروسته تيارى کوي ؟ داسې نه دى تاسې فکر وکړئ چې کله دامضمون لولئ له دې څخه وروسته په کوم ساعت اوکومه ورځ يقين لرئ چې ته به ژوندى يې ؟ په ژوند کښې داسهار اومابنام دي چې بايد پکښې عبادت و شى ، بس که هره ورځ مرگ راغى بيا هيڅ نشو کولاى . همدا اوس زموږ دکاميابى اوناکامى فيصله پخپله زموږ په لاسو کښې ده څنگه چې موږ غواړو فيصله کولاى شو . ځکه چې خداى تعالى راکړى وخت موجود دي دادنيا دارالعمل (دعمل ځاى) ده . محمدرفعت قاسمى غفرله .

دشريعت مقصود

که ارزمي داسې شوی چې له خوب څخه بې اختیاره شوې بس نور ویدیږ
څکه چې ارشاد مبارک دي (فلیرقد) بیا دي ویده شی) په داسې وخ
کښې ویدیدل فضیلت دي په هرصورت دخدای تعالی بندګی مقصود ده
په خوب کښې وي اوکه په ویښه . خپل ځان خدای تعالی ته وسپار
څرنګه چې حکم وي هغه سې وکړئ . مطلب داچې دنفس لپاره هیڅ
کوئ دخدای تعالی چې څنګه حکم وي هغه سې وکړئ اصلا عبدي
مقصود ده نور هیڅ شی بالذات مقصود نه ده خینی وختونه لمونځ اداکو
منع دي (التبلیغ ص ۴۴)

په مبارکو شپو کښې په مساجدو کښې اجتماع

سوال: دشعبان په پنځلسمه ، اخترونو اودرمضان المبارک په لسو اخیر
کښې چې په مساجدو کښې خلګ یوځای کیږی (یوعام رواج دي) ذکر
تلاوت اوداسې نور عبادات کوی ددې شرعا څه حکم دي ؟

ځواب: په دې مبارکو شپو کښې په مسجد کې دعبادت درې طریقې دي:

اول: چې مسجد ته اتفاقا راشی دعبادت په نیت نه اوبیا ذکر ، تلاو
اوبل عبادت شروع کړی . داجائز ده . لیکن اولی داده چې دنوافل اوذ
که په کور کښې وشې ترمسجد زیات ثواب لری آن داچې ترمسجد حرا
اومسجدنبوی صلی الله علیه وسلم هم نوافل په کور کښې ډیر ثواب لر
. او دا په حدیث سره ثابت دي.

دوهم : داچې قصدا مسجد ته راشې دنوافلو لپاره . دابدعت دي ځک
چې دنوافلو لپاره مسجد ته راتلل دامعنی ورکوی چې نوافل په مسج
کښې زیات ثواب لری اودا پر شریعت زیادت دي : بلکه دخدای تعال

او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم مقبله ده ځکه په حدیثو کښې په صراحت ذکر شوی چې نوافل په کور کښې زیات ثواب لري.

دریم: په خاصو شپو کښې په هیئت اجتماعیه دعباداتو کول په مساجدو کښې . مثلا : نوافل په جماعت کیږي یې تقریرونه . داصورت بدعت دي . له بله جهته هم داډیر بد دي یود خرابي خوداوه چې په نمبر۲ کښې ذکر شوه . بل داچې نفلي عبادت په جمع کیږي اوداشرعا منع دي.

بعض خلګ وايي چې په کور کښې دماشومانو شور وي او ژاړي ځکه موږ په اطمینان سره عبادت نشو کولای . دادشیطان یوفریب دي .اصلا د(خشوع) نوم دادي چې دسنت طریقې موافق عبادت کول . که چیرې له سنت طریقې سره برابر لمونځ وکړې . خشوع اوخضوع پخپله پکښې راځي که چیرې کښته اوپور ته شي اوهئیت دخشوع اوژړا اختیار کړي ، دشریعت له نظره دیته خشوع نه ویل کیږي .دغور ځای دي چې کریم صلی الله علیه وسلم به له ډیرې سختې مجبورتیا سره سره نفل تهجدوغیره په کور کښې کول اوزیات ثواب یې درلوده . اوموږ نن صبادا بهانه کوو چې په کور کښې مو توجه نه برابریږي ، داپه ښکاره دشیطان فریب دي په حدیث شریف کښې راځي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پخپله مبارکه حجره کښې نفل کول اوحضرت عائشة رضی الله عنها پښې غزولې وي کله چې به حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سجدې ته راغی دهغې پښې به يې دښورولی هغې به لیرې کړې ده به سجده وکړه کله چې به حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دوهم رکعت ته ولاړشو دي به بیرته پښې وغزولې ، په توره شپه کښې چې څراغ به هم نه وو خونه به هم دومره پراخه نه وه چې یوکس پریوزي اوبل سجده ولګوي . اومسجد نبوی صلی الله علیه وسلم هم دومره نزدي وو چې له خونې پښه راوباسي مسجد دي . اومسجدهم

مسجدنبوی صلی الله علیه وسلم وو چی فضیلت یې هرچاته ښکاره دي له دي ټولو سره سره دنبی کریم صلی الله علیه وسلم عمل داؤ چي په کور کښې یي عبادت کاوو اومسجد ته به نه تلی. بعض خلګ داوايي چې په کور کښې یوازې په لمانځه کښې انسان ته خوب ورځی ، که چېرې په مسجد کښې په هئیت اجتماعی سره نوافل شی ، یوڅه تقریرونه ، یوڅه نفل په جمع سره نوخوب ختمیږی اوداشان عبادت هم ډیر کیږی ، که چېرې په کور کښې نوافل اوداسي نور یوازې وشی ددې نیمائی هم نه کیږی لږغور وکړئ چي ډیروالی دعبادت اودهغه کمیت مقصود نه ده بلکه دعبادت پر ځرنګه والی موقوف دي ، که چېرې یوڅه وخت په عبادت کښې مشغول واوسي اوچي کله خوب درغی استراحت وکړه.داله حدیث څخه ثابته ده (احسن الفتاوی ص ۳۷۳ ج ۱)

نفل لمونځ کول په کور کښې افضل دي

لدي سره سره چي په مسجد نبوی کښې یو لمونځ په زر واره ترنورو لمونځو ډیر ثواب لری لکن نفل لمونځ په کور کښې ترمسجد نبوی ډیرثواب لری ځکه چي په کور کښې لمونځ کول بالکل له ریاء څخه پاک اوخلاص دي (مظاهر حق جدید ص ۱۹۲ ج ۲)

مسئله : نوافل په جماعت سره که تهجد وی یا بغیر له تهجده صلوة تراویح ،صلوة کسوف.استسقاء کچېری څلور نفره ؤ په نزد دحنفی علماؤ مکروه تحریمی دی ، که مجمع وی او یا په طلب دجمعی وی په دریو کی اختلاف دی او په دوو کی کراهت نشته. (فتاوی رشیدیه ص ۲۹۹)

مسئله : که چېری مقتدیان په جماعت کی څلور شی نو دا بالاتفاق مکروه تحریمي دی (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۱۱ و شامی ص ۵۲۴ جلد اول)

مسئله : که چېرې دامام له صراحتا کنایتا او اشارتا اجازې پرته خلګ ورسره شریک شول نو دکراهیت په صورت کې مقتدیان مسئول دي لیکن امام ته پکار ده چې مسئله ورته ووایي اوله شراکت څخه یې منع کړي. کنه نو ملا صاحب مسئول دی. په شامي کې راغلي دي چې په نفل کونکو کې له یو، یا دوو څخه وروسته که نور خلګ شریک شول نو علامه رحمه الله وایي چې دکراهیت مسئولیت وروسته خلګو ته راجع دی.

(فتاوی رحیمیه ص ۳۲۵ ج ۴ بحواله شامی ص ۲۲۴ ج ۱)

په مبارکو شپوکې مسجد ښائسته کول

دبرات یا قدر او داسې نورو شپو کې مسجد ښائسته کول یې روزمره تر حاجت زیات څراغونه یابتې لګول دزیاتې رڼا لپاره جائز نه ده پر ډېرو مفاسدو او بدعاتو مشتمل دی. اول داچې تر ټولو خرابیو مخکې باید هغه اعمال صحیح شې چې نرڅراغ بلولو مخکې وې که چېرې دافرض شې چې دمساجدو داسې ښائسته کول مستحب او اولی هم شې بیا هم په خاصو شپو کې لکه د برات او قدر و غیره کې دداسې شیانو خاص اهتمام کول بدعت دی ځکه چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم له سپیڅلی عهد څخه نیولې بیا تر ټولو قرونو مشهود لها بالخیراو دټولو علماء دین او صلحاؤو په ټبه زمانه کې ددې کوم مثال ندی لیدل شوی که چېرې دا دکوم ثواب کار وای نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترټولو زیات ددې مستحق وو چې عملا او قولا یې ددې دعوت ورکړی وای . او صحابه کرام تر ټولو زیات مستحق ددې وو چې دایې قبول کړی وای ډېر زیات څراغونه بلول ضرورت هغه وخت وو چې تلاوتونه کیدل او په وار وار قرانونه ختمېدل دا څراغونه

هغه وخت هم وو دصحابه کرامو او تابعینو په زمانه کې چې دقران جمع او دقران کتابت وسو وروسته له دې وخراغ ته لا ډیر ضرورت پیداشو .کله چې هغو محترمو داضرورت ضرورت نه وباله بلکه نفس اجتماع په مسجدو کې یې ځان ساتلی دی نواوس به څنګه داحق پیداشي چې دې بدعت نه سنت ووایې او دثواب توقع ولرې او که داسې نه شي‌نو دامام مالک رحمة الله علیه قول به ثبت شي چې وایي نعوذ باالله څوک نوی شیان پیداکوی ددی مطلب دادی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دنبوت په زمانه کې خیانت کړی دی دثواب شیان یې امت ته نه دی رسولی که څرې موږ دسلف صالحینو لکه اصحاب کرامو او تابعینو مخالفت وکړو بیاهم داخبره مکروه کیږی.غرض داچې که څرې داسې زیات څراغونه لګول جائز بلکه مستحب هم شي خوپه داسې خاصو شپو کښې یې خاصول او دزیات ثواب نیت لرل بدعت او ګمراهي ده او ددې پر ینبودل ضروری دی لکه څنګه چې دسلف صالحینو اعمال او اقوال پر شامل دی.
په کتاب الاعتصام دوهم ټوک کې علامه شاطبی رحمه الله زیات شمیر دسلفو اثار رانقل کړی وایي چې که څرې دیوحکم مخکې مستحبوالی او سنت والی ثابت هم وو لیکن دهغه په عمل کولو سره خلک له شریعت څخه تبریدل اونور بدعت ورسره پیداکیدل‌نو دداسې کار پرینبودل پکار دی ،
دشوال دمیاشتی لومړنی ۷ شپې (دکوچنی اختر شپې شپې) دکوموچې فضیلت په احادیثو کې راغلی دی دحضرت امام مالک رحمه الله حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله په نزد ددې اهتمام او التزام مکروه دی څکه چې عوام خلک دادرمضان المبارک جز بولي .(لاعتصام ص۱۷۰)
همدا شیان چې دبرات او دقدر په شپه په مسجد کې اجتماع او دهغه التزام دا پخپله بو مستقل بدعت دی دکوم چې مثال په خیرالقرون کې نه

دی لیدل شوی .څوک ویلی شي چې د اجتماع یو مقبول شی دی بلکه سنت او مستحب یو ازی هغه دی کوم چی له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دی چې یوازې به یې په دغو مبارکو شپو کی نوافل او تلاوت کاوو همدا شان زیات رونبانه کول له بدعت سره سره پر نورو ډیرو مفاسدو مشتمل دی مثلا ۱. دمال بی فائدي خرچ کول. ۲وکوم چې خلګ دا ضرورت بولي چې راجمع شي او دقرانکریم تلاوت وکړي څکه دڅراغونو ضرورت دی داقسم تلاوت پخپله یو مستقل بدعت دی او دا بیا څنګه اسلامی ضرورت وبلل شی اودبرقی رڼا هم داحکم دی چې ترضرورت یې زیات لګول اسراف دی باید له دی نه لو شیانو څخه ډډه وشي

۲ دداسې زیاتو بتیو او څراغونولګول باید له دې وجې هم بند شي چې نن او سبا ډیر مسلمانان او هندوان سره یوځای وی ترڅو دمسلمانانو او هندوانو مشابهت رانشي او په مسجد کښې چې کوم دڅراغ بلولو فضیلت دی یوازې ددې لپاره چې ضرورت دی چې له دې څخه هیڅوک منکر نه دی همدا شان په سیرت ((حلبیه)) او نورو کتابو کې راغلی دی چې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دنور یحو لپاره زیاتې بتی او څراغونه لګول او حضرت علی رضی الله تعالی عنه ورته وویل چې خدای جل جلاله دی ستا قبر رونبانه کړي لکه څنګه چې تا زموږ مساجد رونبانه کړو دابالکل غلطه ده چې دحضرت علی رضی الله تعالی عنه له رڼا څخه داظاهری رڼا مراد وه بلکه نور دقران یې ترینه مراد وو پر داسې غلط روایت دیوه بدعت بنیاد نبوول سراسر بناء فاسد علی الفاسد ده. دحضرت علی رضی الله تعالی عنه مراد داوو چې حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په خپله زمانه کې دتراویحو دلمانځه یوازني اهتمام وکړ مساجد یې په تراویحو او قرانکریم منور کړل همدې طرف ته دحضرت علی رضی الله تعالی عنه

اشاره ود چې خدای جل جلاله دې دحضرت عمر رضي الله تعالى عنه قبر داسې منور کړي لکه څنګه چې ده زموږ مساجد دقران په نور منور کړل
رفعت فا سمي غفرله

تنبيه : په دې بيان کې دهر نمبر سوال او جواب شوی دی مطلب داچې دبرات او قدر په شپه مساجد مزين او ښائسته کول يو بدعت دی او ٠ څراغونه اوبتی لګول دوهم بدعت دی او دخلګو يوځای کول دريم بدعت دی البته که چېری اتفاقا خلګ سره يو ځای شول په مسجد کې داکوم بدعت نه دی تر هغو پورې چې ددې اجتماع دسنت بللو خطر نه وی له دې بدعاتو نه علاوه په څراغونو لګولو کی اسراف هم دی او تشبه بالهنود (له غير مسلمانانو سره) هم ده نوځکه له دومره مفاسدو سره سره په هيڅ ډول جواز نلری دا ممنوع کارونه حسنات بلل او بيا خصوصا په داسې مبارکو شپو کی ځکه چې په مبارکو ځايو او وختو کی چې څنګه عبادت ډير اجر لری همدا شان بدعت او معصيت زياته ګناه لری . لکه څنګه چې محقق علامه ابن همام رحمة الله په فتح القدير کی په حرمينو کی دزياتی ګناه تصريح کړی ده او دټولو علماؤ په نزد متفق عليه ده چې کله نيک کار له کوم بدعت سره ملګری شي نو پرينبودل يې ترکولو زيات افضل دی لکه څنګه چې دشامی په حواله مخکې ذکر شو . والله سبحانه وتعالى اعلم واحكم
(مداد المفتين ٢١١ دوهم ټوک)

دآتش بازۍ تاريخ

په غور سره فکر وکړئ چې داتش بازی (اورنه غورزول) چې نن په هندونستان کی ورواج ده دااسلامی شعار نه دی بلکه دهندوانو شعار دی ، دادهندوانو يو مشهور عادت دی له هندوانوسره په ګډه ژوند کی له ډيره وخته موږ له دوی څخه ډير شيان زده کړی دی او دوی له موږ څخه خو

افسوس دادی چې هغوی له مونږ څخه زمونږ شیان زده کړي وای او داچې مونږ ددوی څخه بد شیان زده کړي دی. آتش بازې خاص دهندوانو رواج دی چې په اسلام کی هم ځای نلري ددې قول تر ټولو لوی حجة او دلیل دادی چې ددې رسم وجود نن سبا په هیڅ اسلامي ملک کی نشته ددنیا په هره ټوټه کی چې هلته دوه یا درې مسلمانان اباد دې هوکه وی هغه په بر صغیر کی یا دفارس په شاوخوا کی چې هلته یو وخت اتش پرست اباد وو.
دفضائل الایام والشهور ص ۱۱۳

دبرات په شپه کی دځراغونو دبلولو او ساتیری لپاره راجمع کیږی او داقبیح فعل کیږی چې دا ډیر اشد بدعت دی ځکه چې ددې اصل نه په کوم معتبر او غیر معتبر کتاب کی نشته او نه په دې باره کی کوم کمزوری او ضعیف حدیث شته او په هند کی داعام عادت دی په نورو ممالکو کی ددې رواج نشته. داعادت هندوانو له ډیوالی څخه اخستی دی ځکه چې اکثره مسلمانانو دهند وانو ښځی مینځی کړی دی ځکه دارواج په مسلمانانو کی ددوی په خاطر شائع شوی دی(الجواهر الزواهر ص ۲۵۳)
په امریکه کی یو اتش پرسته قوم تیر شوی دی بیا وروسته مسلمانان شوی دی بیا هم داتش پرستی رواج په کی پاته دی، ځکه چې دغه قوم دځراغانو خاص اهتمام کاوو. دخلیفه هارون الرشید عباسی او دهغه دزوی مامون رشید عباسی دخلافت په دور کی برامکه ته عروج حاصل وو دی قوم ته په برامکه کی یحیی برمکی محمد خالد برمکی او جعفر برمکی ته عباسی خلفاء خاص عهدی ورکړی وی ځکه چې هغوی ددې رواج دعامولو ښه زمینه مساعده کړي وه او تر ډیره حده هغوی کامیاب هم شولهمداشان علماء اسلام ددې مخالفت په عامه توګه کړی دی، داکار یې دشریعت مخالف بللی دی. دمسلمانانو په لکونو روپی هر کال په داسې حرامو او ناجائزو شیانو مصرفیږی. (حقیقت شب برات ص ۴۴۲)

دآتش بازۍ حکم

ددې فاسدوروا جوڅخه اتش بازي هم ده چې په دې کې ګڼ شمیر خرابی شته.
۱- دمال ضائع کول چې حرمت یې له قران څخه ثابت دی
۲-دخپل ځان او لاد او ګاونډیانو دسوزلو خطر هم دی ځکه چې ډیرې واقعې داسې شته چې خلګو خپل لاسونه او نور اندامونه په اورسوی دی او همداشان هر ارخیز تاوانونه باید له فکره ونه وزی. دداسې نقصاناتو ممانعت په قرانکریم کې ذکر شوی دی.(وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ)
پاره سیقول سوره بقره
یعنی خپل ځانونه په قصد سره مه هلاکه وئ په دې اړه په حدیث شریف کې راغلی دی چې بیله ضرورته له اور سره ګډوالی منع بلل شوی دی. ځکه چې بل اور او بل شوی ځراغ پرېښودل دخوب په وخت کې په حدیث شریف کې منع شوی دی.
۳- ځینې وختونه په اتش بازې کې کاغذونه هم مصرفیږی کوم چې دعلم اسباب دی ، دداسې شیانو بې ادبې کول په خپله قبیح (بد) کار دی ډیر بدکار خو لا دادی چې ډیر وخت په دی کی لیکل شوی کاغذان هم وی مقصد داچې هر څه پر لیکل شوی وې ځکه چې دداسې روا جو خلګ اکثره غیر مسلمانان او جهال وی او پر دې کاغذانو قرانې ایاتونه هم لیکل شوی وی لکه څنګه چې ماته حضرت اشرف علی تهانوی صاحب دیوه معتبر شخص قصه وکړه چې ما دکاغذ ساتیری ولیدله چی دا دقرانکریم ورقه وه
۴- دکوچنیانو ابتدائی تعلیم دګناه او معصیت په اسبابو سره وې چې اصلا امر داسې دی چې علم او عمل ورزده کړې او په دې عمل سره ګواکی دشریعت مقابله شروع ده نعوذبالله منها خصوصا په دې مبارکه شپه (دبرات پنځلسمه) هسې خرافات اوناوړه اعمال عادت شوی دی داخبره

بیانکړ ارکو و لکه څنګه چې په مبارکو وختونو عبادت زیات اجر لري همدا شان ګناه په داسې اوقاتو کې زیاته ګناه لري. (اصلاح الرسوم ص ۱۹)

له یاجوج او ماجوج سره مشابهت

داتش بازۍ ځینې الات داسې وې چې داسمان لور ته غورځیږي او داکله کله دخلګو پر سر راشیوه کیږي او سوزي له دې څخه علاوه اتش بازۍ (اورلوبې) له یاجوج او ماجوج سره مشابهت ده لکه څنګه چې هغه غشې داسمان لور ته غورزوي او له کفارو سره مشابهت هم دی ځینې خلک ددې دجواز لپاره وایي چې په مکه معظمه کې دحج په شپو کې توپونه خطاکوي له دې څخه معلومیږي چې داجائز ده که نو ولې هغوی داسې کول؟ددې جواب دادی چې دادعوامو خلګو فعل دی داپه شریعت کې کوم حجة نه دی البته دعالم محقق او دیندار عالم فتوی کوم چې دقواعد شرعیه مطابق وی حجة ده بنکاره خبره ده چې توپونه چلول دلبنکر فعل دی نه ده دکوم عالم فتوی ده بل داچې په دې کې کوم حکومتي مصالح هم شته داسلامي شوکت ظهوردحج دشعائر تعظیم او دارکانو اعلان داسې نور او په اتش بازۍ کې کوم شوکت دی؟ البته که چېرې په یو ځای کې دکوم ضروري امر په خاطر داعلان دپاره اور ولګیږي بقدر ضرورت روا او جائز ده لکه دروژه مات او پیشلمې دوخت لپاره کوم اور ولګیږي په دې کوم ممانعت نشته که چیرې ترضرورت زیات شو داهم ممنوع دی. (اصلاح الرسوم ص ۲۰)

داتش بازۍ (اورلوبې) نقصانات

دلګو ددې شپې برکات پرې اېښېدی دې بې فائدې حرکات یې اختیار کړي دي. لکه څنګه چې اتش بازي دیو بد حرکت نوم دی. اوبدوالی یې هم ثابت دی داسې تجویز کیږي چې اتش بازۍ (اورلوبه) هم ده له نمه څخه

معلومیږی چې دخطرې او لهو لعب شی دی فکر وکړئ چې اور دشیطان عمل دی ایا دایو بنه کار دی ؟په حدیث مبارک کی دومره قدر راغلی دی چې دخوب په وخت کی څراغونه مړه کوی او عادتا څراغ لیری اینبودل کیږی لکن نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیـ هم بل څراغ نه دی خوښ کړی ، څکه چې له خطرې خالي نه دی ، داور لګیدو امکان پکې شته او ددې په اړه زیات شمیر واقعات پیښ شوی دی څه فکر کوئ چې له خپل ځان سره به نژدی ولی نه وی منع . په رشتیا هم چې ډیر خطرې شی ده ، داتش بازی په سبب هرکال زیات شمیر واقعات مینځ ته راځی دچالاس سوزل کیږی ،دچا ځان او دچابیا کور او داسې نور سوزل کیږی که چیرې فرض کړو چې داهیڅ هم نه کیږی دمال نقصان خو ضرور دی دډیر تعجب ځای خودادی چې ډیر سپین ږیری خلګ خواهش لری چې پخپله داکار وکړی خوبیا دغه ددوی دوقار مخالف کار دی . څکه مشران پلمه کوی او وایې چې ماشومان خبره نه منی .که چیری کوچنیان ضد کوی داضد ته هیڅ اعتبار نشته غور وکړئ که چیری ستاسو ماشومان باغیان وی او په وهلو باک نه کوی .ایا تاسو به یې نه منع کوی ؟که چیری ماشوم ضد وکړی یا داسې بل ضدنکه شی غواړی ایا تاسو به یې ورکوی؟ او چې خدای جل جلاله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم مضر ورته ویلی دی هغه بیا ولی عادت جوړوی؟ له دی څخه معلومه شوه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان تاسو ته کوم اهمیت نلری (نعوذ بالله) حال داچې دامال او دولت ستاله کومه وو ، داټول دخدای جل جلاله ملکیت دی تاسو محض خزانه داران یاست چې ستاسو په لاسو کی فقط تحویل دی داسې یاست لکه څنګه چې غلام وی مالک یوازې الله جل جلاله دی ((ولله خزائن السموات والارض)) ژباړه :اوخاص دالله جل جلاله لپاره دی داسمانو او دځمکې.

خزانې موږ ته دا خبره ښتنه چې څنګه عوارو هغسې بې خرڅ کړو . دادخدای جل جلاله مړ دې به قیامت کې ددې سوال کیږي چې څنګه مو ګټلې او څنګه مو مصرف کړې دي نو څکه مونږ نه داتش بازي یا کوم بل عبث او ناجائز کار لپاره پیسې ورکړ ل شرعا حرام دي تاسو ورکونکی څوک دست؟ هخکله ده ورکوی په ضد کولو سزا ورکوی او دساتیری او په بیکاره خایو کې بې مه پربردی (السلبع ص ۴۸ برک ۸)

دبرات په شپه وهديرې ته دتللو ثبوت

په دې شپه کې داعمل هم مذکور دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به جنة البقیع ته تلی او هلته به یې اصحاب کرام رضی الله عنهم ته دوعاوی کولی له څخه هم ددې عمل سنت والی ثابتیږي . علماء کرامو داعمل مسنون بللی او له دې څخه علاوه نور ټول امور بدعات او مکروه دی مثلا په اجتماع سره هدیرې ته تلل خراغونه لګول چې ټوله هدیره رونبانه شي او دخوراک یابل شی ترتیب نیول بلکه هري هديرې ته چې ولاړ شي په انفرادی شکل او له کوم فضول مناسب نو بغير صرف د مغفرت دعا وکړي او ثواب حاصل کړي بیرته زر راوګرزي او په بل عبادت مشغول شي بس همدومره اندازه دسنت مطابق ده او داعمل دسنت مطابق ده . مناسبه نه ده چې عبث اعمال رواج کړي. (حقیقت شب برات ص ۵۲)

ایابنځې دمروزیارت کولای شي ؟

دقبر په زيارت کی څه منع نشته ،که څه هم ښځې زيارت وکړی ،هغه ددې حديث په بنياد چی نبی کريم صلی الله عليه وسلم ويلي دي: چې ماتاسې دقبرولهزيارت څخه منع کړي واست لکن اوس واورئ دقبرونوزيارت کوئ شا رح رحمة الله عليه ويلی دی: زيارت نه دښځوپه تللوکي کوم ممانعت نشته . يعني خلاف اولی ده . تفصيل داديچی که ښځې ددې لپاره زيارت ته ځي چې هلته خپل غم نوی کړي او وژاړي . په دې صورت کې زيارت بالکل جائز نه دي . اوپه کوم حديث کی چی دښځوپه زيارت کولو باندی لعنت ويل شوي دي . له دې څخه دامخکنی ښځې مراد دي .او که چيرې هديرې ته ددې لپاره ځي چې عبرت حاصل کړي . او دصالحانو قبرونوته دتبرک لپاره ځي. او ښځې سپين سرې وي نوکوم ممانعت نشته ، او که چيرې ښځې ځواني وي نو زيارت ته تلل مکروه دی . اويالهخلګوسره ځي نوزيارت کول مستحب دي . محد ۸۷۹مخ اول ټوک

مسئله : يوازې ښځه چې ځوانه وي يوازې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم له روضې مطهرې سوابلی هيڅ يوې هديرې ته تلل نې روانه دي.
مظاهرحق جديد ۴۷۲ مخ دوهم ټوک

وهديرې ته دښځوتللو دممانعت وجه داده چې هغوی هلته ولاړې شي هلته نامناسب الفاظ وائي . دزيارت چې کومې ښکلې دي هغه تر بد بو لړ دي . له دې څخه پرته په لار کې "زينت او ښکلا ظهور کوی . اونورو ته خان ښکاره کوي ،او دادواړه لوی ګناهونه دي . زيارت سنت دي . دسنت داداکولو لپاره ددومره ګناه ارتکاب څنګه کيږي " که چيرې ښځې ژړې جامې واغوندې يعني بغير له ښکلاجی خوک ورته توجه نه کوی .اوهديرې ته ولاړې شي اويوازې دمغفرت دعوې وکړی او کوم غير شرعي خبرې ونکړي . بيانوکوم ممانعت نشته حد،نعلوم ۷۹۱مخ ۳ټوک

مسئله ښيني فقهاؤ ښځو ته دزيارت کولو اجازه ورکړې ده چې ژاړې په دې شرط چې کښيني به نه. (فتاوی دارالعلوم ۴۳۲مخ ۵ټوک

ايا دمړي روح کورته راځي؟

سوال: دمړي روح يوځاى ته راځي کنه که چيرې نه راځي نو بيا په خوب کې ولې راځي؟

جواب: په خوب کې دکوم مړي ليدل ددې تقاضانه کوي چې دهغه روح دې مکان ته راځي. په خوب کې ليدل دروحانيت په سبب سره ده. له مکان سره دهغه هيڅ تعلق نشته. ډير ژوندي خلک چې ډير ليرې وي هم په خوب کې ليدل کيږي. دخوب قصه جلاده داجسامو دراتګ ظاهري اتصال ددې لپاره ضروري نده. عالم ارواح بل عالم دى (فتاوی دارالعلوم ۴۲۰مخ ۵ټوک

مسئله روح مکان ته نه راځي ددې هيڅ ثبوت نشته. داسې خيال او عقيده لرل نه دي پکار.

مسئله: ددې خبرې هم هيڅ ثبوت نشته چې دپنجشنبې په ورځ روح دخپلو اقربؤ کره راځي. او دثواب په اميدوي. دجمعې لمونځ کوي او بيابيرته ځي داهيڅ حقيقت نه لري داسې کول نه دي پکار. (فتاوی دارالعلوم ۴۲۹مخ ۵ټوک

مسئله دبزرګانو دارواحو نو پر راتللو کوم قوي دليل نشته، کوم روايات چې منقول دي دا دمحدثينو په نزد صحيح نه دي. (فتاوی محمودیه ۸۲مخ ۱ټوک

مسئله دمؤمنانو دجمعې په شپه راتلل هيڅ ثابت نه دي. دايوازې واهيه (غلط) روايات دي پردې عقيده لرل نه دي په کار (فتاوی رشيديه ۱۲۹مخ ۲ټوک

وهديرې ته دتلو اداب او احکام

نبي کريم صلی الله عليه وسلم داسلام په ابتداء کې وهديرې ته تلل منع کړې وو ځکه چې دجاهليت زمانه نژدې وه ځکه فکر يې کاوو چې شايد

خلګ پر قبرو رسوخ بیدا کړي . نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم دزیارت قبور اجازه وکړه . ځکه نو دټولو علماؤ په نزد قبرو زیارت کول مستحب دی ځکه چې قبروته په تګ سره په زړه کی نرمی راځي . مرګ یې یادیږی او په زړه کی داعقیده ټینګیږی چې له دي فانی دنیا څخه علاوه یو بله دنیا هم شته چې هلته تګ ضروری دی او هلته ددي دنیا دبوه یوه عمل حساب کیږی له دی څخه علاوه نوری دمړي فندی لری نر ټولو نه فائده داده چې هلته دمړو دپاره دمغفرت دعاو نه زمینه مسعده وی کوم چې سنت دي لکه څنګه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به جنت البقیع ته تلی او هلته به یې ومړوته سلام کوو او ورنه به یې دمغفرت دوعاوې کولی وقبروته دتللو څه اداب او احکام شته کوم چې شریعت بیان کړی دی:

۱ کله چې یو شخص دمغفرت ددعا لپاره قبروته ولاړ شی هلته دی دمړي مخ ته مخامخ ودریږی مخ دي دقبر او شا دي دقبلي لور ته کړي

۲ کله چې قبر ته ورسیږی دقبر مړي ته دي سلام وکړی (السلام علیکم یااهل القبور الخ)

۳ – پر قبر دي دعزت لپاره لاس نه ایږدی

۴ قبر دي نه موچوی

۵- قبر ته دي دتعظیم لپاره نه ټیټیږی او نه دی ورته سجده کوی

۶ دقبرخاوري دي پرمخ نه موښی . نه دي احکامو او ادابو څخه علاوه داسې شیان اختیارول کوم چې په شریعت کښی نشته . داډیره ګمراهی وحماقت دي .له قبر سره نژدي دقران کریم تلاوت مکروه نه ده . دنورو ورځو په نسبت خصوصا دجمعی په ورځ دورځي په لمړی برخه کښی هدیرې ته تلل افضل دي داهم منقول دي چې دنورو ورځو په نسبت دجمعی

په ورځ مړي ته زيات ادراک کيږي . او دجمعي په ورځ قبر ته راتلونکی قريبان ښه پيژني . (مظاهر حق جديد ص ۴۷۲ ج ۲)
دحضرت عقبه بن عامر رضي الله تعالى عنه څخه ارشاد نقل شوی دي وايي چي ما ته داخوښه ده چي زه په اور کښې وخيژم يا په تيره توره پښه کښيږدم آن داچي پښه مې پرې شي . تردې چي زه دچا په قبر وخيژم . اوزما په نزد په قبرو کښې متيازې (بولی) کول اوپه بازارو کي دخلګو په مخ کښې متيازې کول هم فرق نلري (مظاهر حق جديد ص ۴۸۲ ج ۲).

وهديرې (مړستون) ته دتللو مسنونه طريقه

ژباړه : له حضرت ابن عباس رضي الله تعالى عنه څخه روايت ده چي يوځلې نبي کريم صلى الله عليه وسلم دمديني په هديره تيريدی . اوهغه دقبر لور ته خپل مخ مبارک واړاوو اوويې ويل : (السلام عليكم يااهل القبور يغفر الله لنا ولكم وانتم سلفنا ونحن بالاثر) ای دقبر خاوندانو پرتاسی دې سلام وي خدای تعالی دې موږ اوتاسو ته مغفرت وکړی اوتاسو ترموږ مخکې ياست اوموږ درپسې يو .
تشريح دحديث شريف الفاظ دي (چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم به دقبر ولورته خپل مخ مبارک اړوی اوتوجه به يې ورته کوله) پر دې خبره دليل ده چې که څوک دقبر مړو ته سلام کوی دده لپاره مستحب ده چي دهغه مخ دمړی و مخته مخامخ کړي همداشان کله چي دمغفرت ددعاء لپاره قبر ته دريږی بايد خپل مخ دمړی و مخته برابر کړي لکه څنګه چي دعلماؤ اومجتهدينو مسلک دي اودې مطابق دټولو مسلمانانو عمل دي .ميرزا مظهر رحمه الله وايي دچا زيارت دهغه دملاقات په شان ده همداشان لکه څنګه چې دچا په ژوند کښې دملاقات په وخت کښې خپل مخ دهغه و مخ ته مخامخ کوی دزيارت په وخت کښې هم بايد مخ دهغه مخ

نه برابر کړی داهم په کار ده چې دکوم مړی په وړاندی هغه طریقه کول پکار ده کوم چې يې دهغه په ژوند کښي ورسره څنګه ګذاره کوله دمثال په ډول دملاقات په وخت کښي ډي ديو مکرم اوعزت مند چاخواته نژدي نه شوای کښينستلای همداشان اوس ئي هم بايد زيارت يعني قبر ته نژدي نه کښيني لکه څنګه په ژوند کښي کومه اندازه ورسره کښينستلای شوای نو اوس هم بايد هغونده ورسره کښيني اواوس هم بايد په هغه طريقه ورسره دغونه اندازه ورسره کښينه يا ودريږه .اوکه چيری دهغه په ژوند کښي ورنژدي کيدی اوس دي زيارت ته هم نژدي ورځي او کښيني دي کله چې دچا زيارت کيږي بايد سورة(فاتحه اوقل هوالله) دري واره وويل شي اوثواب دي مړي ته ورو بخښل شي اوهم دي ورته دمغفرت دعاء ورته وکړی.

(مظاهر حق جديد مشکوة شريف صفحه ۴۸۰ ج ۲)

آيامړی زيارت کونکی پيژني ؟

پردې خبره دټولو اسلافو اتفاق دي چې مړی زيارت کونکی پيژني او ورته خوشحاليږی (دحضرت عائشة رضی الله عنها څخه روايت دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وويل چې کوم شخص دخپل ورور قبر ته لاړشي . اودقبر خواته يې کښيني ، نودقبر خاوند ورڅخه خوشحاليږی اودسلام جواب يې ورکوی ترڅو چې هغه هلته ناست وي [illegible] په دې باره کښي ډير احاديث راغلي دي . اوپه دې کښي هيڅ شبه نه ده پاته چې په قبر کښي څنګه څوک ويني ؟ ځکه چې دادلوی خدای تعالی کار دي چې په دې زمانه کښي داسې الات موجود دي چې پر ځمکه يې کښيږ دي ترځمکه ډير لاندي معدنيات معلوموی . لکه تيل . پټرول . زر اوداسې نور اوله دې سره سره (ايکسری ماشين) چې بالکل عام شی دي (ان الله علی کل شئ قدير) مولانا محمد رفعت قاسمی مدرس دارالعلوم ديوبند)

دثواب درسيدو څو ضروري مسئلې

حضرت امام احمد حنبل (رحمة الله عليه) وايي چې کله تاسو هديرې ته لاړشي . سورة فاتحه معوذتين (قل اعوذبر ب الفلق . قل اعوذ برب الناس) اوقل هوالله احد ووايا ست اوثواب يې مړي ته وروبخښئ . له حضرت علي رضي الله تعالى عنه څخه روايت دي: کوم شخص چې هديرې ته لاړشي هلته دقل هوالله سورة (۱۱) واره وو ايي اوثواب يې ټولو مړو ته ور وبخښئ . ده ته به دهديرې دمړو په اندازه ثواب ورکول کيږي له حضرت انس رضي الله تعالى عنه څخه روايت دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وويل: چې کوم شخص هديرې ته لاړشي اودثواب په نيت سورة يس تلاوت کړي الله تعالى دمړو عذاب ورکموي او ودې شخص ته دهديرې دمړو په اندازه نيکۍ ورکول کيږي . (مظاهر حق شرح مشکوة شريف ص ۴۴۹ ج ۲)

که چېرې دچا دامخکښني سورتونه نه وي ياد . هر سورة چې يې ياد وي ويلای يې شي اوخدای تعالى ثواب ورکوی . که چېرې بالکل جاهل وي په ژبه دې ورته دمغفرت دوعاوی وکړي . يا دې صدقه اوخيرات وکړي اوثواب دې وروبخښي ځکه چې په حديث شريف کښې راغلي چې مړی په مثال دهغه چا ده چې اوبو اخيستی وي اوفرياد کوی . دخپلو قريبانو: پلار . ورور اوداسې نورو دوعاګانو ته منتظر وي چې دوئ يې ورته وکړي ځو کله چې هغوی دوعاوې ورته وکړي تردنيا اومافيها ورته محبوب شي . او دژوندو تحفې دمړو لپاره دمغفرت دوعاوې دي . (احياء العلوم ص ۹۴ ۴ توک محمد رفعت قاسمي غفرله . مدرس دارالعلوم ديوبند)

مسئله: په شپه کښې دمړو زيارت کول يعنې دقران کريم کوم سورة ويل اوثواب يې ورته بخښل جائز دي . (فتاوی دارالعلوم ص ۴۵۳ ج ۵ بحواله مشکوة شريف ص ۱۵۴ ج ۱)

مسئله مړی نه ویل کیږی چي داثواب دفلانکی له لوری حخه ده . که له هدیري څخه علاوه په کوم بل ځای کښي وي فرسنه بي ورنه رسوي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۴۲۲ ج ۵)

مسئله ومړوته دصدقات خیرات قرآن کریم اودمغفرت دذوعاؤ فائده رسیدل له قرآنه کریم اوله حدیثو څخه ثابته ده . لدی حخه انکار ناپوهی ، گناه اوداجماع څخه خلاف ده البته دثواب لپاره کومی معلومي ورځي شرط نه دي لهذا څلويښتمه . کلنۍ . عرس . دجمعه خواني داټول رواجي رسومت دشریعت مخالف دي . اوله غیرو حخه کومک غوښتل داسي ناجائز دي له الله تعالی څخه بغیر دهیڅاهیح تصرف نشته [illegible] ص ۲۳۷ ج ۵)

مسئله سنت داده چي د زیارت کولو به وخت کښي برسست طریقه مړو ته سلام وکړی . اودټولي هدیري لپاره دمغفرت دعاوی وکړی . اوکه چیري څه ووايي اودمړو وارواح ته یې ثواب وروبخښي ډیره ښه ده . اوکه چیري دخپل ځان لپاره دوعاوي نو له الله تعالی څخه سوال وکړي نه دي ډول چي یا الله تعالی ددي نیکانو په برکت زماحاجت پوره کړی . وبزرگانو ته به دانه وایي چي تاسو زما لپاره دوعاوکړی . دقران کریم ایاب پردي دلالت کوی . لهذا داسي دي نه وايي چي خطاب مړونه وي . بلکه له الله تعالی څخه دي دهغوی لپاره هم دمغفرت دوعا وکړی . که چیري ددوئ په وسیله سره دخپل ځان لپاره دوعاوکړي نوداکوم ممانعت نلري . په حصن حصین کښي ذکر شوي دي چي دصالحینو په وسیله سره دوعاکول مستحب ده چي الله تعالی دهغوی په برکت سره دوعاقبوله کړی [illegible] ص ۲۴۲ ج ۵ [illegible] ص ۸۱)

مسئله :دثواب بخښلو په وخت کښي که څه هم یوازي نیت کافي ده ، لکن که په ژبه سره ووايي چي یا الله تعالی ددي عمل ثواب فلانکی ته ورسوي
(فتاوی دارالعلوم ص ۴۵۱ ج ۵ به حواله دالمختار ص ۸۴۴ ج ۱)

مسئله : دثواب بخښلو په وخت کښی مناسب داده چي وويل شي فلان ابن فلان (فلانکی دفلانکی زوی) که چېرې ديلار نوم ورته معلوم نه وي يوازې دده نوم کافی ده لکن هرڅه چي په نيت کښی وي هغه کافی ده هرڅه الله تعالی ته معلوم دي)(فتاوی دارالعلوم ص ۴۲۱ ج ۵)

مسئله که چېرې په يو وخت کښی ډيرو مړو ته ثواب وبخښی داهم صحيح ده لکن که چېرې دا ثواب اول يوه ته وبخښل شي بيا نورو ته نه بخښل کيږی ځکه چي دا ثواب اول ته ورسيدی (فتاوی دارالعلوم ص ۴۱۹ ج ۵ کذا في ... ص ۸۴۴ ج ۱)

مسئله که چېرې دقران ثواب ډيرو مړو نه څوک وبخښی آيا پوره پوره ثواب وررسيږی ،که تقسيمږي ؟ په دې کښی دفقهاؤ دوه قوله دي (۱) داچي هريوه ته پوره پوره ثواب رسيږی . بل داچي تقسيمږی بيا ورته رسيږی . دادوهم قول له قياس سره برابر ده . خو دالله تعالی له فضل څخه ليری نه ده چي هريوه ته پوره پوره ثواب ورکړی . (فتاوی دارالعلوم ص ۴۴۹ ج ۵)

دخدای تعالی له ذات څخه داامید دي چي بشپړ ثواب به ورکړی ځکه چي دالله تعالی له خزانو څخه هيڅ نه کميږی . داصرف (يوازې) دبنده په نيت پوري اړه لری څنګه چي يې پر الله تعالی ګمان وي هغسي ورسره کوي (محمد رفعت قاسمی عفا الله عنه)

مسئله دقران کريم ثواب خو مړی ته رسيږی بل داچي ويونکی يو نيک کار وکړی په لس ګونو بلکه تر دي هم زيات ثواب ورکول کيږی . مګر په هرکار کښی اخلاص شرط دي بيله اخلاص هيڅ عمل مقبول ندده

(أَلَا لِلّٰهِ الدِّينُ الْخَالِصُ) (پاره ۲۳ سورة الزمر) (مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا (پاره ۸ سورة الانعام) فتاوی دارالعلوم ص ۴۴۱ ج ۵).

مسئله قران کريم په هديره کښی په لوړ اوسوکه اواز . په ياد (حفظ)يا په کتلو سره صحيح ده) فتاوی رشيديه کامل ص ۲۲۲).

مسئله: دثواب بخښلو په وخت کښې مناسب داده چې وويل شي فلان ابن فلان (فلانکۍ دفلانکي زوی) که چېرې دېلار نوم ورته معلوم نه وي يوازې دده نوم کافي ده لکن هرڅه چې په نيت کښې وي هغه کافي ده هرڅه الله تعالی ته معلوم دي)(فتاوی دارالعلوم ص ۴۲۱ ج ۵)

مسئله که چېرې په يو ه وخت کښې ډېرو مړو نه ثواب وبخښي داهم صحيح ده لکن که چېرې دانواب اول يوه ته وبخښل شي بيا نورو ته نه بخښل کيږي ځکه چې داثواب اول ته ورسيدی (فتاوی ... ص ۴۱۹ ... ص ۸۴۴ ج ۱)

مسئله که چېرې دقران ثواب ډېرو مړونه څوک وبخښي آيا پوره پوره ثواب وررسيږي .که تقسيمږي ؟ په دې کښې دفقهاؤ دوه قوله دي (۱) داچې هريوه ته پوره پوره ثواب رسيږي . بل داچې تقسيمږی بيا ورته رسيږي . دادوهم قول له قياس سره برابر ده . خو دالله تعالی له فضل څخه ليري نه ده چې هريوه ته پوره پوره ثواب ورکړي . (فتاوی دارالعلوم ص ۴۴۹ ج ۵)

دخدای تعالی له ذات څخه داامید دي چې بشپړ ثواب به ورکړی ځکه چې دالله تعالی له خزانو څخه هيڅ نه کميږی . داصرف (يوازې) دبنده په نيت پورې اړه لری څنګه چې يې پر الله تعالی ګمان وي هغسې ورسره کوي (محمد رفعت قاسمی عفاالله عنه)

مسئله دقران کريم ثواب خو مړی ته رسيږی بل داچې ويونکی يو نيک کار وکړی په لس ګونو بلکه تر دې هم زيات ثواب ورکول کيږی . مګر په هر کار کښې اخلاص شرط دي بيله اخلاص هيڅ عمل مقبول نده

(أَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ) (پاره ۲۳ سورة الزمر) (مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ اَمْثَالِهَا (پاره ۸ سورة الانعام) فتاوی دارالعلوم ص ۴۴۱ ج ۵)

مسئله قران کريم په هديره کښې په لوړ اوسوکه اواز . په ياد (حفظ) يا په کتلو سره صحيح ده) فتاوی رشيديه کامل ص ۲۷۲).

مسئله: په ثواب بخښلو کښې دلاس پورته کولو ضرورت نشته ، اوک چېرې دوعا کوی لاس یې پورته کړی وي نوشادي قبروته وګرزوی.
(فتاوی رشیدیه کامل ص ۲۳۷)

خکه چې عوام خطا کیږی چې له مړو دوعا، غواړی ، دمړی په وسیله سر دوعا غوښتل جائز ده ـ لکن به حقیقت کښې بیاهم له خدای تعالی څخ غوښتل دي. (محمد رفعت قاسمی)

دبرات دشپې رواجونه

لدې رواجو څخه دبرات دشپې حلوی وي ، اوداختر غړی . اودعاشورې (لسمه دمحرم) شربت اوداسې نور دي دبرات دشپې په باره کښې پ حدیث کښې دومره راغلی دی: چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم جنت البقیع (هدیره) ته تللی وو اودمړو لپاره یې دمغفرت دوعا کړیده له د څخه وروسته خلګو اکثره مفاسد پکښې رواج کړي.بعض خلګ وایې چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم غاښ مبارک چې کله شهید شو نوده حلوی یې خوړله دابالکل بی بنیاده او غلطه خبره ده ددې عقیده لرل هیڅ وخت نه ده جائز . خکه چې عقلا هم نه ده مکمل . خکه چې داواقعه په شوال کښې پېښه وه نه په شعبان کښې .دوهم : بعض خلګ دحلوی دجائز بللو لپاره داوایې چې په دې شپو کښې حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه شهید شوی دي دادهغه رضی الله تعالی عنه فاتحه ده . داهم بې دلیله اوبې اصله ده . لمړنی خودتاریخ تعین ته ضرورت نشته بل داچې داقصه پخپله غلطه ده خکه چې حمزه رضی الله تعالی عنه هم په شوال کښې شهید شوي وو نه په شعبان کښې دریم : بعض خلګ داعقیده لرې چې دبرات په شپه دمړو ارواح کورو ته راځي اوګوری چې ایا زمونږ لپاره چاڅه پخ کړی کنه ؟

ښکاره خبره ده چې دابې له کوم نقلي دليل څخه ثابتېږي . حال داچې هيڅ نقلي دليل نشته . هره مسئله له قران کريم او حديث څخه ثابتول ضروري ده . اوپه قران او حديث کښې په دې باندې هيڅ دليل نشته . چې دمړو ارواح دمرګه وروسته دې دنيا ته راځي او ګوري البته برنه راتلو ډير دلائل موجود دي (مشکوة شريف ص ۲۵ ج ۱) محمد رفعت قاسمي غفرله)

څلورم : دبعضو خلګو فکر دی چې کله دبرات ترشپه مخکې څوک مړشي . ترڅو چې دده لپاره دبرات په شپه فاتحه ونه شي . داله مړو څخه نه دي حساب . داهم محض بې اصله اولغوه ده . بلکه داهم رواج دي چې څوک تردې جشن (دبرات ترشپې) مخکې مړشي . دمړي وارثانو دامخکې نه دې لمانځلې (دپېداکيدو په وخت کښې) ليکن په احاديثو کې په صراحت سره مذکور دی چې مړی قبر ته ځي په داسې شان څنګه چې دې دنيا ته راغلی و داسې نه ده چې دبرات په شپې پورې موقوفه دهپنځم : بعض خلګ دبرات دشپې دحلوی داسې پابندي کوي چې بې حلوی بې برکت نه شي داهم ډيره فسدده عقيده ده چې ضرور يې بولي عمل يې هم فاسديږي ترفرضو او واجبو يې زيات اهتمام کوي له دي خرابو سره سره داتجربه هم ده چې نيت يې بالکل خراب وي ثواب يې مقصود نه وي . او داخيال يې وي چې که چېرې حلوی پخه نکړي نو خلګ وايي دا مسکين شوی دی . ددې تهمت دليرې کولو دپاره چې څومره تکليف وي ضرور يې کوي . دداسې نيت صرف (يوازې) فخر او اسراف دی چې ګناه يې بار بار ذکر شوې ده کله کله داسې هم کيږي چې ددې لپاره په سود او قرض پيسې واخلي .چې داځان ته لويه ګناه ده شپږم : کوم څوک چې دکومک مستحق وي هغه ته هيڅ نه ورکوي . اقلاً چې په کورکې څه پاخه وي داهم نه ورکوي اکثره مالدار خلګ چاته په معاوضه شي ورکوي او نت يې داوی چې

فلانکی مړ ته سی راکړی دی که بې زه ورتکړم نو هغه به خفه وي . پدی کی هم هغه ریا کاري او تفاخر ده ووم. بعض خلک شعبان په پنځلسمه منشور دائل ضررور بخوي . ددي دبجته تاريخ معلوم نه دی خو دومره ویلای شو چي داکار بنکاره گناه ده انم خینی خلک داسي هم ستَه چي په دې شپه (دبرات شپه) دنفلو لمونځو لبار. خلک راجمع کوی تر څو دشپې روښول ورنه اسان شي داهم له شريعته مخالف کار دی . البته که چېری اتفاقاً خلک جمع شول پدې کی بې کوم ممانعت نشته نهم. ځینی خلک په دې شپه لوښي نوي کوي کورونه چونه کوي او څراغونه پر لګوي او داسي نور دبدعت کارونه کوي. دابلکل دکفرو نقل دی او په حديث شريف کی سنبه حرام بلل شوی دی. (اصلاح الرسوم ص ۱۳۴، حضرت تهانوی رح)

په هندوستان کی غیر مسلم خپل جشونه له ډالبو څخه رااخستی دي چي لوښي بد لوي او څراغونه هم روښانه کوي . دهغو دا عقیده ده چي به دې کار سره دهغوی مذهبی مشران خوشحاله کیږی. خو اکثرو مسلمانانو دارسم خپل کړی دی دابلکل حرام دی پکار ده چي ځان ترینه لیری وساتي. (اللهم احفظ. محمد رفعت قاسمی عفرله)

مسئله داهم مشهوره ده چي دبرات دشپې په حلوی چي لمړنی روژه مات وشی داډېر نواب لری داهېره غلطه او بي بنیاده ده. (اغلاط العوام مکمل ص ۱۲۴)

دبرات په شپه کی حلوی پخول او خوړل

سوال دبرات په شپه حلوی پخول او خوړل څنګه دي؟ که چېری بي دثواب له نیته پخه شي د حه حکم لري. همدا شان دداسي حلوی خوړل څنګه دي؟

جواب دبرات په شپه دخوشحالي او حلوی پخولو هیڅ ثبوت نشته ،لهذا داامور ناجائز او بدعت دی . که چېری بغیر دثواب له نیته حلوی پخه شي نو بیا دبدعت تاکید ښکنبی دی .باید لدې څخه هم ځان وساتل شي همدا

شان له دامې حلوی قبلولو ځخه هم باید ځان وساتل شي لیکن داحرام نه ده
(حسن الفتاوی ص ۳۸۵ ج ۱)

مسئله ددوړی دتقسیمولو په متعلق په دې شپه کې زما ترنظر کوم روایت نه دی تیر شوی . البته ددې شپې فضیلت له لمر لویدو بیا تر صبح صادق ده (سپیده داغ) پوري ده. (فتاوی محمودیه ص ۷۵ ج ک ۱۰)

دبرات دشپې سنت اعمال

دبرات دشپې خصوصیات خو معلوم شول .موږ ته څه کول پکار دی او دخدای جل جلاله دبیشماره نعمتونو دلټولو لپاره څه وکړو؟

داحادیثو له کتلو ځخه ثابتیږي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دې شپه دې اعمال کړی دی ، ددې دریو سنتو طریقه اداکول دخیر او برکت ثو اب باعث دی:اول: دشعبان په پنځلسمه شپه بیله کومې ټولی هدیرې ته لاړشی . او هلته په رمبیدو سره دمغفرت دوعاوې وکړي که چیری صدقه او خیرات کوی ثو اب ور بخښې باید دعامو رواجو تابع نه شي اوترشریعت تجاوز ونه کړی دوهم : په دې شپه کې ویښ و اوسې دخدای جل جلاله عبادت او نفل لمونځ بیله جماعت ځخه وکړي هر څومره چې مو په طاقت کې وی دقرانکریم تلاوت وکړی یاپې واوري پر نبی کریم صلی الله علیه وسلم زیات شمیر درود شریف ووایاست .دخپل ځان او ټولو مسلمانانو لپاره دوعا وکړئ او له خپلو ګناهونو څخه توبه و کاږئ خصوصا له هغو ګناهونو څخه کوم چې دکولو دسبب سره په دې مبارکه شپه هم دوعا نه قبلیږی کوم څوک چې طویل (اوږد) لمونځ کول غواړی هغه دی صلوة تسبیح وکړی دخدای جل جلاله له ویرې دې وژاړی دخپل ځان اولاد مور و پلار او دټولو مهمو امورو متعلق دې دوعاوې وکړی.

دریمه په ورځ دی نفل روژه ونیسي لکه څنګه چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم وینا ده (قوموا لیلها وصوموا نهارها) یعنی په پنځلسمه دشعبان دشپې وښې واوسئ او دورځې یې روژه ونیسئ. دا دری اعمال له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه منقول دی باید دري سره په مسنونه طریقه سره ادا شي (مسنون بهشتی ص ۲۲)

تنبیه په بعضو ځایو کی دبرات دشپې رونولو لپاره خلک راټولوي، شپه رونول یو اجتماعي سره که څه هم اسانه ده لیکن دنفل عبادت لپاره دخلکو دا سې راټو لول صحیح نه دی همدا شان په مساجدو کی رایوځای کیدل لکه څنګه چې نن او سبا رواج ده. اکثرو علماؤ دامکروه بللی ده. په در مختار کی راغلی دی چې دکوچنی اختر لوی اختر دبرات پنځلسمه درمضان المبارک لس اخیري شپې او دذی الحجې لس لمړنی شپې په دی ټولو شپو کی بوږته کیدل او جلاجلا عبادت کول مستحب دي ... ...

په حدیث شریف کی یوازې دري اعمال ثابت دی دهغوی ادا کول په سنت طریقه سره موجب دثواب دی. لمړی: دبرات په پنځلسمه هدیرې ته تلل مړوته دعا او استغفار کول. که چیري کومه صدقه یاخیرات کړی وې ثواب دی مړو ته وربخښل. له دې دعاو څخه فائده رسول دی باید صدقه په بنه توګه سره وشي نرحو زې پکښي رانه شي. دوهم: دا شپه رونول او عبادت یوازې کول نه په اجتماعي دول سره. دریم: په ورځ یې روژه نیول. ددې اعمالو په سنت طریقه سره اداکول نهایت مفید دی. (اصلاح الرسوم ص ۱۳۴)

دبرات دشپې خاصې دعاوې

اعوذ بعفوك من عقابك واعوذ برضاك من سخطك واعوذبك منك اليك لا احصى ثناءً عليك انت كما اثنيت على نفسك (ترمذی ... ص ۳۵۸ ج ۲)

اللهم انك عفو تحب العفوفاعف عنى (... ص ۲۸۵ ج ۲)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم بي بي عائشي ... ته وویل: دادعا پخپله هم زده کړه او نو رو ته يې هم ور زده کړه .څکه چي حضرت جبرائيل عليه السلام داوعا ماته رازده کړې ده. علماؤ کرامو ليکلي دي چي دعا ددنيا دټول خير او برکت جامع کونکی ده .څکه چي دالله جل جلاله له لوری وبنده ته عفو او بخښنه په دعا يوری ترلي لکه څنګه چي په يوه روايت کي راغلي دي چي: دبنده له لوری دحق تعالی په دربار کی دبخښني او عفيت تر سوال هيڅ شی افضل نشته تر څو چي ممکنه وی دادعاوي يادی کړئ او خپلو ماشومانو ته يې هم ور زده کړئ . څکه چي نن سبا اکثره ماشومان ددرواغو نکلونه يادوی او مور او پلار يې فخر هم ورباندي کوی که چيرې مو دانه يادېږی بيا په خپله ژبه دخير او عافيت دوعاوی وکړئ. که مو دادعا ياد وې مخکې درود ووايا ست بيا دوعا وکړئ لکه: ای لويه خدايه! ته پر ټولو احسان کونکي يې پر تا څوک احسان نشي کولای . ای دلويې او مغفرت خاونده! له تاڅخه سوا هيڅ معبو د نشته نه ده بيوزلو مددګار يې او دپريشانيانو مشکل کشا يې ای الله جل جلاله ! له تا څخه بغير بل هيڅا څخه څه نه غواړو يوازي ته ورکونکي يې ای لويه خدايه جل جلاله ! که تاچيرې زه په خپل کتاب کې بې برخې او بی نصيبه ليکلی يم لويه خدايه جل جلاله په خپل فضل او کرم سره زما خوارۍ، بدبختی او کم رزقی رنګي کړي. داخبره ستا په کتاب کې کوم چي دي پر اخيري نبی صلی الله عليه وسلم نازل کړي دي نو شته دي چي الله جل جلاله چي څه غواړي ليکي يې او چي څه وغواړي محوه کوي يې ان الله علی کل شیء قدير ياالله جل جلاله له تاڅخه کوم دپوښتنې خاوند نشته هر څه ستا په اختيار کې دي .يا الله له تاسره ام الکتاب ده . ياالله جل جلاله ستا په روی سره زما

مشکلات او پریشانی لیرې کړې که زه په خبر یم او که نه او په هرڅه ته عال
بې لويه خدايه جل جلاله ترټولو نه داحسان خاوند يې . لويه خدايه ! نيک
او لاد راکړې ماته بخښنه وکړې . یاالله جل جلاله ټول ګناهونه صغيره وي
که کبيره ښکاره وي که پټ ته زانه بخښنه وکړې . یا الله جل جلاله زم
عيبونه پټ کړی معافي راته وکړې پر ايمان خاتمه راکړې . زما مو
اوپلار . استاذانو او ټولو مسلمانانو ته مغفرت وکړې ای لويه خدايه جل
جلاله ! موږ هر څه نه شو غوښتلای بس هغه غواړو چې زموږ نبی کری
صلی الله علیه وسلم غوښتې دي او له کوم شی څخه چې په هغه سره نبي
صلی الله علیه وسلم پناه غوښتي ده زه هم ترې پناه غواړم زموږ دعاوې
دنبي صلی الله علیه وسلم په وسیله قبولې کړې آمین یارب العلمین

مولانا محـــــمد رفعت قاسمی عفا الله عنه مدرس دار العلوم دیوبند

دقدر دشپې لوبې

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ بيشکه موږ قرانکريم په ليلة القدر کی نازل کړ
يعنی قرانکريم له لوح محفوظ څخه دليلة القدر په شپه نازل شوی دي
.دايوه خبره ددې شپې دفضيلت لپاره کافي ده چې داعظيم کتاب په کې
نازل شوی دي . په کومه شپه چې داقران نازل شوی له دې سره سره نور ډير
فضلتونه هم لري د نور تشويق لپاره داايت لولو: **وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ**
ضرور به در ته معلومات وي چې داشپه څومره مبارکه اوبافضيلته شپه ده
څومره فضائل او نيکې پکښې دي ديو څو فضائلو ذکر کوو: (لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ
مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ) دقدر شپه تر زرو شپو اولی او بهتره ده يعنی دزرو مياشتو
دعبادت چې کوم ثواب دی يوازې په دې مبارکه شپه کې عبادت تر دې

زيات ثواب لري او ددې زيادت علم هم نشته چې څومره زيادت (تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ)په دې شپه کې ملائکې راشوه کيږي:
علامه رازی رحمه الله ليکې چې کله په ابتداء کی خدای جل جلاله انسان پيدا کاوو ملائکو ور سره مخالفت ښکاره کړ ، لوی خدای جل جلاله په دربارکې يې عرض وړاندی چې ته جل جلاله داسې څوک پيدا کوې چې بيا به په ځمکه کی فساد کوی او وينې به بهوې.نن شپه چې دخدای جل جلاله په قدرت انسان دالله جل جلاله په عبادت او معرفت مشغول وويني .ملائکه دمعذرت لپاره راکوزيږی . (وَالرُّوحُ فِيهَا) په دې شپه کی روح القدس (جبرائيل عليه السلام) هم راکوزيږی ، له نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی: چې جبرائيل عليه السلام له يوې ټولۍ دملائکو سره راکوزيږی ، کوم شخص چې په عبادت مشغول وی دهغه لپاره درحمت دعاوې کوي(بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ) دخدای جل جلاله په حکم له هر خير سره راکوزيږی په مظاهرحق کی ليکلي دی چې په دې شپه کی دملائکو پيدائشت شوی دی ، دحضرت آدم عليه السلام دمادی جمع کيدل په دې شپه کی شروع شوی ده او په دې شپه په جنت کی ذرختې کرل شوې دی ،ددعاو قبليدل په ډيرو احاديثو کی راغلی دی . او په يوه روايت کی راغلی دی چې په دې شپه عيسی عليه السلام اسمان ته ختلی دی او په دې شپه دبنی اسرائيلو توبه قبوله شوی ده . (سَلَامٌ هِيَ) داشپه سر تر پايه سالمه ده يعنی دفرشتو له لوري په مؤمنانو سلام وې تر دې چې يوه ټولۍ دملائکو ځي او بله راځي (حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ) داټوله شپه دبرکتونو انو رحمتونو سره وی تر څو چې سپيدی راوخيژی ، داسې نه چې دشپې په يوه

برخه کی برکت وی او په بله کی نه وې بلکه تر صبح صادق پورې ددې برکاتونه ظهور وی. (فضائل رمضان المبارک ص ۳۷ ومعارف القرآن ص۷۹۱ توک ۸)

دیوه سوال ځواب: دقدر شپه تر زرو شپو اولی بلل شوی ده ظاهرده چې په دې زرو میاشتو کی هر کال دقدر شپه هم راځی نوحساب به څنګه کوودتفسیر علماؤ ویلی دی چې دلته له زرو میاشتو هغه مراد دی چې پکښی دقدر شپه نه وی په دې لحاظ هیڅ مشکل نشته. (معارف القرآن ص ۷۹۲ توک ۸)

داچې ویل کیږی چې دقدر شپه تر زرو میاشتو اولی ده، ددې مطلب دادی چې دزرو میاشتو په اندازه کښی چې څومره عبادت کیږی ددې شپې دعبادت تر دې زیات ثواب دی او څونه؟ داخدای جل جلاله ته معلومه ده کوم شی ته چې الله جل جلاله ډیر زیات ویلي وي دهغه زیاتوالی یې څه اندازه وې ددنیا دخلکو دستور دی چې یوه اندازه زیات شی ته په ډیروالی قائل وی او تر هغه بل زیات شی زیات نه بولی، یو په ظاهره ژور شی ډیر ژور بولی.یوه داخبره هم ده چې په هغه زمانه کی په عربو کی تر زرو زیات حساب نه وو لکه څنګه چې له ۱۰۰۰زر کاله مخکی په دنیا کی د ۱۰۰ سیکړو ډیر اهمیت وو او نن؟څنګه چې قرانکریم دهغوی په ژبه وو او دهغوی له لهجې سره برابر وو بیا نوڅنګه تر زرو زیات ویلای شوای؟ ځکه یې دهغوی دحساب اخیري درجه وویله دنورې ترقی لپاره الله جل جلاله دونه وویل چې ((تر دې هم زیات)) اوس تر دې دزیادت امکان نشته، کروړ، ارب، کهرب، نیل و سنګ اومهاسنګ ټوله دی زیادت لاندی دې ګواکی چې دقدر دشپې دفضیلت هیڅ حد نشته. (محمد رفعت قاسمی غفرنه)

ایا په ټوله دنیا کښی په یوه شپه کښی دقدر شپه وی؟

مسئله : دمطالعو داختلاف په سبب سره په مختلفو مملکتوکی دقدر شپه په مختلفو تاریخو وی په دې کی هیڅ مشکل نشته ځکه چې په هر ځای کی دقدر دشپې تاریخ وی په همهغه شپه دقدر برکات حاصلیږی (والله سبحانه تعالی اعلم)

مسئله:کوم څوک چې دقدر په شپه دماخستن او سهار لمونځ په جماعت سره اداکړی بس دهمدې شپې ثواب یې پیداکړ چاچې زیات عبادت وکړ زیات ثواب ورکول کیږی. په صحیح مسلم کښی له عثمان غنی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل: کوم شخص چې دماخستن لمونځ په جماعت سره ادا کړي ګواکی دنیمې شپې دقیام ثواب یې پیداکړ او چاچې دسهار لمونځ هم په جماعت سره اداکړ ګواکی دټولې شپې دقیام او عبادت ثواب یې حاصل کړ. (معارف القرآن ص ۷۹۲ توک ۸)

دقدر دشپې معنی

دقدر معنی شرف او عظمت ده .ودې شپې ته لیلة القدر ویل ددې شپې دعظمت په وجه ده حضرت ابوبکر وراق رحمة الله علیه ویلی دی چې ودې شپې ته لیلةالقدر (دقدر شپه) ځکه ویل کیږی چې دکوم شخص تردې شپې مخکې دبې علمی په وجه هیڅ قدر او قیمت نه وو . په دې شپه دتوبې ،استغفار او عبادت په وجه داشخص هم دقدر او شرف خاوند کیږی.

دقدر بله معنی تقدیر او حکم هم کیږی ددی معنی په اعتبار دلیلة القدر دویلو وجه داده چې په دې شپه دټول مخلوق لپاره کوم ازلې تقدیر لیکل کیږی دبنده چې کومه برخه له دې رمضان المبارک تر بله رمضانه پورې ده هغو ملائکو ته حواله کیږی کومی چې دتدبیر او تنفیذ لپاره مامورې دی .کوم علماء کرام چې له لیلة المبارکة څخه دشعبان پنځلسمه شپه مرادوی ، دهغې تطبیق دادی چې ابتداء فیصله دامورو په اجمالی شکل په دې شپه

کيږي او تفصيلات يې دليلة القدر په شپه کوم چې درمضان المبارک په مياشت کښې ده ليکل کيږي ددې تائيد دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه په يوه قول سره کيږي ،چې الله جل جلاله دټول کال داموړو فيصله دبرات په پنځلمسه شپه کوي بيا دقدر په شپه دفيصلې مطابق فرشتو ته سپارل کيږي. (تفسير مظهری)

دامو مخکې هم ليکلي ووچې داموړو دفيصلې په دې شپه مطلب دادی چې په دې کال کې چې کوم امور نافذ کيږي ، هغه له لوح محفوظ څخه نقل کيږي او ملائکو ته حواله کيږي او اصلا خوداټول تقديرونه په ازل کښې ليکل شوي دي. (معارف القران ص۷۹۲ توک ۸) ۹۳

دقدر شپه څه ده؟

درمضان المبارک په شپو کښې يوې شپې ته دقدر شپه ويل کيږي چې ډيره دخير او برکت شپه ده په قران کريم کې دا شپه تر زرو شپو ښه بللی شوې ده زر مياشتې درې اتيا کاله او څلور مياشتې کيږي.نيکبخته ته دی هغه څوک چې داشپه په عبادت کې تيره کړي او دابرکات يې نصيب شي ګواکي درې اتيا کاله څلور مياشتې يې په عبادت کښې تيرې کړي ، او دزياتوالي يې حال نه دی معلوم چې زر مياشتې تر څو مياشتو افضل دي (دعربو په محاوره کښې ترزرو زيات عدد نه وو) الله جل جلاله په حقيقت سره ډير لوی انعام پر خپل قدرمن مخلوق کړی دی په در منثور کې له انس رضی الله تعالی عنه څخه روايت نقل شوی دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وويل: دقدر په شپه الله جل جلاله زما پر امت يو خاص رحمت کړی دی چې پر نورو امتونو باندې نه وو په دې باره کې مختلف روايات دي چې ددې نعمت سبب څه وو. په ځينو احاديثو کې راغلي دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم دتيرو امتو عمرونو ته فکروکړچې ډير زيات وو په دې خفه

شو چې زما دامت عمرونه ډیر کم دی او په دې کم عمر کی ددومره زیات عبادت امکان نشته . کله چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم خفه شو نو الله جل جلاله ددې مبارکې شپې برکت یې امت ته ور په برخه کړ ،که کوم نیکبخته دقدر (لس کاله یوه دقدر شپه) عبادت وکړ ترددې اتیاکاله ځلورو میاشتو څخه هم زیاتیږی . په بعضو روایاتو کی راغلی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دبنی اسرائیلو دیوه شخص ذکر کاوو ویې ویل چې زر میاشتی یې جهاد کړی دی داصحاب کرامو وربانډی غبته پیداشوه الله جل جلاله ددوی دجبیرې لپاره داشپه ورکړه په یوه روایت کی راغلی دی نبی کریم صلی الله علیه وسلم دبنی اسرائیلو دځلورو اشخاصو ذکر وکړ: حضرت ایوب حضرت زکریا حضرت حذقیل او حضرت یوشع علیهم السلام چې دې ټولو انبیاؤ اتیا کاله دالله جل جلاله په عبادت کی تیر کړی وو او دیوې زرې برابر یې هم دخدای جل جلاله نافرمانې نه ده کړې.
ودی ته صحابه کرام حیران شول بیا حضرت جبرائیل علیه السلام حاضر شو او دقدر سورة یې وواېو . له دې څخه علاوه نو هم مختلف روایات شته. دداسې قسم درواياتو داختلاف وجه اکثره داکیږی چې کله دمختلفو واقعاتو وروسته کوم ایت نازل شې ټولو ته ئې نسبت کیدلای شي په هر صورت دسورة دنازلیدو وجه که هر څه وی لیکن دامت محمدی صلی الله علیه وسلم لپاره دادالله جل جلاله ډیر لوی نعمت دی . داهم دالله جل جلاله یوه خاصه عطیه ده او دعمل کولو تو فیق هم تر هغه جل جلاله پوری موقوفه دی. (فضائل رمضان المبارک ص ۳۵ زمظاهر الحق جدید ص ۴۷۹توک ۷)

دقدرې شپه

ددې شپې دفضیلت لپاره که څه هم مستقل سورة نازل شوی دی له دې سره سره دوه حدیثونه دنمونې په ډول ذکر کول غواړم:

عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قام لیلة القدر ایمانا واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه (رواه بخاری ومسلم)

ژباړه له حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل چا چې د قدر شپه له ایمان سره دعبادت په نیت وکړه له دې څخه مخکې ګناهونه ټول ورته معافیږي.

تشریح که چیرې ددنیا کاروبارې ته دامعلومه شي چې په فلانکې میاشت کښې ،مونږ ته نژدې په یوه ښار کښې یوه میله جوړیږي چې تجارت پکښې ډیره ښه ګټه کوي چې یوه روپۍ لس روپۍ ګټې اوټول کال بیاله تجارت څخه څوک خلاصیږي ، تاسو فیصله وکړئ څوک به داپریږدي ؟ که چیرې تاریخ ورته معلوم نه وي په ډیرو پوښتنو ضرور تاریخ معلوموي بیاهم که ورته معلوم نشي څوشپې مخکې هلته ورځي چې دازرینه موقعه راڅخه تیره نشي .اوس دنیکانو دمیلې هم دمؤمنانو لپاره یوه زرینه زمینه مساعده کړې ده . له دومره برکته سره ددې شپې میاشت هم معلومه ده ، بیاداهم معلومه ده چې په لسو اخیروکې ده . شپه ئې ځکه نه ده معلومه کړې چې هغه څوک معلوم شي چې له خدای تعالی سره څومره محبت لرې لکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې به ددې شپې لپاره میاشتې میاشتې اعتکافونه کول . اوچې معلومه شي چې ددې شپې پلټونکی څومره شپې قربانوي ؟ (الترغیب والترهیب ص۹۰ ج۲)

دشپې رونولو مطلب دادي چې عبادت وکړی .لمونځ ، ذکر اوداسې نور ، اودثواب دنیت مطلب ئې وي دشپې رونولو مطلب دادي چې عبادت وکړی ،لمونځ ، ذکر اوداسی نور ، اودثواب دنیت مطلب دادي چې خاص دالله تعالی درضا لپاره کښینی نه دریا اوغرور لپاره محض عاجزې اختیار کړی خطابی علیه الرحمة وایې: چې ددې مطلب دادي چې دثواب یقین به یې وي

اوپه ارام زړه سره پرځان تکلیف راولی ، نه په قرار ه زړه سره . ښکاره خبره ده چې ځومره په اخلاص سره کېښینی هغومره عبادت اسانه کیږی داوجه ده چې ځوک دالله تعالی په محبت کښی بوخت وي دهغه په عبادت کښی هیڅ مشقت نوي. دامعلومول هم ضروري ده چې په مخکښې ، حدیث او نورو حدیثو کښی چې دګناه ذکر ده دعلماء په نزد ګناه صغیره مراد ده ځکه چې په قران کریم کښی چې کله دګناه کبیره ذکر وشې ، ورسره ضرور د (الامن تاب) ذکر کیږي ، په دي بناء علماء کرام وايي چې ګناه کبیره بغیر له توبې څخه نه معافیږی .نوځکه کله چې په حدیث دګناه دمعافیدو ذکر راشی علماء کرام یې په صغیره سره مقیده کوي.دتوبې حقیقت دادي چې پر تیرو ګناهونو پښیماني اوپه آئنده کښی دنه کولو عزم که چېرې لچاڅخه ګناه کبیره وشې دهغه لپاره ضروري ده چې که دقدر شپه یابله دقبولیت زرینه موقع وي باید ضرور دخپلو بداعمالو څخه په پاک زړه سره په ټینګ عزم په زړه اوژبه سره توبه وکړي ترڅوچې الله تعالی له رحمت کامله متوجه شې له صغیره اوکبیره هرقسم ګناهونو څخه توبه وکاږي ترڅولوی خدای تعالی یې توبه قبوله کړي (فضائل رمضان المبارک ص ۳۸).

دملائکو راتګ

عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذاکان لیلة القدر نزل جبریل فی کبکبة من الملئکة یصلون علی کل عبد قائم اوقاعد یذکرالله عزوجل (کذا فی المشکوة).

حضرت انس رضی الله تعالی عنه له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې دقدر په شپه حضرت جبرائیل علیه السلام دفرشتو (ملائکو) له یوې ټولی سره ځمکې ته راکوزیږی اودهغه شخص لپاره دخدای تعالی څخه درحمت غوښتنه کوي چې په عبادت اوذکر مشغول وي.

تشریح دحضرت جبرائیل علیه السلام راتګ له ملائکوسره په قران کریم کښې ثابت دي اوپه ډیرو احادیثو کښې هم په صراحت سره داخبره ذکر شوی ده چې جبرائیل علیه السلام وملائکو ته وظیفه ورکوی چې دهر ذاکر اوشاغل کور ته لاړي شي اومصافحه (روغبړ) ورسره وکړي.

دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه په حدیث کښې راغلی دي چې دجبرائیل علیه السلام په ویلو سره ملائکې جلاجلا شې اوکوم کور کوچنی . یالوی ، ځنګل اودښتی داسې چې مسلمان پکښې وي او هلته ملائکې دمصافحې لپاره نه شې ورتللای لدې څخه مراد دخیر دوعا هم ده اوپخپله روغبړ هم ځینی مراد ده . ځکه چې فرشتې مجسم نور ده ،دنور له وجې مورږ ته په نظر نه راځی محسوسیږی هم نه ، لکه ځنګه چې مړه کیدونکی ته ملک الموت او نورې ملائکې راځې اوخبرې ورسره کوي ، شاید چې نیکانو خلګو ته په نظر ورځی او محسوسیږی هم. (محمدرنعت قاسمی غفرله)

مګر هغه کور ته نه داخلیږی چې پکښې سپی خنزیر یا ناوړه تصویر وي دمسلمانانو اکثره کورونه داسې دي چې دخدای تعالی لدې عظیم نعمت څخه بې برخې دي ځکه چې یوازې دخیالې ښائست لپاره تصویرونه ځړوي ځکه چې تصویر لګونکی ډیر بدبخت وي ، چې دده په سبب سره ټول کور دخدای تعالی له رحمت څخه بې برخې کوي. (فضائل رمضان ص ۴۰)

دقدر دشپې دنامعلوم والي سبب

عن عبادة بن صامت قال خرج النبي صلى الله عليه وسلم ليخبرنا بليلة القدر فتلاحى رجلان من المسلمين فقال خرجت لاخبركم بليلة القدر فتلاحى فلان وفلان فرفعت وعسى ان يكون خيرالكم فالتمسوها في التاسعة والسابعة والخامسة (مشكوة شريف وبخاری)

ژباړه:حضرت عبادة بن صامت رضی الله تعالی عنه وايې چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ددې لپاره دباندی راووتي چې موږ ته دقدر دشپې خبر راکړی لکن ددوو مسلمانانو جنګ وو نبی کريم صلی الله عليه وسلم وويل چې زه ددې لپاره راغلی وم چې تاسوته دشب قدر په باره کښې خبر درکړم .لکن دفلانکي اوفلانکي په مينځ کښې جنګ وو چې دهغه په وجه يې تعيين ورک شو يعنی له ذهنه يې ووتله يوازې دالله تعالی په علم کښې پاته شوه لهذا دنويشتم اوويشتم اوپنځه ويشتم په شپه کښې يې طلب کوئ.

تشريح په دې حديث شريف کښې درې مضامين دغور وړ دي ترټولو اهمه هغه دوو ومسلمانانو جنګ وو داداسې بدشی دی چې ددې په وجه دهميشه لپاره دقدر شپه نامعلومه شوه يوازې دانه بلکه جنګ هميشه دډيرو برکاتو دمحرومی سبب کيږی ، نبی کريم صلی الله عليه وسلم وايې چې ايا زه تاسوته تر صدقه، لمانځه اوترنورو افضل شی وښيم ؟ اصحاب کرام رضی الله تعالی عنهم ورته وويل ، هو ضرور نبی کريم صلی الله عليه وسلم وويل ترټولو افضل په خپل مينځ کښې ښه سلوک دي اوپه خپل مينځ کښې جنګ دين ته نقصان رسوی لکه څنګه چې په (بال صف) سره دسرويښتان يودم صفاکيږی دخپل مينځ دجنګ په سبب سره دين همداسې صفاکيږی (يعنی نيک اعمال ختميږی) نبی کريم صلی الله عليه وسلم دمسلمانانو آبرو و(عزت) خرابول بدترين اوخبيث ترين سودبللی دي ليکن موږ دجنګ په وخت کښې نه دمسلمانو دآبرو ، نه دالله تعالی

او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم داوامیرو لحاظ کوو ، په یوه روایت کښې راغلی دي چې دبرات په شپه دالله تعالی عام رحمت ومخلوق ته متوجه کیږي . او په معمولی بهانو ومخلوق ته مغفرت کوي ، لیکن دوو خلکو ته مغفرت نه کیږي ، یو کافر اوبل حاسد (ضد کوونکی).

په یوه بل روایت کښې راغلي دي چې دري اشخاص دي دکومو چې لمونځ دقبلیدو پخاطر دیوه بالنبت په اندازه هم ترسرنه پورته کیږي . یوله هغو څخه هغه څوک ده چې له مسلمانانو سره جنګ کوي . (فضائل رمضان المبارک ص ۴۳)

بعض حضرات وایي چې له دغو دوو اشخاصو څخه چې په دي ځای کښې یې جنګ وو . دیوه نوم عبدالله ابن ابی حذرد او دبل نوم کعب بن مالک ؤ .

(دشب قدر دنه معلوم والی) مطلب دادي چې ددې دوو خلکو دجنګ په سبب سره زماڅخه دهغه دقدر دشپې دتعین علم محوشو . له دې څخه معلومه شوه چې په خپل مینځ کښې جنګ . نفرت او دښمنې کول ډیر بدشی دي . ددې په وجه سره سړی له برکتو اونعمتو څخه بې برخې کیږي.

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې وینا چې (شاید داستاسو لپاره بهتره وي) مطلب دادي چې دقدر شپه چې ماته متعینه شوی وه ، او اوس راڅخه هیره ده ، که چیرې ماتاسو ته ویلی وای تاسو به یوازې پر دې شپه اکتفا کړې وای اوس چې نامعلومه شوه یوازې دانه چې تاسو به ددې شپې دبیداره کولو لپاره سعې اوکوشش وکړئ بلکه طاعت اوعبادت به هم زیات وکړي . کوم چې ښکاره ده چې ستاسو لپاره ګټه ده . (مظاهر حق جدید ص ۲۸۷ ج ۲)

دقدر دشپې دپټوالی راز

کوم شی چې ډیر قیمتي اواهم وي هغه په ډیرمحنت سره حاصلیږي . نودقدر دشپې په شان داسې لوی دولت څنګه بیله محنته پلاس راځي.

ځکه يې ددې شپې تاريخ نامعلومه کړ د نبی کريم صلی الله عليه وسلم قول دی چې (عسی ان يکون خير لکم) څه معلومه ده دتاريخ په نه معلومولو کښي به ستاسو لپاره خير وي (ابن کثير ص ۵۳۴ ج ۴)
ښکاره خبره ده که يې چېرې تاريخ معلوم شوی وای بيا به يې دومره قدر او برکت نه وای او بل داچې همداشان بيا به يې بې قدرې سخته دبدنصيبی او بده خبره وه مفسر قران علامه ابن کثير رح وايي چې ددې دپټوالی حکمت دادی چې ددې شپې طالب او شوقمن به دټول رمضان المبارک دعبادت اهتمام وکړي. (ابن کثير ص ۵۳۴ توک ۴)
که چېرې دقدر شپه معلومه وای نو ډير کوتاه طبيعته خلګو به دنورو شپو بالکل اهتمام نه وو کړی او په دې صورت کښی دقدر دشپې په لټه ډيرو شپو عبادت ورنصيب کيږي. يوحکمت يې داهم دی چې ډير خلک له ګناه څخه بغير ددې شپې اهتمام نه کوي ،دقدر دشپې دتعين په صورت کی که چېرې له چاڅخه ګناه شوی وای بيا به ډيره داندېښنې خبره وای نبی کريم صلی الله عليه وسلم يوځلی مسجدته تشريف يوړ ويې ليدل چې يو صحابي ويده وو ،نبی کريم صلی الله عليه وسلم وحضرت علی رضی الله تعالی عنه ته وويل چې داويښ کړه چې اودس وکړي ،حضرت علی رضی الله تعالی عنه هغه راپورته کړ ليکن له نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه يې پوښتنه وکړه چې ته خو دخير پکار کی ډير تلوار کوی . تا ولی په خپله نه کړ پورته؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وويل که چېرې دې سړي زما له وينا څخه انکار کړی وای ،زما له وينا څخه انکار کفر ته مفضی کيږي .او ستا له وينا څخه انکار کفر ته نه مفضی کيږي ،نو ځکه الله جل جلاله داشپه پټه کړه خلګ دخدای جل جلاله له رحمته څخه بې برخې نه شي ، که چېرې په تعين سره يو چاګناه کړی وای ، دابه يې ډيره دنافرمانی

خبره وای ، يوه وجه داهم کيدای شي چې که چېري داشپه له چا څخه اتفاقا پاته شوی وای نو په راتلونکو شپو کی به يې افسوس کاوو او دهيڅ شپې عبادت به يي نه وای په نصيب شوی ليکن اوس خو اقلا د رمضان المبارک يوه يادوې شپې دهر چا په نصيب کيږي.يوه نکته داهم ده چې څومره شپې په دې طلب کی تيري شي ددې ټولو مستقل ثواب ورکول کيږي ،له دې څخه علاوه نورې ګټې هم لری ، دداسې امورو په وجه کی دالله جل جلاله عادت داسې جاری دی چې اهم شيان يې پټ کړی دی لکه اسم اعظم .دجمعې دورځی خاص ساعت او داسې نور شيان الله جل جلاله پټ کړی دی ، داهم ممکنه ده چې دجنګ په وجه دشب قدر تعين له مينځه تللی وی او دنورو مصالحو مذکورو وڅخه دهميشه لپاره تعين نه وی . (فضائل رمضان ص ۳۳)

دقدر دشپې علم حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته ورکړل شوی وو

نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته دقدر دشپې علم ورکړل شوی وو (ورته معلوم وو) هغه صلی الله عليه وسلم داصحاب کرام رضی الله عنهم ته دخبر ورکولو لپاره له خپل کور مبارک څخه راووت کله چې يې وليدل چې ددوو مسلمانانو په مسجد نبوی کی جنګ دی دجنګ دختمولو لپاره يې کوشش وکړ هغه وو چې له ذهن مبارک څخه يې ددې شپې تعين له مينځه ولاړ داوو دجنګ قباحت چې په سبب سره ئي داسې زرينه موقع له لاسه ووتله.له دې څخه معلوميږی چې دمسلمانو په مينځ کی جنګ کول خدای جل جلاله ته ډير منفور (ناخوښ دی) له دې سره سره له ډيرو نعمتو ا ورحمتو څخه دبې برخې کيدو سبب ګرزی، بايد ورڅخه ځان وژغورو.

له حضرت محمد صلی الله عليه وسلم څخه دهيريدو په سبب سره بل خير او برکت هم رامينځ ته شو، لکه څنګه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم

پخپله ویلی دي چې دقدر دشپې په لټولو سره دامت دپر دخیراو برکت خبره دد. او ددې شپې فکر او طلب کول یو بل مستقل نعمت دی چې که چېرې داشپه معلومه وای دانعمت به نه وای. (انوار الباري شرح البخاري ص ۱۲۱ټوک ۲)

علامه زمخشري رح ویلی دي چې شاید دقدر دشپې دپټېدو سبب داوی چې هغه څوک چې ددې شپې په تلاش کې وي دکال دډېرې شپې رونوي ترڅو یې ددې ټولو شپو عبادت په نصیب شي. بل داچې که چېرې معلومه وای خلګو به خاص په دې شپه عبادت کاوو دډېر خیر اوبرکت څاوندان کېدل به، دنورو شپو په عبادت کې به یې کوتاهي کوله. څکه داشپه پټه شوه (عمدة القاري ص ۲۲۳ ټوک اول)

ایا دقدر شپه اوس هم باقي ده

حضرت مولانا انور شاه کشمیري رح صاحب محدث دار العلوم دیوبند ویلی دي چې په حدیث کې چې ((فرفعت)) لفظ راغلی دی دلته د قدر دشپې بالکل ختمیدل ورڅخه مراد نه دی بلکه دتعین علم یې پورته شو، که چېرې دقدر شپه پخپله نه وای نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې ددې شپې دتلاش لپاره کوم حکم کړی ددې څه فائده ده؟ (انوار الباري ص ۱۲۱ټوک ۲)

پنځه شپاڼ پټې شوي دي

دشب قدر دشپې قطعي تعین څکه نشته. چې کوم شخص پر دې شپه خاص اکتفاء ونکړي، په دې شپه چې یې کوم عبادت کړی وي تر زرو میاشتو په بنه بللو سره به له نورو عبادت څخه محروم شوی وای. څکه چې ویل به یې چې خدای جل جلاله راته داسې درجه راکړې ده چې په سبب سردې یې جنت ته داخلیږم. ترڅو چې په عبادت کې سست او له الله جل جلاله څخه غافل نه شي څکه داشپه پټه شوه. دمعلومتیا په صورت کې به خلګو دنیوي خواهشات پوره کول. امید به یې وو چې دقدر شپې عبادت کافي

څخه هم بې خبره کړل که چېرې چاته معلومه وای چې زه به په فلانکې تاریخ مرم، بس ددې خواهشات به يې پوره کول او په اخیر کې به یې توبه ایستله عمر يې ځکه نامعلومه کړ چې هر انسان (مسلمان) همیشه په ویره کې وی ښه اعمال کوی ترڅو داخرت سعادت ور په برخه شي.نبی کریم صلی الله علیه وسلم ویلی دی چې پنځه شیان يې د پنځو شیانو په وجه پټ کړل:
اول: دخلکو پر عبادت دخدای جل جلاله رضامندی ښکاره کول
دوهم: دخلکو پر ګناهونو خپل قهر او غضب ښکاره کول
دریم: وسطی لمونځ په نوزو لمونځو کی.
څلورم: خپل دوستان په عامو خلکو کی.
پنځم: درمضان المبارک په میاشت کی دقدر شپه. (غنیة الطالبین ص ۳۸۰)

بدنصیبه څوک دی ؟

ددنیا دخلکو په نظر خو هغه څوک ډیر ناپوه او بدنصیبه او محروم هغه څوک دی چې دکاروبار میاشت هسې بې ګټې تیروي لیکن دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په نزد تر ټولو بد نصیبه هغه څوک دی چې دنیکیو زرینه موقع له لاسه ورکړی او هیڅ عبادت نه کوی لکه چې وایي:

عن انس رضی الله تعالی عنه قَالَ دَخَلَ رَمَضَان فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اِنّ هَذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَ کُمْ فِیْهِ لَیْلَةٌ خَیْرٌ مِنْ اَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حَرَمَ الْخَیْرَ کُلَّهُ وَلَایُحْرِمُ خَیْرَهَا اِلّا مَحْرُوْمٌ . (ابن ماجه ص ۱۲۰ توک ۲)

حضرت انس رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې یو ځلی درمضان المبارک میاشت راغله نبی کریم صلی الله علیه وسلم وویل تاسو ته دامیاشت راغله په کوم کی چې یوه شپه تر زرو میاشتو بهتره ده . کوم

څوک چې د دې شپې له بر کته بې برخې شو ګواکې له ټولو بر کتو بې برخې شو ، او له دې څخه محروم هغه څوک دی چې په رښتیا محروم دی.
یوازې دایمان دکموالی او بدنصیبۍ خبره ده، کنه نو دیوې شپې رونول څه خبره ده؟ ایا اکثره خلګ ټوله شپه ویښ نه وی ؟ ایا اتلس اتلس ساعته مسلسل خلګ په خوړلو څښلو او کارونو بوخت نه وی ؟ مګر ژړا پر دې ده چې دخدای جل جلاله درضا لپاره به څوک پورته شی . دمرګ مخکې ژوند لپاره خو داټول تیاری او بندوبست کوی لیکن دمرګ وروسته ژوند لپاره به څوک تیاری وکړی؟باید ټول دمرګ لپاره تیاری وکړو او توبنه برابره کړی . چې څوک یې نه کوی دهغه په بد بختی کې څه شک دی ؟ چې څوک د شپیتو یا اویا کلو دژوند لپاره شپه او ورځ پرځان یوه کوی په یو رنګه روزی (رزق) پیداکوی،لیکن دلکو او کروړو دژوند لپاره نه بلکه دبې شمیره کلونو دژوند لپاره هیڅ نه کوی . نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې شپې دپیداکولو لپاره درمضان المبارک لمړی لس ورځی اعتکاف وکړ ،بیایې لس ورځی اعتکاف وکړ چې په دې شلو ورځو کې ئې شب قدر پیدا نکړ بیایې په اخیرو لس ورځو کې اعتکف وکړاو ټول عمر یې بیا داداخیری لس ورځی اعتکاف کاوو. (رمضان څنګه تیر کړو ص ۱۵۷ دمشکوة شریف په حواله ص ۱۸۲)

څه معلومه ده چې دشپې دااخری برخه به شب قدر وي

ځینی خلګ دافکر کوی چې ټوله شپه رونول مشکل کار دي ، او په لږ پور ته کیدو کښی څه فائده ده؟ ځکه نوټوله ویده وي . داغلطه ده ځکه چې که اکثره شپه رونه کړی ، انشاء الله ددې شپې فضیلت به یې نصیب شی ، اوټوله شپه رونول څه مشکل ده؟ موږ اوتاسو وینو چې په تیره روژه کښی څومره خلګ ژوندي ؤ خو تل نشته ، اودهغوی لپاره هغه اخیری میاشت دروژې وه ، موږ څه خبر یو چې په راتلونکی میاشت کښی به څوک ژوندي

وي ؟ د دې لپاره که چېرې يو د يا دوې شپې روڼې کړو ځو مره لويه خبره ده که چوله شپه نشو روڼولای اکثره حصه خو بايد روڼه کړو . او که اکثره روڼوو بايد اخيري حصه روڼه کړو ځکه چې په دې وخت کښې په عبادت کښې اسانتياوې او د احصه د شپې ترلمړنۍ حصې افضله هم ده . (رمضان ځنې ده ۱۲۳).

دخدای تعالی حکمت

که چېرې مسلسل دلسو يا پنځو شپو د روڼولو حکم شوی وای ، ډېرو خلګو به د اهمت نه وای کړی که يې کړی وای هم صحت اوبدن ته ډېر تاوان ؤ. ځکه نو الله تعالی په طاق شپو کښې (يوويشتم ، درويشتم) يعنې يوه شپه استراحت او بله شپه عبادت د اتقسيم به په د اسې ډول سره کړی دي چې هم عبادت کيدلای شي او په بله کښې استراحت او ارام کيدلای شي ځکه نو بدن ته هم کوم نقصان نه رسيږي . (روژه مبارکه ځنې ده ؟ ص ۱۵۹).

دقدر شپه کله راځي ؟

عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله عليه وسلم
تَحَرَّوا لَيلَةَ القَدرِ فِی الوِترِ مِنَ العَشرِ الآوَاخِرِ مِن رَمَضَانَ . (مشکوة شريف عن البخاري شريف)
حضرت عائشة رضی الله عنها له نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې ويل يې : دقدر شپه درمضان المبارک د اخيرو لسو په طاق شپو کښې لټوئ.

تشريح دعلماء په نزد داخيري لسو له يوويشتم څخه شروع کيږي عامې مياشتې (۲۹) او يا (۳۰) شپې وي د دې حساب په مطابق د حديث له رويه ، (۲۱.۲۳.۲۵.۲۷.۲۹) شپو کښې شب قدر لټول پکار ده مياشت که (۲۹) يا (۳۰) وي فرق نه کوي.

۱۰۵ : حضرت ابوذر رضی الله تعالی عنه وايي چې ماله نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې دقدر شپه دنبی کريم صلی الله عليه

وسلم ترزماني خاص ده يا وروسته هم وي ؟ نبی کريم صلی الله علیه وسلم وويل چې ترقيامته پورې شته بيا مې پوښتنه وکړه چې درمضان المبارک په کومه حصه کښې ده ؟ نبی کريم صلی الله علیه وسلم وويل په عشره او اول . اوعشره دوهم کښې يې تلاش کړه . بيانبی کريم صلی الله علیه وسلم په خبرو مشغول شو چې بيا مې موقع پيدا کړه ومې پوښتل چې دعشره په کومه برخه کښې ده . نبی کريم صلی الله علیه وسلم دومره ناراضه شو چې نه لدې څخه مخکې دومره غصه شوی وو اونه وروسته ، اوويې ويل چې که دالله تعالی مقصود ښکاره کول واې ولې يې پټوله بس داخير لسو په طاق شپو کښې تلاش وکړه او نوره پوښتنه مه کوه دامام ابو حنيفة رحمه الله قول دې چې دقدر شپه په ټول رمضان المبارک کښې دائره ده .صاحبين وايې چې په ټول رمضان کښې يوه متعينه شپه ده خومعلومه نه ده دامام شافعی رحمه الله راجح قول دادې چې يوويشتم په شپه زيات احتمال پکښې ده امام مالک رحمه الله اوامام احمد حنبل رحمه الله وايې درمضان داخيرولسو په طاق شپو دائره ده چې کله په يوه شپه او کله په بله شپه وي.

دجمهورو علماء رايې داده په اوويشتم زيات اميد دې په هرصورت دهر شخص دخپل همت موافق په ټول کال کښې تلاش کول پکار ده . ممکنه ده له رمضان المبارک دباندې وي . که دامشکل وي درمضان المبارک اخېرې طاق شپې خو ضرورې دې چې رونې شي ، ښه داده چې اخېرې عشره ټوله رونه شي . که داهم نه وي داوويشتم شپه خولازمې چې رونه شي که له چاسره دخداى تعالى خاص رحمت ملګرې شي اودانعمت يې په نصيب شي ددنياترټولو خوښيو اولی ده که پيدانه شي بياهم له اجرڅخه خوخالی نه ده بايد هر مسلمان ورور دماښام اوماخستن لمونځ په جماعت سره ټول کال اداء کړې ، ممکنه چې دشپې قدر په شپه يې هم دالمونځونه په جماعت سره

وشي چې دډېرو جماعتونو ثواب به يې په نصيب شي . دخدای تعالی څومره لوی انعام دي چې ددين په کار کښې چې کوشش وکړي که يې خاص مقصود حاصل نه شي خو بيا هم دکوشش اجرورکول کيږي.
(فضائل رمضان المبارک له ص ۳۹ تر ص ۴۷).

اووه عدد اودقدرشپه

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه وايي چې دقدر دشپې دپيداکولو لپاره په طاق عددو کښې فکر وکړئ او اووه عدده ډير موزون اوبرابر په نظر راغلو . کله چې مې په اوو عددو کښې فکر وکړ راته معلومه شوه چې اسمانونه هم اوځمکې هم دي ، دريابونه هم اووه دي دصفا اومروا ترمينځ سعی هم اووه واره کيږي پرکعبه طواف هم اووه واره کيږي ، اوشيطانان هم په اوو ډبرو ويشتل کيږي دانسانو تخليق هم پراوو اندامو شوی دی . دانسان رزق هم اوه دانې ده دانسان په مخکې بارونه هم اوه دي : دوه غوږونه ، دوې سپږمې دوې سترګې اويوه خوله ، درحم حالتونه هم اووه دي دقران کريم قرائتونه هم اوه دي سجده هم پر اوو اندامو کيږي ددوږخ دروازې هم اوه دي ددوږخ نمونه هم اوه دي ددوږخ طبقې هم اوه دي اصحاف کهف هم اوه دي.دعاد قوم هم په اوو شپو کښې په هوا(باد) هلاک شول . يوسف عليه السلام هم اووه کاله په زندان کښې تير کړل ، ديوسف عليه السلام په قصه کښې ذکر شوی غوايې هم اوه دانې وو ، وچکالې او هم اوه کاله وه آبادي هم اوه کاله وه (دمصر دپاچاخوب اوديوسف عليه السلام تعبير ته اشاره ده) پنځه وخته لمونځونه اولس رکعته کيږي اوالله تعالی وايي چې له حج وروسته اوه روځې ونيسئ . دنسب له مخې له اوو قسم ښځو سره نکاح کول حرام دي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وايي چې کله سپي په يوه لوښې کښې خوله ووهي بايد اووه واره پريمنځل شي .

لمرې په خاورو اوبيا په اوبو سره په سورة انا انزلنا كښې ترسلام لفظ پورې اوويشت حروف دي حضرت ايوب عليه السلام په مصيبت كښې اوه كاله مبتلاء ؤ .حضرت عائشة رضى الله عنها وايې چې كله زه نبى كريم صلى الله عليه وسلم په نكاح كولم زه داوو كلو وم اودگرمۍ ورځې هم اووه وي درې دپهاګن ورځې اوځلور دچست ورځې دي (دا په هندي حساب سره دي) .اوپه همدې ورځو كې گرمۍ پاى ته ورسيده نبى كريم صلى الله عليه وسلم وايې چې زما دامت شهيدان هم اووه رنګه دي: (۱) چې دخداى تعالى په لاره كښې مړشي (۲) چې دطاعون له مرضه مړى شي (۳) چې دسل له مرضه مړشي (۴) چې په اوبو كښې غرق شي (۵) چې په اور كښې وسوځل شي (۶) چې داسهال(امل) په مرض مړشي (۷) هغه ښځه چې پراولاد مړه شي .الله تعالى قسم هم پر اوو شيانو كړى دي(۱) په لمر (۲) دځابنت په وخت(۳) په سپوږمۍ (۴) په شپه(۵)په ورځ (۶) په اسمان(۷) په هغه ذات چې ځمكې اواسمانونه يې پيدا كړى دي (داټول شيان اووه اووه دي) .دحضرت موسى عليه السلام اوږدوالې هم اووه ګزه وو اودعصا اوږدوالى يې هم اووه ګزه وو.

په زړه پورې نتيجه

لدې بيان ځخه ثابته شوه چې داټول شيان الله تعالى اووه اووه پيداكړى دي نوشايد چې درمضان المبارك په اخيرى عشره كښې دقدر شپه د اوويشتم په شپه وي .په قران كريم كښې د(سلم هى حتى مطلع الفجر) كښې دهى لفظ له اوويشتم لفظ وروسته راغلى دي له دې ځخه هم معلومېږي چې دقدر شپه په اوويشتم درمضان المبارک. (غنية الطالبين ص۳۷۸).

د(۲۲) وويشتم په شپه دقران كريم ختمول څنګه دي ؟

سوال درمضان المبارک داخیری عشره په طاق شپو کې دقدر دشپې دپلټلو حکم شوي دي. نو هر کال ددې میاشتې په اوویشتمه شپه خاص عبادت کول ددې شپې خاص قدر کول اوقرانکریم په دې شپه کی ویل بدعت دی کنه ؟ خاص په دې شپه کی زیات عبادت کول او دحافظانو کرامو دقرانکریم ختمول په دې شپه کی څنګه دي؟

جواب دقدر شپه داخیری عشره په طاقو شپو کی دتلاش کولو حکم شوی دی لیکن ډیرو علماؤ له قرانو څخه داوویشتم شپې ته ترجیح ورکړی ده او غالب گمان هم دادی چې داوویشتم شپه ده . لیکن پردې باندی یقین کول صحیح نه دی چې نورې شپې دظن غالب پر بناء نفی کړي . که چېرې داوویشتم په تراویح کی ختم دقران کریم وشی دامستحب دی .لیکن په یقینی توګه دا دقدر شپه بلل او نورې شپې نفیکول بالکل غلط دی .بایدختم هم دهمیشه لپاره په دې شپه کی التزام ونه شی ،عبادت ،تلاوت.لمونځ او په اجتماع سره په مساجدو کی ادا کول بدعت او مکروه دی. (فتاوی محمودیه ص۸۹ ټوک۱۱)

دقدر دشپې علامې

وَمِنْ اَمَارَاتِهَا اَنَّهَا لَيْلَةٌ بُلْجَةٌ صَافِيَةٌ سَاجِيَةٌ لَا حَارَّةٌ وَلَا بَارِدَةٌ كَانَ فِيْهَا قَمَراً سَاطِعاً وَلَا يَتحلُ اَنْ يُرْمَىٰ بِه تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتَّى الصَّبَاحِ وَمِنْ اَمَارَاتِهَا اَنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ صَبِيْحَتُهَا لَا شُعَاعَ لَهَا مُسْتَوِيَةً كَانَّهَا الْقَمَرُ لَيْلَةُ الْبَدْرِ وَحَرَّمَ اللهُ عَلَى الشَّيْطَانِ اَنْ يَّخْرُجَ مَعَهَا يَوْمَئِذٍ . (درمنثورعن احمد والبهیقی)

ژباړه: ددې شپې له نورو علاماتو سره یوه علامه داهم ده چې داشپه به رڼه او روښانه وی پاکه اونرمه . نه ډیره ګرمه (توده) نه ډیره یخه (سړه) بلکه معتدله به وی ، ګواکی دانوارو دډیروالی له وجې به سپوږمی

روښانه وی ۰ په دې شپه کی ترسهاره شیطانان په ستورو نه ولی ،بوه علامه یې داهم ده چې ددې شپې په سهار چې لمر راخیژی بیله له شعلو ځخه به وي .بالکل روښانه به وي لکه دځوارلسم سپوږمی . الله جل جلاله په دې له لمرراختلو شیطان منع کوی(د نورو ورځو په خلاف ځکه چې دلمر له راختلو سره شیطان هم ښکاره کیږي)

تشریح په دې حدیث شریف کې دقدر دشپې یو څوعلامې ذکر شوي دي چې وضاحت ته یې احتیاج نشته ، له دې ځخه علاوه په ډیرو احادیثو کی مختلفې علامې ذکر شوی ،همداشان دهغو نیکبختو له اقوالو ځخه چې ددې شپې فضیلت یې په برخه شوی دی ، ډیر مهمه علامه داده چې کله په دې شپه سهار لمر راخیژی او بغیر له شعلو ځخه راخیژی دا علامه همیشه وی ، له دې علاوه نورې علامې ضرورې اولازمې نه دی. (فضائل رمضان ص ۴۸)

په احادیثو کی دقدر دشپې ډیرې علامې ذکر شوی دی ، په کومه شپه چې داعلامې پیداشوی ښکاره خبرده چې دا دقدر شپه ده.

۱- ترټولو صحیح علامه ددې شپې داده چې کله ددې شپې په سهار لمر راخیژی بالکل داسې وی لکه دځوارلسم سپوږمی تر عامو ورځو یې رڼا یوځه کمه وی . (عینی شرح بخاری ص ۳۲۵ټوک ۵)

داعلامه ډیرو خلګو ازمویلې ده او همیشه پیداکیږی.

۲- دا شپه خلاصه او روښانه وی (مسند احمد رواه العینی ص ۳۲۵)

۳- دا شپه نه ډیره ګرمه نه ډیره یخه وی (ابن کثیر ص ۴۳۱ ټوک ۴)

۴- په دې شپه کی ستورې لر او برنه غورزیږی (ابن کثیر ص ۴۳۱ ټوک ۴) ۱۱۰=

۵- امام ابن جریر طبری رحمه الله له بعض اکابرو ځخه نقل کوی چې په دې شپه کی هر شی په ځمکه پروت وی او سجده کوی او بیا بیرته خپل اصل ته ردیږی (عینی ص ۳۲۵ ټوک ۵)

لیکن داشیان هرچاته نه معلومیږی که څه هم ډیره توجه ورته وکړی

۶- بعض علماؤ دتجربې له مخې ویلی دی چې په دې شپه کی دسمندرونو (دریابونو) او څاه ګانو تروی اوبه خوږې وی (تعرف التذی ص ۳۴۷) داهیڅ دحیرانتیا خبره نه ده . په دې شپه کی دخدای جل جلاله درحمتونو په لړی کښی مسلسل بارانونه هم شروع کیږی ،دانه ده ضروری چې هر وخت او په هر ځای کښی وی.

۷- بعضو خلګو ته یو قسم خاصه روښنائې هم په نظر راځی لیکن هغه خپل حالات لري ،داکومې خاصې علامې نه لرې باید عامو خلګو ته نه شي پیدا (رمضان څشی ده؟ ص ۱۲۰)

دقدر دشپې اعمال

عن عائشة رضی الله عنها قالت قلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم اَرَأیْتَ اِنْ عَلِمْتُ اَیَّ لَیْلَةٍ لَیْلَةُ القَدْرِ مَا اَقُوْلُ فِیْهَا قَالَ قُوْلِیْ اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ العَفْوَ فَاعْفُ عَنِّی (ترمذی وفی المشکوة)

ژباړه: حضرت عائشة رضی الله عنها له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه : ای دخدای تعالی رسوله ! که چیرې ماته دقدر شپه معلومه شي باید کومه دعا وکړم نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ته دادعاوکړه : ای لویه خدای جل جلاله بې شکه چې ته معاف کونکی یې او ته عفوخوښوې ، نوماته هم معافي وکړي (ترمذی مشکوة).

تشریح : دا ډیره جامعه دعا ده ، چې له الله تعالی څخه دګناهونو دمعافولو غوښتنه کیږي . اوهغه بې انشاء الله معافوي . له دې څخه ښه خبره بله کومه ده (فضائل رمضان ص ۴۹).

عبدالمطلب رضی الله تعالی عنه ته وویل : ای عباسه! ای زما قدرمنه اکا ! ایا زه ستا په وړاندې یوه دقدر وړ او قیمتي تحفه وړاندي کړم ؟آیا زه تاته یوه خاصه اومهمه خبره وکړم ؟ آیا زه ستالپاره لس کارونه اولس خدمتونه وکړم ؟ یعنی یوداسې عمل درته وښیم چې تاته لس فائدې ورسوي دایوداسې عمل ده چې په کولو سره به یې خدای تعالی ستا مخکی ، وروسته ، زړې ، نوې ، هیرې ، پیاد ، صغیره ، کبیره ، پټې ، اوښکاره گناوې معاف کړی داعمل صلوة التسبیح دي ، ای گرانه اکا ! که چیرې کولای شې چې هره ورځ دالمونځ وکړې ډیره ښه ده اوداکه نه وي دهرې جمعې په ورځ ، که نه نوپه کال کښې یې یوځلې کوه که داهم نه شې کولای په ټول عمر کښې خویې یوځلې ضروري وکړه (ابوداؤد ابن ماجه).

پدي لمانځه کښې یوه خاصه باریکي

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله دصلوة تسبیح په باره کښې یوه خاصه باریکی لیکلې ده چې حاصل یې دادی چې له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه په لمانځه کښې ډیر اذکار ثابت شوي دي (خصوصا په نفلي لمونځوکښې دالله تعالی دهغو بندگانو لپاره چې ، په لمونځونو کښې داسې اذکار نشي ویلای ، ترڅو چې له دې مبارکو اذکارو څخه بې برخې نشي نو یې صلوة التسبیح لمونځ پیدا کړځکه چې په دې کښې دخدای تعالی ذکر ، تسبیح اوتحمید په زیات شمیر سره راغلی دي ، لکه څنگه چې دایوه کلمه په وار وار ویل کیږي ځکه وعامو خلگو ته مشکل نه وي.

دصلوة التسبیح خاص تاثیر

دلمانځه په سبب سره ګناهونه معافیدل اودمعصیاتو له ناپاکې څخه پاکیدل په اصولي توګه له قران کریم څخه ثابتیږي : (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ (سورة هود پاره ۱۲)
لیکن په دې تاثیر کښې چې د(صلوة التسبیح) خاص مقام اومرتبه ده ، دحضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنه په پورتني حدیث کښې ذکر شوې ده ، یعنی ددې لمانځه په سبب سره الله تعالی دبنده ، مخکې ، وروسته ، زړې نوې هیرې ، یا دې ، صغیره ، کبیره پټې اوښکاره ټولې ګناوې معافوی .اوپه یوه روایت کښې راغلی دې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه صحابی) حضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنه ته دصلوة تسبیح له ښوولو وروسته وویل:
(فَانَّكَ لَوكُنْتَ اَعْظَمَ اَهْلِ الاَرْضِ ذَنْباً غُفِرَلَكَ بِذَالِكَ ،
یعنی که ته چیرې ترټولو ګنهګار شې ، بیاهم ددې لمانځه په برکت سره به تاته الله تعالی بخښنه وکړي . (معارف الحدیث ص ۳۷۳ ج ۳)
دبعض محققینو علماؤ قول دې چې له دې قدراوفضیلت معلومیدلو وروسته که څوک دالمونځ نه اداء کوي معلومه ده چې له دې سرې سره ددین قدر نشته . (شامی علم الفقه ص ۴۹ ج ۲).

دصلوة التسبیح ثواب عام دې

سوال : دصلوة التسبیح ثواب لکه څرنګه ، چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپل اکا حضرت عباس رضی الله تعالی عنه ته ویلی دې آیا نورو مسلمانانو ته هم داسې ده که نه ؟

جواب: په حدیث شریف کښې راغلي دي (انما الاعمال بالنیات). مشکوة شریف کتاب الایمان)

بېشکه عملونه په نيتونو سره دي ، که چېرې څوک خاص دخدای تعالی درضالپاره دالمونځ وکړي ، الله تعالی هرومرو ثواب ورکوي لکه څنګه چې حضرت عباس رضی الله تعالی عنه ته تعليم ورکړل شوی دي دادهغه صلی الله عليه وسلم خصوصيت نه وو . لکه څرنګه چې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم دنورو دعاو اواعمالو تعليم عام وو. (فتاوی دارالعلوم ۳۱۳ ج ۴).

دصلوة التسبيح جماعت

دنفلو لمونځو جمع که صلوة التسبيح يابل نفل وي په خاصه غوبښتنه اواهتمام سره ئي کول مکروه دي . (فتاوی دار لعلوم ص ۳۱۳ ج ۴ بحر له درمختار ص ۳۲۳ نوک باب الوتر والنوافل)

دتعليم په غرض جماعت کول

سوال که درمضان المبارک په اخېري جمعه کښې صلوة التسبيح په جماعت سره وشي ددې شرعي حکم څه دي ؟ امام داوايي چې جاهل (ناخبره) خلګ صلوة التسبيح نه شي کولای ، ځکه نو دامام په متابعت ورته ثواب ورکول کيږي.

ځواب: ددې هيڅ اصل نشته ، په دې سره دقضاشوو لمونځوکفاره نه کيږي دامام دافکر غلط دي ، داعمل بدعت دي. (فتاوای دارالعلوم ص ۳۱۴ ج ۴).

په دې لمانځه کښې دلاس نيولو کيفيت

سوال دصلوة التسبيح په قومه کښې لاس ترنامه لاندې نيول کيږي اوکه هسې پرېښودل کيږي ؟

ځواب: خلاص نيول هم رواج دي . (فتاوی دارالعلوم ص ۳۱۳ ج ۴)

دصلوة التسبيح طريقه

صلوة التسبيح څلور رکعته له نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه منقول دي اولی داده چې څلور سره په يوه سلام سره و شي ، که په دوو سلامو سره

وشي بیاهم روا ده یعنې په یوه نیت سره څلور رکعته هم کولای شي اودوه رکعته هم کولای شي .په هررکعت کښې پنځه اویا (۷۵) واره سبحان الله ویل کیږي چې په ټول لمانځه کښې درې سوه واره کیږي . دلمانځه کولو ترتیب یې دادي چې نیت وکړی (نویت ان اصلی اربع رکعات صلوة التسبیح) یا په پښتو داسې ووایې چې نیت کوم دڅلورو رکعتو لمونځ دصلوة التسبیح) یا په زړه کښې ذافکر وکړي چې په ژبه ویلو ته ضرورت نشته ، تکبیر تحریمه دي ووایې لاسونه دي ونیسي (سبحنک اللهم دي بشپړه ووایې . بیا دي بغیر له لاسو خلاصولو پنځلس وارد داکلمه ووایي (سبحان الله والحمد لله ولااله الا الله والله اکبر بیا دي اعوذ بالله اوبسم الله او الحمد لله بشپړه ووایې یوسورة دي هم ورسره ووایې بیا دي لس ځله همدا کلمه ووایې بیا دې رکوع وکړي . اوپه قومه کښې دي له سمع الله لمن حمده اوربنالک الحمد وروسته لس ځله ووایې بیا دې په لمړی سجده جلسه اودوهمه سجده کښې لس لس ځله ووایې بیا په دوهم رکعت کښې ترالحمد لله مخکې پنځلس واره اوترالحمد اوسورة وروسته دې هم لس واره ووایې بیا په رکوع ، قومه دواړو سجدو اوجلسه کښې لس لس ځله.

په یوه روایت کښې راغلي دي چې له سبحانک اللهم وروسته داکلمه نه ویل کیږي بلکه له الحمد لله اوسورة وروسته پنځلس ځله اوله دوهمې سجدې وروسته کښینستل او لس ځله دي ووایې اوپه دوهم رکعت کښې هم له الحمد لله اوسورة وروسته پنځلس واره اوله التحیات څخه وروسته لس واره ویل کیږي . همداشان په دریم اوڅلورم رکعت کښې هم له درود شریف څخه وروسته لس واره ، نورې تسبیح په خپل ځای کښې ویل کیږي . دادواړې طریقې په ترمذي کښې ذکر شوي دي . هرروایت چې دچاخوښ

وي عمل پرې کولای شي اواولی داده چې کله پریوه روایت اوکله پربل روایت عمل وکړي . (شامی)

دتسبیحاتو دحساب طریقه

ددې لمانځه تسبیحات څنګه په یوخاص عدد سره پکار دي څکه چې په ولاړې کښې (۲۵،۱۵) څله ویل کیږي اوپه نورو ځایو کښې لس لس ځله څکه نودحساب ضرورت دي که چېرې فکر دحساب لورته شي په لمانځه کښې خشوع له مینځه ځي څکه نوفقهاؤ کرامو ویلي دي چې دحساب لپاره کومه علامه پکار ده مثلا چې یوځل یې ووایې پریوه ګوته دي زور کوي همداشان دې تول شمیرپوره کوي که څوک بیله له کومې علامې څخه تول تسبیح په ذهن کښې تیولای شي په دې شرط چې نور لمونځ ترینه هیرنه شي . ډیره ښه دده . (شامی . علم الفقه ص ۵ ج ۲)

که ئې په لمانځه کښې تسبیح هیرې شي ؟

که چېرې تسبیح په یود ځای کښې یوڅه هیر شي . په بل داسې ځای کښې باید وویل شي چې ددغه ځای په مثل وي . په دې شرط چې دادوهم ځای دې ددې تسبیحاتو په ویلو سره ترمخکې لوی نه شي او ددې لویه دل ترمخکښې ځای منع وي . مثلا : قومه لویه دل ترركوع منع ده یعنې کومې تسبیح چې په رکوع کښې پاتې شي په قومه کښې نه ویل کیږي . بلکه په لمړنی سجده کښې ویل کیږي دجلسې لویه دل ترسجدو منع ده نوڅکه دسجدې تسبیح چې پاته شي په جلسه کښې نه ویل کیږي . باید په بله سجده کښې وویل شي . (علم الفقه ص ۵۰ ج ۲)

په صلوة تسبیح کښې که په یوه رکن کښې تسبیح پاته شي په بل ځای کښې دې ووایي . لکن په رکوع کښې که چېرې تسبیح پاته شي په قومه کښې

دي نه وايي بلکه په بله سجده کښې دي وو ايي ځکه قومه او جلسه په نورو تسبيح ويلو سره لوېږي. (فتاوی رحیمیه ص۲۴۲ ج ۱)

تمّت بالخير

اللهم وفقنا بعمل يحبک فی ليلة القدر والبراءة ايمانا واحتسابا بحرمة سيد الانبياء والمرسلين والصلوة والسلام عليه وعلى اله وازواجه واصحابه واتباعه الى يوم القيامة والذين آمين يارب العالمين

محمد رفعت قاسمي غفرله مدرس دارالعلوم ديوبند (انډيا)

مؤرخه (۲۰) رجب (۱۴۱۲) هجري.

مطابق (۲۷) جنوري (۱۹۹۲) عيسوي.

دژباړې پای: (۹) رجب (۱۴۲۷)

دپنج شنبې ورځ داگست (۲۰۰۶/۳)

لويه خدايه جل جلاله ددې کتاب مؤلف، مترجم. ليکونکي. تصحيح کونکي، چاپونکي، خرڅونکي. اخيستونکي. کتونکي، بل ته ښوونکي. رسونکي اوچې په هر ه برخه کې ئې کوشش کړي داټولو ته همدارنګه دهغوی موراوپلار، استاذانو، قريبانواوټولو مسلمانانو ته په خپل خاص رحم هره شپه درحمت نظر وکړې اوهر د شپه ئې شب قدر وګرزوي. ترڅوچې ستارضااوبياهم ستارضائي نصيب شي، ددې ټولو کارونوتوان او توفيق هم تاراکړې. اوتالره دي داسې حمد اوستاينه وي چې له تاسوابل چانه ده کړې اوستاپر هغه بنده اودده پر ملګرو کورنۍ اودوستانو دي صلوة اوسلام وي چې ستا ترټولو زيات خوښ دي او دهغه شفاعت مونصيب کړې. امين يارب العلمين

دنورالقرآن اداري خادم ستا سو ديني ورور:

ابوخالد مولوي عبدالاحد

دلاس ته راوړلو ځايونه

- په خپله مکتبه رشيديه کويټه
- مکتبة العرفان کانسي روډ کويټه
- مکتبه محمديه کانسي روډ کويټه
- مکتبه نور القرآن پښتون اباد خدايداد چوک کويټه
- اسلامي کتاب گهر ستلائټ ټاؤن گول مسجد
- کليم استيشنرز مسلم باغ
- مکتبه نشر القرآن نعيم مارکيټ قلعه سيف الله
- مکتبه عبدالعزيز ژوب
- مکتبه شاه محمد ژوب
- جديد کتب خانه وانه
- الفريدي کتب خانه خانوزئي
- مکتبه محموديه نزد ډاکټر نسيم کلينيک پښين
- مکتبه اسلاميه پښين
- مکتبه رشيديه لورلائي
- مکتبه سراج الدين دکی
- طالب جنرل سټور دکی
- ضياء القران کتب خانه بوغره روډ چمن
- مکتبه حقانيه بوغره روډ چمن
- اسلامي کتب خانه تاج مير روډ چمن
- مکتبه علوم اسلاميه تاج مير روډ چمن
- دارالاخلاص محله جنگي پيښور
- مکتبه غفاريه ارگ بازار قندهار
- مکتبه رشيديه سنگين بازار هلمند

